# ځانځاني ښامار



لیکوال

پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح

Ketabton.com

۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانځاني ښامار

لیکوال: **پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح**
خپروندی: **مجروح فلسفي اکاډمي**
د خپرېدو کال: **۱۳۹۹هـ/ ۲۰۲۱م**
د خپرېدو ډول: **دیجیتال**
ډیزاین: **هارون صافی**
ملاتړ او همکاري: **انسان څېړنیزه موسسه**

یادښت:
د پوهاند مجروح د کتابونو دا مجموعه د انسان څېړنیزې موسسې په همکارۍ چې د مجروح د فلسفي اکاډمۍ اصلي ملاتړی بنسټ دی، بیاځلي خپرېږي.

www.majrooh.org
info@majrooh.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادښت

په ۲۰۰۱م کال کې په افغانستان کې د نوي نظام د پیل راهیسې تر ننه پورې د هېواد د روشنفکرۍ د ډګر یوه مهمه ستونزه د نږدې ۴۰ کلنې انقطاع په پایله کې رامنځته شوې تشه ده چې په پایله کې یې زموږ د اوسني ځوان روشنفکر نسل معرفتي اړیکه د خپلو اسلافو سره شلولې ده. په بل عبارت د افغانستان نوي نسل ته چې په تېرو ۲۰ کلونو کې روزل شوی دی، تاریخ تر ۲۰۰۱ وروسته پیلېږي. دا نسل تر جګړې وړاندې افغانستان کې د تولید شوي معرفت سره ډېره لږه بلدتیا لري او له همدې امله په معرفتي ډګر کې د هېواد د د یوې معلومې او مشهودې جزیرې د بیاځلی پلټنې او کشف په هلو ځلو کې سرګردانه دی. دې ستونزې ته په کتلو سره زموږ یو رسالت دا هم دی چې  د یو ارتباطي پله په توګه نن له پرون سره وصل کړو.

د افغانستان نومیالی فیلسوف، شاعر او لیکوال پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین مجروح د ۱۹۲۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۲مه د کونړ ولایت د اسمار په ولسوالۍ کې وزېږېدلو او د ۱۹۸۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۱مه نېټه په پېښور کې په مرموز ډول شهید شو.

پوهاند مجروح  په فرانسه او جرمني کې د ادبیاتو او فلسفې په ډګر کې د دوکتورا تر کچې زده کړې وکړې او بیا په کابل پوهنتون کې د فلسفې  استاد پاتې شو او تر څنګ یې یو شمېر اداري دندې هم ترسره کړې.

د پوهاند مجروح د زده‌کړو منځپانګه او د ژوند اصلي رسالت د غربي فلسفي مکتبونو او د شرقي – اسلامي فلسفې څخه د یو په زړه پوري سنتېز رامنځته کول وو. مجروح د افغانستان په معاصر تاریخ کې ممکن لومړنی فیلسوف وي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرب فلسفه يې د شرق د عرفان سره په ګډه مطالعه کړه او په پايله کې يې د ځايي معرفت بې سارې متن توليد کړ. په بل ساده عبارت هغه فلسفي مباحث چې نوموړي د فرانسې او جرمني په پوهنتونونو کې لوستلي وو، د افغان انسان لپاره د ځايي معرفت سره پخلا او د عيني واقعيتونو په نظر کې نيولو سره يې په ساده ژبه بيان کړل.

د پوهاند مجروح نږدې ټولو آثارو په مرکز کې د نفس، ژوند او آزادۍ د اصطلاحاتو د معنا او مفهوم پلټنه ده. د بېلګې په ډول « د جبر او اختيار په ډيالکتيک » کې د بېلابېلو فلسفي بحثونو په محور کې د ځانپېژندې او انسانپېژندنې تر څنګ د فلسفي مکتوبونو اړوند مباحث شامل دي چې په ساده پښتو ليکل شوی دی. د پوهاند مجروح تر ټولو مهم اثر بيا «ځانځاني ښامار» دی چې په ٦ دفترونو کې ليکل شوی دی او په فلسفي او سمبوليکه ژبه يې د انسان، ټولنې او سياست په اړه بحث کړی دی. د نوموړي په وينا ځانځاني ښامار د هر هغه بنيادم کيسه ده چې په خپل ځان کې بتان جوړوي او بيا يې عبادت کوي. په حقيقت کې همدا ښامار دی چې هر انسان يې په خپل ځان کې روزي او بلاخره يې همدا په خپل لاس روزل شوی ښامار تر ستونې تېروي.

د محروج فلسفي اکاډيمۍ په پام کې لري چې د ٢٠مې پېړۍددې نوميالي فيلسوف (١٩٢٨- ١٩٨٨) د ٩٣مې کليزې او د ٣٣م تلين په مناسبت د نوموړي يو شمېر آثار په ورړيا ډول خپاره کړي. په دې آثارو کې (د جبر او اختيار ډيالکتيک)، (د ځانځانی ښامار- اژدهای خودی ٦ دفترونه)، (ناآشنا سندرې) او (سيد جمال الدين و برخورد شرق و غرب) کتابونه شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې آثارو د خپرولو اصلي موخه نوي ځوانانو ته د پوهاند مجروح د معرفۍ سربېره په روشنفکري ډگر کې د جگړې وړاندې افغانستان له روشنفکرانو سره د نوي روشنفکر نسل ښلول دي. سربېره پر دې د هېواد په اوسنیو حساسو شرایطو کې پر ټولو فرض ده چې ددې پړاو ځانځاني ښاماران وپېژني. اوسمهال زموږ ټولنه د پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین مجروح آثارو ته تر بل هر وخت ډېره اړتیا لري.

په درنښت

مجروح فلسفي اکاډیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


لړلیک ........................................................................ 6

پیغامونه پټ پراته په افسانو کې ........................................... 9

لاروي: ........................................................................ 15

د محبت الهه .................................................................. 21

ایګو: .......................................................................... 27

الف، اېګو د دنیا مرکز دی: .................................................. 30

ب: اېګو په ځان ټینګ باور لري: ............................................ 31

ج: د نارسیسېزم موضوع: ..................................................... 32

دال: اېګو د نورو په ځپلو کې لویي ویني: .................................. 33

ه، اېګو یوازې د ځان په اړه فکر کوي: ...................................... 34

و، اېګو له نورو سرخه د کشمکش احساس کوي: ............................. 35

ز، د ښامار ستاینځای: ......................................................... 36

ح: د اېګو ولې له ماشومانو سره ورانه ده؟ .................................. 37

ط: اېګو ځان غلطوي: ......................................................... 39

ی، اېګو یوازې پاتیږي: ........................................................ 40

ل، هر چېرته، هر وخت: ..................................................... 41

م: اېګو په وهمونو کې لاهو کیږي ............................................ 42

کوم وهمونه: ................................................................... 42

ن، د اېګو ځپلې ټولنې ځینې ځانګړنې: ....................................... 43

س، مړینه: ..................................................................... 45

د اساطیرو ژبه: ................................................................ 46

د دغه اثر ځینې نورې سبکې ځانګړنې: ....................................... 55

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څو لومړۍ خبرې........................................................... 58
د ښامار سندره: ........................................................... 60
د ښامار (پیغام): ........................................................... 62
د حکیم سنایي غزنوي په درناوي ........................................................... 64
ځانځاني ښامار ........................................................... 66
پرولوګ ........................................................... 68
د ورك سمندر غاړې ........................................................... 68
لومړی څرخ ........................................................... 78
تور ښامار د مرګ په لور ځي ........................................................... 78
لومړی پړاو ........................................................... 80
هغه ښار چې ټول ښاریان یې رنځوران وو ........................................................... 80
لوی فاتح د ټول جهان........................................................... 83
سراعظم........................................................... 89
دویم پړاو........................................................... 98
دمه ځای، چې پکې ځای د دمې نه و........................................................... 98
دریم پړاو ........................................................... 116
د دوزخ له درشل دېخوا ........................................................... 116
رب النوعه الهه د عشق او مینې ........................................................... 117
اژدها ته هر کلی: ........................................................... 119
د اوهامو جهنم۲ ........................................................... 123
څلورم پړاو ........................................................... 136
د دوزخ له درشل هاخوا ........................................................... 136
دوزخیان یاغي یاغي ۱ ........................................................... 139
پرښته د تروږمو: ........................................................... 148

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانځاني ښامار ........................................ 156
دويم څرخ ........................................ 156
يو ځل بيا راستون ښامار شو ........................................ 156
پنځم پړاو ........................................ 158
د ژوندون د چينې غاړه په تورتم کې ........................................ 158
نابلد ملګرى ........................................ 166
د بېلتون شپه تورتم نه وه ........................................ 172
زېږنځاى د ښامارانو: ........................................ 178
سر الاسرار ........................................ 184
شپږم پړاو ........................................ 188
هغه ښار چې تور ښامار ور باندې ناست و ........................................ 188
شاه ليلى په تمه ناسته ګريوان څيرې ........................................ 189
ښار د زړه په سترګو ړوند و ........................................ 193
په ړندو کې يو بينا نوم يې مجنون شو ........................................ 197
د مرګي سيورى روان و ژوندي سري ور پسې تلل ........................................ 218
ابدي څرخ ........................................ 251

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيغامونه پټ پراته په افسانو کې

*اسدالله غضنفر*

ځانځاني ښامار د ازاد شعر په قالب کې سيمبوليک روايت دی. روايت په ادبي اصطلاحاتو کې د هغو خيالي يا واقعي پېښو بيان ته وايي چې ارتباط سره لري. له سيمبوليک روايته منظور دا دی چې په دې اثر کې تر ډېره حده له پېښو، ځايونو، کرکټرونو او مفاهيمو هم لومړی مستقيمه معنا اخلو، هم د پردې شاته معناوې پکې موندلی شو. د ځانځاني ښامار ليکوال پوهاند ډاکټر بهاوالدين مجروح له سيمبوله همدا معنا اخلي او د خپل کتاب په سريزه کې ليکي: « په سيمبول کې ظاهري معنا باطني معنا له ځان سره راکاږي او باطني معنا په ظاهري معنا کې تجسم کوي،د مثال په ډول د کتاب په متن کې چې د (ښار) يا د( دښت) او(صحرا) مفاهيم راغلي دي، په بشپړه سيمبولي معنا را اخيستل شوي دي. د (ښار) څخه مراد په خپله ښار يعنې د خلکو متراکمه ټولنه ده او هم ټولنيز ژوند او اجتماعي روابط او هم د دې ژوند او روابطو تاثير او شورماشور د انسان په ذهن او نفس کې ترې مراد دی. همدا شان دشت او صحرا په خپله دغه محسوس واقعيت دی او هم د يو وچ بې حاصله فکر او د يو بې درده ذهن معنا ترې راولاړيږي.»

سيمبول د هغه مطلب د بيان له پاره چې چندان واضح نه دی او زموږ پوهه ورباندې پوره برلاسې نه ده، ښه ذريعه بلل کيږي. څرنگه چې په دغه کتاب کې د بنيادم د ذهن د سپړلو هڅه کيږي او د ذهن لويه برخه د لا شعور په تياره کې پټه ده نو سيمبول د داسې موضوع د بيان له پاره مناسبه ذريعه ده. موږ خوبونه په سيبموليکه ژبه وينو، مثلاً په نورو باندې د برلاسي ارزو په خوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن د ښار له پاسه د الوت په وسیله ځان ښکاره کړي. داسې ځکه کیږي چې په خوب کې شعور ویده او لا شعور ویښ وي. لاشعور د خپل مبهم او ناڅرګند ماهیت په وجه د خپل ځان د څرګندولو له پاره په سیمبولونو غږیږي.
پوهاند مجروح د ځانځاني ښارمار د موضوع په اړه لیکي:« ځانځاني ښامار د انساني ژور طبیعت د تمرد او عصیان بیان دی او دا واقعیت درې جلا اړخونه لري، یو یې نفسي انفرادي اړخ دی، یو بل یې اجتماعي او سیاسي اړخ دی او درېیم یې د دې دواړو اړخونو ترکیب دی او هغه د انساني موجودیت فلسفي معنا ده؛ نو اوس دا پوښتنه کیږي چې د داسې انساني درې اړخیز واقعیت د بیان د پاره به کومه ژبه او کوم راز کلام مناسب وي؟ د دې پوښتنې ځواب به دا وي چې د دې بیان د پاره دوه لارې شته. یوه هغه لاره ده چې دا درې اړخه جلا،جلا وڅېړل شي او د یو عملي تحلیلي کلام په کومک او د علمي دقیقو مفاهیمو په وسیله بیان شي. بل به یو داسې ترکیبي کلام وي چې عین مضمون او عین بیان دغه درې معناګانې په ځان کې ځای کړای شي او درې واړه معناګانې په یو آن بیان کړی شي. دا کلام شعري ترکیبي کلام دی چې د سیمبولونو او رمزونو څخه کار اخلي. د ریښتیني شعري کلام ارزښت او عمق په سیمبولېزم کې دی.»
دلته وینو چې لیکوال غواړي له یوې کلمې څو معناوې واخلي او دا کار یوازې د سیمبول په وس کې دی، ځکه په عادي ژبه کې خو له هرې کلمې ایکې یوه مستقیمه معنا اخلو. کله چې وایو اوبه نو منظور مو همدا اوبه وي. په استعاره کې مو که څه هم د کلمې مستقیمه معنا منظور نه وي مګر هغه پټه معنا یې ایکې یوه وي. په دې جمله کې چې وایو« په مخ یې ملغلرې بهېدلې » له ملغلرو منظور یوازې اوښکې دي، مګر سیمبول داسې دال دی چې څو مدلوله لري، لکه په ځانځاني ښامار کې چې ښار هم ښار دی او هم نور، نور څه.
ځانځاني ښامار د بل هر روایت غوندې راوي لري. د دې روایت د اولې برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوي يو لاروی دی. دی د خپل سفر پيل داسې بيانوي:

**يوه ورځ د ورځ ماښام خړه تياره وه**
**زه راووتم د ښار له شور ماشوره**
**دروازې د ښار شوې پورې**
**شوم روان د دښت په لوري**
**حال ويجاړې**
**لټولې مې د ورک سمندرغاړې.**

دغه لاروی ولې ماښام راووت؟ ځکه ماښام تياره خپريږي او لږ وروسته بيا سترګې چندان څه نه ويني. راوي نيت کړی دی چې له برسېرن او ظاهري ژونده د ژوند پټې معنا او اصلي بنې ته ورسيږي، يعنې هغه څه ته چې د ورځني ژوند او ظاهري پوهې له رڼا ورهاخوا زموږ د ناخبرۍ په تياره کې پټ دي. ماښام د يو وخت د پای او د يو بل وخت د پيل معنا هم لري. لاروی غواړي ژوند ته په يوه نوي نظر وګوري. ده د سفر په پيل کولو سره د ژوند يو پړاو ختم کړی او يو بل پړاو يې شروع کړی دی. دلته ماښام د دې معنا په رسولو کې هم برخه اخلي.
لاروی ولې د ورک سمندر غاړې لټوي؟ ځکه په سمندر کې اوبه وي، اوبه د ژوند نښه ده. په قرآنکريم کې لولو چې:« وجعلنا من الماء کل شیء حی».
اسکندر هم د تلپاتې ژوند په تياره کې ورکه چينه پسې ګرځېده . خضر چې د دې چينې اوبه څښلې وې په کيسو او افسانو کې يې همېشنی ژوند موندلی دی. زيګمنډ فرويډ وايي چې په خوبونو کې ولادت د اوبو په ذريعه بيانيږي او همدا وجه ده چې څوک اوبه په خوب ويني تعبير يې دا دی چې د اولاد څښتن به شي.
لاروی د ژوند د حقيقت د موندلو له پاره ولې له ښاره راوځي؟ له ښاره منظور

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دی؟ ښکاره منظور خو په خپله ښار دی چې د امن په دېوالونو کې یې اوسو او ځان خوندي احساسوو. ښار زموږ د ټولنې ځای دی. زموږ فکرونه له هغې اجتماع را اخیستل شوي چې پکې ژوند کوو. زموږ ټولنې زموږ مشرانو او زموږ دودونو چې کوم شی ښه بللي موږ هم بې له څه فکره ښه ګڼلي او چې هغوی بد ګڼلي موږ هم په پټو سترګو بد بللي دي. لاروی غواړي په ښار یعنې اجتماع کې د منل شوي فکر او تعبیر له تاثیره را ووځي، د ژوند حقیقت او د انسان په حیث د خپل ځان حقیقت ته ورسیږي، نو ښار په خپلو بندو دروازو او بندو فکرونو کې پرېږدي او د خپل ذهن په بیابان کې سفر پیلوي. دی هڅه کوي چې د یو انسان په توګه د خپل وجود هغه تل ته لاره وکړي چې هېر کړی غونډې یې دی او پردی ورته ښکاري. ښار دلته د بنیادم د شعور معنا هم لري. هغه څه چې زموږ په ذهن کې دي او ترې خبر نه یو موږ لاشعور دی.

نامتو ارواپوه زیګمنډ فروید وايي چې د انسان ذهن د یخ داسې ټوټې ته ورته دی چې نهه برخې تر اوبو لاندې او یوازې یوه برخه یې راوتلې وي. معنا دا چې د ذهن صرف ډېره وړه برخه بیداره او هوښیاره ده. ارواپوهنې ثابته کړې ده چې زموږ خوی او شخصیت د ناهوښیار ذهن او ضمیر یعنې لاشعور تر اثر لاندې دی. زموږ اصلي څېره تر ډېره حده په لا شعور کې پټه ده، هغه څېره چې زموږ نه خوښیږي او هېره کړې مو ده. د ځانځاني ښامار له اقتباس شوي متنه څو پاڼې وروسته [د ۱۳۸۵ کال چاپ په اتلسم مخ کې] لاروی وايي چې زموږ ښار په بیابان کې د کوچیني ځای مثال لري چې که له رېګستانه توپان راشي، لاندې به یې کړي، یعنې لا شعور کولای شي چې شعور (ښامار) تباه کړي.

په دې ډول وینو چې د ځانځاني ښامار د متن لړ تر لړه اصلي کلمې او اصلي پېښې سیمبولیکې او څو اړخیزې معناوې لري. دا یوازې د فرد د حقیقت د موندلو سفر نه دی بلکې دلته د ټولنې د حقیقت او د انسان د فلسفي مفهوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لټون هم روان دی.

لکه څنګه چې مو وویل په لا شعور کې زموږ اصلي څېره پټه ده. زموږ اصلي څېره چې په ټولنه کې د ظلمونو، دروغو او ریاکاریو په وجه او زموږ د برلاسي غوښتونکي او ځان ماري خودپست خوی په وجه له عقدو ډکه ده، موږ د خپل شعور له ساحې ایستلې او د لا شعور تورې سمڅې ته مو تمبولې ده. پوهاند مجروح د لاشعور سمڅه چې د بنیادم د ځپل شویو غوښتنو ښامار پکې زیږي، د نکلونو د انداز په مرسته دا رنګه انځوروي:

**« وایي، وایي**

**یو لوی غار دی چېرته پټ پروت**

**توره خوله یې هیبتناکه، ننوتې ځمکې تل ته**

**رسېدلې د دوزخ ناشنا درشل ته**

**نیمه شپه ترې ډارونکې ارواګانې وځي ځینه**

**غرو غونډو کې ننوځي**

**ژوندي کېږي لوی کونډونه، ګړنګونه**

**تور دېوان ترې نه جوړیږي**

**د وچ رود کوږ وږ بستر هم**

**راژوندی شي اژدها شي**

**بیا روان د دشت پر لور شي**

**کله،کله هم نژدې ځي د ښار پورې دروازو ته.»**

دلته ظالم ټولنیز نظام ته هم چې خپلو وګړیو ته حق او ازادي نه ورکوي یو خبرداری شته، یعنې د عقدو او کینو ښاماران ممکن د ټولنیز نظام د بربادۍ په نیت د ښار په لور حرکت وکړي.

په دغه روایت کې وینو چې د انسان سیاسي، اجتماعي او نفساني حقایق یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځايي بيانيږي؛ البته نفساني عامل مهم ګڼل کيږي او راوي د روايت په ابتدا کې دا وايي چې:

**جهنم نه چېرته لرې دی نه پټ په بل جـهان کې**
**جهنم د هر انسان دی هر انسان ته په خپل ځان کې**

نو د هغه روايت د پېژندلو له پاره چې د ستونزې سرچينه د بنيادم په نفس کې ګڼي، بهتره ده ارواپوهنيزه کره کتنه هېره نه کړو.
ارواپوهنيزه کره کتنه معمولاً د زيګمنډ فرويډ نظرياتو ته په پام سره کيږي.
فرويډ په ۱۹۳۹ ميلادي کال په درې اتيا کلنۍ کې ومړ. د ده په مړينه که څه هم ډېره موده تيريږي خو لا تر اوسه د اروپوهنې د ډګر ترټولو مهم او اغېزمن کس دی. نوې اروپوهنې ته د فرويډ تر ټولو لوی خدمت د وګړي د ذهن په لاشعوري اړخ باندې ټينګار بلل شوی دی. ده ثابته کړه چې د وګړي عملونه، فکرونه، عادتونه او غوښتنې بې له دې چې په ځان پوی شي د لاشعور تر اغېز لاندې دي. بنيادم خپله هره غوښتنه چې ورباندې ځوريږي د خپل ياد او شعور له ساحې باسي لاشعور ته يې ټېل وهي او هلته يې بندي کوي. بنيادم خپلې ګڼې غوښتنې او خاطرې ځکه له خپل شعوره شړي چې د ده له وجدان، کورنۍ روزنې، دودونو، عقيدو او اقدارو سره په ټکر کې وي. د فرويډ په نظر کله چې د لا شعور په سمڅه کې ايسارې غوښتنې ډېرې زورورې او د شعور ساحې ته د راتلو له پاره يې فشار ډېر شي نو وګړي ته روحي ناروغي پيدا کيږي. ځانځاني ښامار د همدې ناروغي داستان دی. موږ به د فرويډ د اروپوهنې په رڼا کې په دې اثر نورې خبرې هم وکړو خو اوس به دا وګورو چې د دې روايت جوړښت په څه شکل دی؟
په دغه روايت کې پېښې تکراريږي او دغه شی څو تعبيره لرلای شي. يو خو دا چې پېښې که څه هم په ظاهره په ښار او بيابان او سمڅه کې واقع کيږي مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې ټولې ذهني تجربې دي. هغه څه چې پرون په ذهن کې وو نن ممکن بیا په ذهن کې راتېر شي. بله دا چې د پېښو په تکرار سره مو دې ټکي ته لا ښه پام کیږي چې دغه کیسه په هر وخت کې د هر انسان کیسه ده.
کتاب له لویه سره په دوو برخو وېشل شوی دی. لیکوال اوله برخه اول څرخ او دوهمه دوهم څرخ بللې ده.
په دې اثر کې درې کرکټره اصلي رول لوبوي: لاروی، ایګو او د محبت الهه. دوی هم بېل کسان او هم د یو کس د ذهن بېلو- بېلو ځانګړنو استازي بللای شو؛ لکه په ګڼو تمثیلي کیسو کې چې مختلف ژوي د انسان د مختلفو خویونو استازیتوب کوي، مثلاً په ځنګل کې زمری ممکن د انسان د زړورتوب، ګیدړه یې د چل او مکر او لېوه یې د بې رحمي ښووندې وي.
د محبت الهه له نورو سره د بنیادم د مینې جذبه ده او ایګو د ځان ماري او ځان ولي تمایل دی چې انسان له نورو انسانانو پردی کوي او خودخواه، بې لحاظه، په ځان مین کس ورنه جوړوي.لاروی د انسان هغه هڅه ده چې د ځان د پېژندلو له پاره یې کوي.
کله چې د ځانځاني ښامار له متنه سیاسي او اجتماعي معنا اخلو، بیا کولای شو هر کرکټر ځانته کس وبولو. مثلاً ایګو په ټولنه کې د هغو کسانو استازی دی چې ځان ویني بل نه ویني او لاروی د ټولنې د هغو کسانو نمایندګي کوي چې د حقایقو د موندلو او د خلکو د خبرولو فکر ورسره وي.

## لاروي:

ځانځاني ښامار د ده په روایت پیلیږي. دی راته د خپل سفر کیسه کوي وایي ماښام له ښاره راووتم بیابان مې کچ کړ، د یوې سمڅې خولې ته راورسېدم...
لاروی د سمڅې خولې ته نژدې ودان شوي ښار کنډوالې ویني، له ځان سره وایي چې کاشکې څوک راپیدا شي د دې ښار د ژوند کیسه راته وکړي. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د یو جنت خاورین خاورین تر عنوان لاندې د ښار سرګذشت بیانیږي، د پیل جمله یې دا ده: **وایي دلته پخوا ښکلی ښایسته ښار و.**
څوک وایي؟ لوستوکي خو څوک ونه لیدل چې لاروي ته راغلی او دا بیان یې تېر کړی وي. دا په حقیقت کې پخپله لاروی دی چې د خپل ذهن ژورو ته کوز شوی او د ژوند یو پټ حقیقت یې موندلی دی؛ لکه څوک چې سپېرې خاورې پلټي او خزانه پکې مومي، دغسې د انسان په ذهن کې ډېر څه شته چې د غور او دقت په مټ یې موندلی شي او څرنګه چې دغه څه د ده په حاضر ذهن کې نه وي نو ګومان کوي چې د ده نه بلکې د بل ځای او بل چا خبرې دي.
اروابناد حمزه شینواری فرمایي:

چې خپل غزل د چا نه واورم حمزه
وایمه چا هسې وینا کړې ده

په دوهم څرخ کې لاروی د متکلم په حیث یو ځل بیا پیدا کیږي خو له څو جملو وروسته خپل ځای غایب (درېیم ګړي) راوي ته ورکوي. په اول څرخ کې راوي د ځان او نورو په باره کې خبرې کولې خو په دوهم څرخ کې یو بل غایب څوک د لاروي په اړه غږیږي چې سمڅې ته ننوځي، هلته مهم حقایق مومي او له هغو څخه د خلکو د خبرولو له پاره ښار ته ستنیږي.
د لاروي په ژوند او سرګذشت کې ځینې مهم ټکي دا دي:
**الف، اراده:** لاروی هغه څوک دی چې د ژوند، ټولنې او دنیا په باره کې حقایق مومي، وصال ته رسیږي او لوی کارونه کوي. د ده د بریاوو اصلي وجه دا ده چې دی هوډمن سړی دی، د نورو غوندې د ښار په دېوالونو کې ځان نه ایساروي بلکې د سختو سفرونو عزم کوي. لکه څنګه چې ارواپوهان وایي که بنیادم کلکه اراده ولري د خپل روحي زوال مخه نیولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب، د خاطرو ډېوه:** خو هغه کسان چې په روحي لحاظ بالکل تباه شوي وي( لکه لېوني، یا د هیټلر او ستالین به څېر کسان چې ډېر خونونه یې کړي دي، یا د وطن لوی خونکاران چې د قتل و قتال له پاره همېشه په پلمو پسې ګرځي.)د هغو رغېدل ناشوني دي. هغوی د ژغورنې سفر نه شي کولای. د لاروي په وجود کې د پاکي، سپېڅلتیا او انساني عواطفو ډېوه لا بله وه چې د ژغورنې سفر یې پیل کړ. دی چې له ښاره راوځي راته وایي:

**بیابان و، تروږمۍ وه، توره شپه وه**

**خو له ما سره د ننه یوه ډېوه وه بلېدله**

**دا ډېوه د تېر وختونو خاطره وه.**

**انسانان مې لا لیدل د خیال په سترګو**

**د غمجنو فریادونه، ډک له قهره اوازونه**

**غږ د مینې محبت مې لا تر غوږ** و... ۱۳ مخ

کله چې د غسې ډېوه مړه شي بیا نو نور بنیادمان، بنیادمان نه بلکې وسایل ښکاري. موږ له خاورو خښتې جوړوو، خښتې په بټۍ کې پخوو، بیا یې یو د بل د پاسه ږدو چې دېوال ودروو، خو په روحي لحاظ تباه شوي بنیادمان ممکن د ارزو د ماڼۍ د جوړولو له پاره د بنیادمانو غوښې، وینې او عزت په بې غمه زړه مصرف کړي.

**ج) د نورو غم لرل:** د انساني عواطفو د لرلو په نتیجه کې ممکنه ده چې د نورو په ستونزو کې ځان شریک وګڼو او د حل له پاره یې فکر وکړو. لاروی همداسې څوک دی. له ده سره د ټولنې د تباهۍ وېره ده:

**زما بېره وه له دې بې خبرۍ نه**

**له دې هسې بې غمۍ نه**

**ډارېدمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې يوه شپه د شپو به مړه وي ځراغونه**
**انسانان به ډوب پراته په خوب ويده وي**
**د دې غار له ژور تل نه به راووځي**
**د تورتمو ارواګانې**
**په دښتو باندې لښکرې**
**او ترڅو چې سباکيږي**
**ښار به نه وي**
**ترې به پاتې، کنډوالې وي، ويرانې وي.**( ۱۹ مخ )

**دال) الهامونه:** بنيادم په ارادي ياغير ارادي ډول د هغې موضوع په باره کې فکر کوي چې د لچسپي ورسره لري. په يوې موضوع باندې پرلپسې فکر او غور د کشف او الهام سبب کيږي. لاروی چې له ټولنې سره مينه لري د ټولنې په اړه ډېر حقايق ورته الهاميږي؛ مثال:

**ناڅاپي مې شوه له سترګو پرده پورته**
**د ښاريانو د ژوند رمز شو رابرسېره**
**انسانان ولې استوګنه په ښارو کړي؟**
**په برجونو، مانۍ ګانو، پخو پلنو دېوالو کې؟**
**ادمزاتي جوړوي لوی،لوی ښارونه**
**له ښارونو تاووي لوی دېوالونه**
**بيا د ننه په کورو کې اقامت کړي**
**بيا يو بل سره په شخړو په جنګونو**
**په نېکمرغه ژوندون شپې سبا کوينه**
**له دې ژوند څخه مراد د انسان څه دی؟**
**هغه دا دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له دې دښت څخه ډېر لرې اوسېدل دي**
**له دې تورو غرونو سترګې پټول دي**
**د تیارې تروږمۍ سمڅې هېرول دي.**( ۱٦ مخ )

که موږ د لاروي سفر له دې اړخه وګورو چې د ځان پېژندنې په نیت په ذهن کې د ننه سفر دی، بیا ویلی شو چې له ځان پېژندنې سره مینه د مکاشفو سبب ګرځي.

٥ ) **زړورتوب:** تاریخ شاهدي راکوي چې لوی کارونه بې ریسکه نه کیږي. که کولمبس زړور نه وای، د نا اشنا لارو کچ کولو ته به یې زړه ښه کړی و؟ امریکا به یې کشف کړې وای؟ لاروی چې په تورو شپه کې په بیابان کې مزل کوي، چې تورې سمڅې ته ورننوځي او چې ښار ته راځي او د واکمن ښامار په خلاف خبرې کوي، دا ټول کارونه جرات غواړي؛چې سرساتي خاورې به وکړې دیدنونه! موږ په خپل چاپیریال کې ګڼ لایق او مستعد کسان موندلی شو چې مهم کار یې نه دی کړی، څکه دوی د یو کار تر پیلېدو دمخه اول دا ډاډ غواړي چې خامخا به ورکې بریالي کیږي.

**و) له پخواني دوست سره خدای پاماني:**
**لاروی اخر جدا شو**
**د خپل ځان له ځانځانۍ نه**
**له خپل** (زه) **نه** (۱۲۳ مخ )

د کتاب په دوهم څرخ کې چې لاروی سمڅې ته ننوځي تر هغه دمخه له خپل پخواني ملګري ( زه) جلا کیږي. دلته له زه د بېلېدو یوه معنا دا ده چې کله خپل لاشعور (سمڅه) ته ځو، طبعاً له شعوره به لرې کیږو. بله دا چې زموږ شخصي ګټې، زموږ موجود باورونه او زموږ اوسني قضاوتونه، دا ټول زموږ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت ترمنځ حجاب گرځېدلی شي.
انگرېز مفکر فرانسيس بېکن، چې د شپاړسمې پېړۍ په دوهمه او د دولسمې پېړۍ په اوله برخه کې يې ژوند کاوه، ويلي و چې انسانان اول يو شی ومني، بيا د هغه شي له پاره چې منلی يې دی او په طبعه يې برابر دی دليلونه او ثبوتونه پيدا کوي او دا د حقيقت د موندلو لار نه ده. بېکن چې اوسني علم او پرمختگ ته يې د بشر په رسېدلو کې لويه ونډه لرلې ده، وايي چې کومه خبره دې ذهن په رضا او خوشحالي مني او ټينگار ورباندې کوي، هغې ته د شک په نظر وگوره.
موږ ويلای شو چې لاروي هغه وخت د حقيقت په لور لوی گام واخيست چې د ځان او حقيقت ترمنځ يې د شخصي غرضونو حجاب لرې کړ.
ز) **جنون:** لاروی چې له اوږدو سفرونو وروسته ښار ته ورسېد، ږيره وېښته يې ببر او ځان يې لوڅ لغړ و.

**لاروی ښار ته راغلی لوڅ لغړ و**

**هم په دې اوږده سفر کې**

**لاروي نه هېرې شوې وې خبرې ډېرې،ډېرې**

**د ده هېر و د لوڅتوب او بربنډتوب معنا مفهوم ټول**

**دی حيران و چې څه پټ کړي؟**

**او دا څه له چانه پټ کړي؟**

**هغه څه چې ده موندلي وو له ځان سره راوړي**

**له هغو نه مقصد دا وه چې ښکاره شي بې پرده شي**

**نو دا ځکه:**

**لاروی په هغه ښار کې هرې خوا لاړومشهور په لېونتوب شو**

**د ښار خلکو به ويلې دی مجنون دی.( ۱۵۱ مخ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پخواني شوروي اتحاد کې به يې ځينې هغه کسان چې د نظام مخالفت به يې کاوه د روحي ناروغيو روغتونونو ته استول چې ګويا ليوني دي. د ځانځاني ښامار لاروي چې د خپل ځان غوښتونکي شعور او په استبدادي ټولنه کې د واکمن شعور په خلاف بغاوت کړی دی او دا لا څه کوې چې د انسان او جهان په تعريف کې هم له نورو سره شريک نه دی، طبعاً به مجنون بلل کيږي. د ده لوځوالی د حقيقت د لوځوالي استعاره ده.

## د محبت الهه

د ځانځاني ښامار په اول ځرخ کې (ښاپيرۍ د عشق او مينې) د کتاب يو عنوان دی. پوهاند مجروح د کتاب په لمنليک کې دا ښاپيرۍ داسې راته معنا کوي.

« د ژوند رښتينې منبع يعنې مينه؛ د ځان او ځانځاني مينې پر ضد»

کله چې کارونه سم روان وو، ښار ښېرازه و او خلک خوشال وو نو همدې ښاپيرۍ پر خلکو حکومت کاوه .د ښامار د واکمنې په وخت په ښار کې ژوند مړاوی کيږي. دی په خپله هم په روحي ناروغۍ مبتلا شي او يو ځل چې د پخوا وختونو او تېرو هېرو خاطرو په اړه فکر کوي نو:

**« حيرانتيا وه**

**چې ده ځرنګ هېره کړې خاطره د هغې شپې وه**

**چې توپان عظيم راکوز له لويو غرو شو**

**سيندد په قار و، نا قلار و، غرېدلو**

**په دې وخت کې راپيدا شولو له ورايه**

**د ځپو منځ کې روانه يوه ګوردمه لويه،لويه**

**ناځاپي د خلکو پام شو**

**چې د پاسه په ګوردمه**

**يوه مرموزه سره ړنا وه،ځلېدله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که انګار و سور سوزانه په اوبو کې؟**
**مخلوقات وو تماشې ته راوتلي**
**ډارېدلي هک حیران وو**
**دې رڼا ته یې کتل په ترږمۍ کې**
**په دې وخت کې برېښنا پړق کړو**
**په دې لنډه روښنایي کې**
**خلکو ولیده یوه ګرګه وه روانه په اوبو کې**
**یو شین مار کړۍ،کړۍ وربانده پروت و**
**رنګارنګه، ټکی،ټکی سر تر پایه**
**غاړه هسکه هره خوا یې تماشه کړه**
**پاس په سر یې یو سور ستوری ځلېدلو.**
**ګونګوسې د خلکو منځ کې شوې روانې ،دوی ویلې:**
**ټولواکمنه د مارانو، ښاپېرۍ د سرسبزۍ وه**
**پاس په سر یې د سرو تاج و**
**پکې لال د بدخشان و، ځلېدلو**
**لاړه،لاړه موږ نه لاړه**
**زموږ سیمې نه بهر شوه**
**د هغه دریاب په غاړه مېشته خلک**
**د مارانو ستر واکمنې په هجرت ټول ډېر خپه وو**
**او د ملک په ابادۍ په نېکمرغۍ کې**
**دا هجرت ورته ښکاره شو بد شګومه**
**دا هجرت و په رښتیا یوه لویه پېښه**
**بیا ورستي نسلو ترې جوړه د تاریخ لویه مبدا کړه**
**ځکه،ځکه په دې پېښې ختمېدلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د انسان طلايي عصر**

**او يوه نوې تاريخي دوره شروع شوه.»** ۵۵ او ۵٦ مخونه

واکمن ته لږ وروسته وريادېږي چې د عشق او مينې ښاپېرۍ (چې په اقتباس شوي متن کې د سر سبزۍ ښاپېرۍ په نوم ياده شوې) ورته وويل که زه نه يم سندونه به وچ شي، سږه سيلۍ به راشي، د مرغانو اوازونه به ورک شي او يو وخت به دې ځان ته پام شي چې ښځې يوازې يې او بيا لولو:

**« ور په ياد شو چې د عشق الهې دا بيان کولو**

**او اواز يې ورو په ورو محوه کېدلو**

**نو دی پوه شو چې دا ځل يو دوهم ځل و اخرينه**

**چې ترې لاړه تل د پاره**

**ستر واکمنه د مارانو، شين کميسې ښاپېرۍ د نوبهار بيا»** ۵۹ مخ

په کتاب کې خو د واکمن له ژونده د عشق د الهې (د عشق او مينې ښاپېرۍ) د لومړي ځل وتلو په اړه هېڅ اشاره نه شته نو دغه د (دوهم ځل) عبارت په پاسني اقتباس شوي متن کې څه معنا لري؟ دې پوښتنې ته د فرويډ د ارواپوهنې په رڼا کې ځواب موندلی شو.

د فرويډ له نظريې سره سم ماشوم چې دنيا ته راشي په ځان کې لاهو وي. دی د ځان او جهان ترمنځ توپير نه شي کولی. د ده له پاره د ده بدن يوازينۍ دنيا وي. ماشوم ته د مور تی هم له ځانه بېل نه ښکاري، خو د وخت په تېرېدو سره مور او نور له ځانه بېل کسان احساس کړي، مگر بيا هم گومان کوي چې دی د دنيا مرکز دی او مور وپلار يې د اساطيري موجوداتو غوندې تر هرچا زورور او په هرڅه واکمن دي. ماشوم په ځان مين وي، دغه د ځان د مرکز گڼلو او په ځان مين حالت ته په ارواپوهنه کې نارسيسيزم Narcissismوايي. وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا ورو ورو له مور سره مينه او نورو سره مينه نارسيسيزم (په ځان مين حالت) کمزوری کړي خو په لوينې کې غالباً بنيادم دوباره په خود خواهي کې غرق شي. دغه دوهم ځلي نارسيسېزم که ډېر پياوړی وي، روحي ناروغي پيدا کوي او ممکن تر مرگه پورې له بنيادم سره وي. نارسيسيزم د مينې او محبت ضد حالت دی.

له دوهم ځل تلو څخه د محبت د الهې منظور دا دی چې زه يو ځل د مخه د ماشومتوب په ابتدا کې د لومړي نارسيسيزم Primary Narcissismپه وخت درنه تللې وم او دا دی يو ځل بيا د ثانوي نارسيسېزم په وخت درنه لاړم چې نه راستنيږم.

د محبت الهه ولې د مارانو واکمنه بلل شوې ده؟

مار د پخوانيو يونانيانو په عقيدو کې د شفا او روغتيا سيمبول و( اوس هم په طب کې د روغتيا سيمبول دی) او د ژوند د قدرت مظهر بلل شوی دی. له بلې خوا مار د جنسي غريزې سيمبول ياد شوی دی او څرنگه چې جنسي غريزه د فرويډ په ارواپوهنه کې د بنيادم پر کرکټر او روحيې باندې تر بل هرڅه ژور اثر ښندي نو مار د ژوند د قوت او لذت ښووندوی هم بللی شو، يعنې کله چې د مارانو ټولواکمنې حکومت کاوه، ژوند غوړېدلی او ښار ښېرازه و.

د محبت د الهې له تلوسره ولې د انسان طلايي عصر ختميږي او نوې تاريخي دوره شروع کيږي؟ د وگړي په ژوند کې طلايي وخت هماغه دی چې له نورو سره د محبت کولو استعداد ورکې وي خو د انسان طلايي عصر او نوې تاريخي دوره داسې عبارتونه دي چې د وگړي له ژونده ورهاخوا د ټولې انساني ټولنې ژوند ته اشارې کوي. دغه عبارتونه په لوی لاس انتخاب شوي دي چې د لوستونکي پام د بشر تاريخ ته واوړي.

زموږ له ديني عقايدو سره سم ادم وحوا په جنت کې اوسېدل خو شيطان څه چل وکړ جنت ته پسې ورغی، دوی يې د غنم دانو خوړولو ته چې خدای ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع کړي وو، ولمسول. دغو لومړنیو انسانانو چې د غنم دانې وخوړې خدای له جنته واېستل.

له بلې خوا تاریخ راته وایي چې خلکو په اوله کې ګډ ژوند کاوه؛ لکه د کور د غړیو چې جایداد شریک وي،دغسې د ټولنې د غړیو شتمني شریکه وه. وروسته بیا طبقې پیدا شوې، ګټه او تاوان د هر کور او هر چا خپل شول او نتیجه دا راووته چې په نفسونو کې ځانځاني او ځان ماري وغوړېده.

که د داروینیزم له عینکو وګورو نو بشر په ابتدا کې دومره عاقل نه و چې مرګ وپېژني او چې مرګ یې نه پېژانده نو ابدیت یې احساساوه،لکه څوک چې په جنت کې اوسي، خو د عقل ودې ورته غمونه وکرل او پوه یې کړ چې ژوندون د ژمي مازدیګر دی تېر به شینه.

دغه راز ځان پالونکې پوهې له مینې لرې کړ.علامه اقبال خو ځکه وایي چې د زړه د درد یوه بڅرکی د اپلاتون تر ټول علم غوره دی.

د سیمبولیک او هنري بیان کمال دا وي چې هر لوستونکی ورنه د خپل ذوق او تجربې مطابق بېله معنا اخیستی شي. په خانځاني ښامار کې د لرغونو یونانیانو تمدن ته ګڼې اشارې شته. له همدې کبله زه د طلایي عصر د ختمېدو او د نوې دورې د پیلېدو په عبارتونو کې د یوناني تمدن تباهي ته هم اشاره وینم.

د دنیا د نورو لرغونو تمدنونو په نسبت په یوناني تمدن کې د انسان قدر ډېر و. د هغوی د ژوند طرز، فلسفې او عقیدې د انسان له ودې او غوړېدو سره مرسته کوله خو لکه څرنګه چې مورخانو لیکلي دي د مقدوني سکندر نظامي فتوحاتو په ظاهره یونانیان په اسیایي ټولنو لاسبري کړل خو په عمل کې د اسیاوالو د فکري او سیاسي استبداد سېلاب د یونان په لور ورمات شو، چې په نتیجه کې د بشر په تاریخ کې د ازادي یوه طلایي دوره ورو ورو ختمه شوه.

د کتاب په دوهم څرخ کې د محبت الهه له ښاره بهر چېرته د لارې په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینو چې شنې جامې یې په ځان کې وي، منګی ورسره وي، مساپرو ته اوبه ورکوي، یعنې هغو کسانو ته چې د واقعي ژوند په لټون بوخت دي.
لاروی چې د سمڅې له سفره راستنیږي ښارته نژدې د لارې پر سر شین کمیسې نجلۍویني او د خپل ورک سمندر غاړې د هغې په لېمو کې ورښکاري. لاروی ښاریانو ته وايي چې دلته یو وخت د نوبهار الهې (د محبت الهې) حکومت کاوه. ښاریان شین کمیسې نجلۍ لیلا بولي، د ښار تر سیندګار شویو نجونو یې ښکلې نه ګڼي او واکدار خو د هغې له وجوده خبر هم نه دی مګر د مجنون ډېرو یادولو مشهوره کړه. واکمن دوی دواړه دربار ته ور وغوښتل. مجنون د واکمن مخې ته وویل:

**« زه چې تلمه له دې ځایه**

**هغه ښکلې نیمه خدایه په بستر د شنېلو لا ګرځېدله**

**غرڅنو یې شنه لمنه بویوله، ښکلوله**

**اوس چې بېرته یم راغلی**

**له سفره راستون شوی**

**هرې خواته رېګستان دی، وچې وچې صحراګانې»** (۱۹۷ مخ )

واکمن مجنون ته وايي، د دې ښار په ښکلو نجونو کې تا څنګه دا خیرنه، سوالګره، بې کماله، بې جماله غوره کړه او زما رعیت یې عبادت ته وربولې؟
مجنون ورته وايي: اوس خلک ځکه د ښامار عبادت کوي، چې زړونه یې وېرې تسخیر کړي دي، که وېره نه وي لیلا به ونمانځي.
واکمن لیلا ته په قهر وايي: ته څوک یې؟
لیلا چې په خبرو راغله اواز یې د ماڼۍ په دهلیزونو کې نا اشنا انګازې کولې ( یعنې په لاشعور کې یو څه راوېښېدل، د ژوند هېرې شوې خاطرې تخنېدلې ).
دې وویل، زه لیلا یم، د نوبهار الهه، د مینې رب النوعه د ازادۍ د مینانو زړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما قدم ځای دی.

خو واکدار ونه توانېد چې دا وپېژني (یعنې محبت وپېژني) دوی یې له درباره وشړل. لیلا له ښاره ووته او یو وخت چې واکدار ومړ او ژوند بیا غزونې وکړې نو:

« **او بیا هغه نا اشنا پېغله**
**زوړ کمیس، څېرې ګرېوانه**
**ګرځېدله، مسته مسته خرامانه**
**شین کمیس، نری، شفاف یې وه په تن کې نوی نوی**
**د وحشي ګلونو تاج یې پاس په سر پروت**
**د بهار وږمې په شانې الوتله**
**د دښتونو غرڅنۍ ورته راتللې**
**شنه لمن یې بویوله، ښکلوله**» ۲۱۱ (او ۲۱۲ مخونه)

## ایګو:

ایګو چې د اتل، بادار، ښامار، واکدار او نورو نومونو یادیږي، د ځانځاني ښامار اصلي کرکټر او موضوع ده. د کتاب په دوهم څرخ کې لاروی وایي چې زه سمڅې ته ورکوز شوم، هلته مې کوچني چینجي ولیدل چې یو بل یې خوړل. په دوی کې یو غټ شو، ډېر غټ شو، په ښامار بدل شو او د ښار په لور و خوځېد چې حکومت ورباندې وکړي. د کتاب په اول څرخ کې لاروی وایي:

« **ډارېدم زه**
**د خپل زړه په ژور تل کې**
**له ښاماره**
**له هغه عظیم ښاماره**
**چې له دې سمڅې راوځي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او بیا ځي د دښت په لوري**
**بیا نژدې شي کلي ښار ته**
**ښکار کوي د انسانانو»** ( ۱۹ مخ )

پوهاند مجروح د کتاب په لمنلیک کې د ښامار معنا داسې کړې ده: ځانځاني، په ځان مین خودپرسته شعور
دغه شعور چې د یو کس په توګه معرفي کیږي، د ښار له نیولو وروسته ځان ښاریانو ته دا رنګه ورپېژني:
**«تاسې وایاست زه به څوک یم؟**
**زه خو (زه) یم، زه (ایګو) یم**
**درست نړۍ کې پهلوان یم**
**لوی فاتح د ټول جنګونو د جهان یم. »** ( ۳۰ مخ )

لیکوال د ایګو په شرحه کې لیکلي دي چې: (په خپل ځان متمرکز او ځان مین شعور) ایګو EGO د فروید د اروپوهنې یوه اصطلاح هم ده. ایا دا دواړه یوه معنا لري؟
فروید د انسان د شخصیت هغه اړخ چې یوازې په خوند پسې ګرځي او هېڅ ډول اجتماعي اصول نه مني، ایډ ID بولي. ID چې ټول د ذهن په لاشعوري برخه کې دی، د لبېدو Libido یعنې د شهوت د انرژۍ مخزن او ګودام دی. د فروید د نظریې په اساس د ماشوم شخصیت د زېږېدلو په وخت یوازې ایډ لري. دغه ماشوم یوازې ړنده غوښتنه وي او بس، خو د وخت په تېرېدو سره یوه شي چې د هوس د پوره کولو له پاره د چاپېریال غوښتنو ته پام پکار دی. د اور لمبه به ښکلې وي مګر لاس باید ورنه وړې چې سوځوي يې؛ د پیالې په ماتولو کې به خوند وي خو په دې کار کې خطر دی، ځکه مور به یې ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپیریال د غوښتنو په چوکاټ کې د خپلو غریزو او غوښتنو ایسارول د بنیادم د شخصیت بل اړخ دی چې فرویډ ورته ایګو وايي. ایګو د ایډ د ړندو غوښتنو مخالف نه دی خو څرنګه چې په چاپیریال خبر دی نو د هوس د پوره کولو له پاره شرایطو ته هم پام کوي.

زموږ عقلاني فعالیتونه او حافظه له ایګو سره تعلق لري. ایګو یو څه په شعور او یو څه په لاشعور کې واقع ده.

په څلور- پینځه کلنۍ کې د ماشوم د شخصیت د یو بل اړخ وده پیلیږي چې فرویډ یې سوپر ایګو Super Ego بولي. کله چې ماشوم د مور و پلار او نورو لارښوونې له وېرې نه، بلکې د زړه له تله ومني، معنا یې دا ده چې په شخصیت کې یې د سوپر اېګو اړخ پیدا شوی دی. سوپر اېګو تر ډېره حده د ټولنې له اقدارو، باورنو او ارزښتونو سره سمون خوري. د سوپر اېګو لویه برخه په لاشعور کې وي.

د فرویډ په نظر په روحي لحاظ روغ بنیادم پیاوړې اېګو لري. پیاوړې اېګو هم ایډ کنټرولوي، هم سوپر اېګو دې ته نه پرېږدي چې بنیادم د وچو اخلاقو پیرو او له خلکو سره په روابطو کې متعصب قاضي کړي. اېګو له یوې خوا له خارجي واقعیت سره د ارتباط ذریعه ده او له بلې خوا د اېډ او سوپر اېګو په شخړه کې د تعادل هڅه کوي. که یو څه په غیر فني ژبه وغږېږو ویلای شو چې سوپر اېګو وجدان، اېډ اماره نفس او اېګو عقل دی.

پوهاند مجروح اېګو (یا ښامار) په ځان مین شعور بللی ، یعنې هغه عقل چې په خود پرستۍ او ځانولۍ مبتلا دی او یا په بله ژبه هغه عقل چې د نارسیسیزم مرض وربانديې لګېدلی دی. لکه څنګه چې مو د مخه وویل هر بنیادم د ژوند په ابتدا کې په ځان مېین دی او یو څه نارسیسیزم ته بنیادم ټول عمر اړتیا لري، ځکه یو څوک که ځانته اهمیت ورنه کړي، نه پرمختګ کولای شي نه حتی ځان ساتلی شي، خو غیر نارمل نارسیسیزم له نورو سره په روابطو کې د خنډ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روحي ناروغۍ سبب ګرځي. د فرويډ په نظر که د ماشوم روحی وده سمه وي، په هغه کې له نورو سره د مينې استعداد پيدا کيږي او لبيدو يې له ځانه بهر ته مخ اړوي. خو که دا وده سمه نه وي، مثلاً مور له ماشوم سره سم چلند ونه کړي، لبيدو دوباره ځانته متوجه کيږي. دغسې بنيادم بيا نورو ته نه بلکې صرف ځانته اهميت ورکوي.

د ځانځاني ښامار د اتل (اېګو) ځانګړنې هماغه دي چې ارواپوهانو په نارسيست بنيادم کې ليدلې دي.

دلته به د اېګو د شخصيت او د هغه د ژوند د مهمو پېښو په اړه څو خبرې وکړو. دا مطالعه له دې اړخه هم جالبه ده چې کابو هر بنيادم دا رنګه کمزورۍ لرلای شي. د خانځاني ښامار د اېګو د ژوند او شخصيت په اړه غور له هر لوستونکي سره مرسته کوي چې خپلو روحي کمزوريو ته يې لا ښه پام شي او ځان لابهتره وپېژني.

## الف، اېګو د دنيا مرکز دی:

لېونی د ځان او جهان توپير نه کوي. د ليوني په نزد دی په خپله جهان دی. دغه حال د ګېډې د ماشوم او نوزيږي کوچني هم دی. په ځان مين کس که د ځان او جهان په توپير هم قايل وي خو دا لازمه ګڼي چې نوره دنيا دې لکه ستوري تر لمر، داسې تر ده راتاويږي. ده ته نور انسانان وسايل ښکاري. دا مهمه نه ده چې نور خلک مري که پايي، مهمه دا ده چې دی مقصد ته ورسيږي.

ټوکه ده وايي يو ماشوم ويل چې کاشکې د فرانسې او انګلستان جنګ شي، انګرېزان فرانسه ونيسي او پاريس پايتخت کړي. چا ورنه تپوس وکړ، داسې ولې غواړې؟

ماشوم وويل، د امتحان په پاڼه کې مې ليکلي چې پاريس د انګلستان پايتخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی.

اکثره په ځان مين کسان دې ته ورته هيلې لري. که د دوی د ګټې، مقصد يا نظريې په خاطر د وينو سېلابونه هم وبهيږي پروا نه کوي. اېګو د ښار د نيولو په ورځ ښاريانو ته په وينا کې وويل:

« **زه خو (زه) يم، زه اېګو يم**

**درست نړۍ کې پهلوان يم**

**لوی فاتح د ټول جنګونو د جهان يم**

**له دې وروسته ستاسو ښار زما تابع دی**

**تاسې ټول د قهرمان تر فرمان لاندې**

**که هرڅوک زما فرمان ته غاړه نه ږدي**

**نو سزا به يې په دې دم او په هر دم**

**هم په دې نېزه وژل وي، څيرول وي**» (۳۰ مخ)

اېګو په وژلو کې مشکل نه ويني، ځکه ځان تر نورو بر احساسوي، لکه دی چې انسان وي او نور خلک مچان.

## ب: اېګو په ځان ټينګ باور لري:

د اېګو په خبرو کې پرېکنده والی او په ځان باور ځپې وهي. د اروا پوهانو په اند، په ځان مينو ته په خپلو فيصلو، نظريو او عملونو کې عيب نه ښکاري؛ لکه عاشق چې د معشوقې عيب نه ويني، د نارسيسست له خبرو ډاډ اوري او د ټولنې په ځېل شويو خلکو چې په ډاډ پسې ګرځي د دوی خبرې کوډې کوي. همدا وجه ده چې ځېل شوي ولسونه ممکن په ځان مين کسان خپل مشران کړي.

د اېګو په حکومت چې څه موده تېره شوه او هرڅه يې وځپل نو يو ځل د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مانۍ د تل بنديانو پر ده داسې اواز وکړ:

**« تا به ويلې**

**زه مرکز د ټول جهان يم**

**مورې باور کړ**

**تا به ويلې**

**زه واکداره هم د ځمکې د اسمان يم**

**مورې منله»** ( ۹۱ مخ )

## ج: د نارسيسېزم موضوع:

په کابل کې يو ځوان پېژنم چې تر بل هرڅه زيات له خپلو وېښتو سره دلچسپي لري. کله چې سر خوځوي او ځنې غورځوي،خدايزده څومره وياړبه احساسوي! د ارواپوهانو په ژبه د ده د نارسيسيزم موضوع د ده د وجود يو کوچنی اړخ يعنې د ده وېښته دي.

په پېښور کې مې يو ملګری د واپډا انجنير و. دی چې به مې کله وليد، ويل به يې، ځنګه درته ښکارم؟ صحت مې ځنګه دی؟ د خپل بدن صحت د ده د نارسيسيزم موضوع وه. له ځان سره دغسې مينه لږ تر لږه ټولنې ته ضرر نه لري خو که د يو چا د نارسيسيزم موضوع قدرت وي،بيا ممکن لوی جنجال جوړ کړي. قدرت د اېګو د نارسيسيزم اصلي موضوع ده، يعنې دی خپل وجود او شخصيت له قدرت سره تړلیويني. د يوه ليکوال د نارسيسيزم موضوع هم غالباً د ده ليکنې دي چې له ټولنې سره يې تعلق ډېر دی خو خطر يې ځکه نشته چې ليکوال بايد لا ډېر زحمت وباسي چې ليکنې يې په ټولنه کې ومنل شي مګر د قدرت لېونی د خپل زور د لا ښه احساسولو له پاره د نورو ځپلو ته اړ دی. د ليکوال نارسيسيزم غالباً ټولنې او ده دواړو ته په ګټه دی خو په قدرت مېين بنيادم ځان او ټولنه دواړه ممکن تباه کړي. زيګمنډ فرويډ وايي د نارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیادم نارسیسیزم د ټولنې د منلو وړ وي.

## دال: ايګو د نورو په ځپلو کې لويي ويني:

چېرته مې لوستي وو چې د شلمې پېړۍ نامتو انګرېز لیکوال برناردشا ته چا د ګلونو ګېډۍ وروړه، شا ورته وویل ولې دې داسې کړي؟ هغه ځواب ورکړ، ما اورېدلي چې له ماشومانو او ګلونو سره دې جوړه ده. شا وویل جوړه مې ده خو ګلونه په ګلدان کې او د ماشومانو سره د هغوی په ځان کې غواړم.

دا د ژوند تقاضا ده چې که مینه ورسره کوو او مینه ورنه غواړو تېرى به نه وربانديې کوو، په کراره به یې پرېږدو. له ګلانو سره مینه دا نه ده چې پل وربانديې کېږدو، مینه دا ده چې لاس ورنه وړو، غوړېدو ته يې پرېږدو.

ژوند د ځان مريي کول د قدرت د میینانو تر ټولو لویه ارزو ده؛ لکه ترکانۍ چې لرګي را اخلي، اره کوي يې، توږي يې او ښویه کوي يې چې مېز ورنه جوړ کړي، دوی د خدای له مخلوق سره دغسې چلند غواړي.

د ښار د نیولو په ورځ ايګو دا هم وویل او داسې يې هم وکړل:

**« هغه څوک چې مې فرمان وړي په سر سترګو**

**هغه ټول به په امان وي**

**زه د دوی د سرو سیوری**

**زه د دوی د ژوند ساتونکی**

**په دې وخت کې نژدې هلته**

**غرځنی وه ګرځېدله، مسته مسته**

**ساده زړې وه ،معصومه پاکه پاکه**

**قهرمان ژر په لینده کې غشی کېښود**

**په یو کش غشی روان شو**

**غرځنۍ زړګی شو څېرې»** (۳۱ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند مجروح د غرځنی په اړه لیکي چې:« ازاده او بې ګناه مینه او محبت. د استبداد لوی دښمن ازادي بې ګناهي او مینه ده.»
دغرځنی په قتل کې دوې نورې معناوې هم شته. مستبد واکمن د خپلې واکمنی لومړی ورځ ځکه په قتل پیل کړه چې نور ووېروي. د لرغوني چین یوه حکیم ویلي دي: یو کس ووژنه، لس زره کسه ووېروه!
بله دا چې د غرځنی وژل د ژوند د وژلو هڅه ده، ایګو ولې ژوند وژني؟
ولې د ژوند له وژلو خوند اخلي؟ ځکه د قدرت د احساسولو اوج هغه وخت دی چې واکمن په ژوند هم واکمن شي. په دې بې روحه جهان کې ژوند یوازینی شی دی چې د ودې، د مستی، د غوړېدو او د سرغړاوي خاصیت لري، نو لوی قدرت خو هغه دی چې دغه لوی باغي ایل کړي، ویې ځپي او تس نس یې کړي. ایګو که د ژوند د ساتلو خبره هم کوي منظور یې دا دی چې په ژوند باندې کنټرول باید د ده په لاس کې وي.

## ۵، ایګو یوازې د ځان په اړه فکر کوي:

یو وخت راته وویل شول د یوه متوفي لیکوال په باره کې راډیویي پروګرام جوړ کړم. هغه مرحوم لوی لیکوال و؛ په اثارو او کارونو یې ډېر څه ویل کېدای شوی. د هغه یوه دوست ته مې بلنه ورکړه چې په دې اړه وغږېږي. مرکې ته د رابلل شوي کس د خبرو مفهوم داسې و: هغه له ادبیاتو سره ډېر بلد انسان و؛ زما شعرونه یې ډېر خوښېدل یو ځل مې یاد شي په کانټینېنټل کې غونډه وه، زه یې اناونسروم، زما اناونسري یې هم بې حده خوښه شوه. د... لقب یې راکړ. ده یوازې د ځان په باره کې فکر کاوه. موږ کابو ټول ممکن لږ و ډېر دغه ستونزه ولرو خو د محبت الهه مساپرو ته اوبه ورکوي او له لاروي سره د ښار د ژغورلو غم دی. دوی له نورو سره هم خواخوږي لري، مګر ایګو یوازې د ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فکر کې دی، دی په ټول کتاب کې د ځان په اړه غبرګېږي او د ځان په اړه فکر کوي. د اېګو دا ځانګړنه د هر هغه کس ځانګړنه ده چې په ځان ډېر میین وي.

## و، اېګو له نورو سرخه د کشمکش احساس کوي:

د کتاب په اول ځرخ کې چې اېګو ښار نیسي لولو:

**«نارینه د قهرمان تر فرمان لاندې**
**په کار بوخت شول**
**جوړاوه یې د ښار ګرد چاپېردېوال لوړ**
**هم برجونه مستحکمه حصارونه**
**هم یو لوی ژور خندق کېندل کېدلو»** (۳۲ مخ )

او د کتاب په دوهم ځرخ کې چې لاروی د سمځې له سفره ښار ته ستنېږي:

« **نو کتل یې**
**ګرد چاپېر له هغه ښاره**
**یو خندک ژور خندک و کیندل شوی**
**هم تاو شوی ترې دېوال و**
**یو بې شانه لوړ دېوال پلن**
**ځای په ځای پکې برجونه تیرکښونه»** ( ۱۴۷ مخ)

دا ټول د دفاعي حالت منظرې دي. د اېګو حکومت د پخواني شوروي اتحاد د حکومت غوندې همېشه فکر کوي چې دنیا یې له غلیمانو ډکه ده. دغه حالت د هغو کسانو هم وي چې له ځان سره افراطي مینه لري. دوی ته ژوند له نورو سره کشمکش ښکاري؛ ګومان کوي له توطیو او دسیسو سره مخامخ دي. د صدام حسین د ژوند په اړه یوه رپوټ کې مې ولوستل چې تر زوکړې دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پلاړ ومړ. دوه کلن و چې مور يې مېړه وکړ، دی يې له ځانه بېل کړ. په راوروسته موده کې به صدام له ځان سره يوه اوسپنه ګرځوله؛ ويل به يې د کوڅې سپي وربانديې وهم.

د فرويډ له اروا پوهنې سره سم که له ماشوم سره مناسب چلند ونه شي، د شخصيت د ودې بهير يې ګډوډېږي او د دې په ځای چې له نورو سره مينه پيدا کړي له ځان سره يې مينه زياتيږي. په ځان کې لاهو کېدل له نورو د بېلېدو او د بدګومانيو د زياتېدو سبب ګرځي.

## ز، د ښامار ستاينځای:

د ښار له نيولو وروسته د ايګو مهم کار د ښامار د معبد جوړول وو. لکه څنګه چې پوهېږو ښامار په خپله دی دی. دی غواړي خلک د خدای په سترګه ورته وګوري او مجسمې ته يې عبادت وکړي. په ځان مينو کسانو چې وس رسېدلی دی، همېشه يې دې ته ورته کارونه کړي دي. لرې به نه ځو په ګاونډي ترکمنستان کې به د صفر مراد نيازوف هڅو ته پام وکړو. ده د روحنامې په نوم کتاب وليکه، کتاب يې په جوماتونو کې کېښود او امر يې وکاوه، چې خلک دې يې د ثواب ګټلو له پاره تلاوت کړي. روحنامه په دې جمله پيليږي:

«دغه کتاب مې چې روحنامه نوميږي، د خدای له خوا د الهام په مرسته کښلی، هغه خدای چې دا ستر کاينات يې پيدا کړي دي او چې څه وغواړي د هغه په کولو قادر دی.»

که چېرې دا وګڼو چې صفر مراد نيازوف يا زموږ د کتاب اتل، ايګو، چل ول نه کاوه، بلکې د زړه له تله يې منله چې مقدس کسان دي هم ناسمه خبره نه ده. په ځان مين کسان د ځان د پړسولو او غټولو له پاره اړ دي چې پخپلو تصوراتو د رښتيا ګومان وکړي. دوی تقدس او سپېڅلتيا ته په دې خاطر هم ضرورت لري چې له مړينې وروسته زمانه په کنټرول کې راولي او هلته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



برلاسي و اوسي.

## ح: د اېګو ولې له ماشومانو سره ورانه ده؟

د اېګو يو فرمان دا و چې پېغلې او زلمي دې له يو بل سره مينه نه کوي او بل دې ماشومان په کوڅو کې مست او خندان نه ګرځي. څرنګه چې ژوند له مينې زيږي، موږ په اسانه پوهيږو چې اېګو ولې له مينې سره مخالفت کوي، خو دا خبره لږ توضيح غواړي چې د اېګو له ماشومانو سره په څه ورانه ده؟

د فرويډ له نظريې سره سم ماشوم له لومړي نارسيسيزمه وروسته خپلې لبيدو ته په خارج (له ځانه بهر) کې موضوعات پيدا کوي، يعنې د زړه په تخت باندې د محبت الهه کښېنوي چې دغه حالت د اېګو له پاره د منلو نه دی.

له بلې خوا اېګو غواړي په ټولنه کې نظم او ډسپلين وي، خو ماشوم په نظم او ډسپلين کې نه ايساريږي،ځکه نو امر کوي چې ماشومان دې کورونو ته د ننه شي.

په ځانځاني ښامار کې ماشومتوب د بشر د ماشومتوب استعاره هم ده، د هغه وخت چې انسان طبيعت نه نژدې و او د ماشيني ژوند په زولنو کې نه و ايسار.

اېګو د فرد په توګه په دغه تجربه کې شريک دی:

**«تر څه وخته کله کله به يې ستورو ته نظر شو**

**خو ورپاتې نوره نه وه صفايي د تېر وختونو**

**ټول پټ کړي، محوه کړي، رڼاګانو ماشيني وو**

**رڼاګانې زنداني په فانوسو کې**

**مشعلونه په زنځير تړلي ځوړند» ( ۵۳ مخ )**

او په دا لاندې جملو کې ماشوم، هم ماشوم دی، هم هغه ځوک چې سپېڅلتيا او طبيعت ته نژدې وي، هم لومړی انسان:

**" انسانانو لا موندلی چيرې نه و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غلامۍ د باداری چل**
**په دې ښار کې نه هېڅوک د چا مریي و نه بادار و**
**وینځه نه وه، بي بي نه وه، فرماندار نه**
**فرمانداره حقیقي په هغه ملک کې**
**یک یوازې ماشومان وو**
**ځکه،ځکه خلکو داشانې باور و**
**چې کوچنیان له طبیعت سره نژدې دي**
**د عالم پټ،پټ رمزونو نه خبر دي**
**رښتیا هم چې ماشومان به پوهېدل ښه**
**په خبرو د مرغانو ځناورو**
**د دښتو، غرونو رغونو**
**دریابونو، ځنګلونو**
**ارواګانو سره اشنا وو**
**دوی خبر وو چې پرته ده چېرته پټه**
**توره سمڅه هیبتناکه ناپایانه**
**رمز اسرار د مغارې ورته معلوم وو**
**نو دا ځکه په مهم،مهم کارو کې**
**د کوچنیانو نظریې ته درناوی و"** (۴۸ مخ )

کله چې شاعر د طبقاتو د نشتوالي خبره کوي نو لومړنی انسان رایادیږي چې تر ځانپالي عقل یې له فطرت او چاپېریال سره اشنا احساس ته ډېر اهمیت ورکاوه. بې وینځې، بې باداره دنیا په خپله د ماشوم دنیا هم بللی شو چې عقل یې د پاک احساس مشري مني او نظریې ته یې درناوی کوي.
د عیسی علیه السلام دا جمله مشهوره ده چې د اسمان ملکوت ته د رسېدو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره پکار ده يو ځل بيا ماشومان شئ.
مجنون د چين او جاپان د عارفانو په څېر د طبيعت او روحانيت فرق نه کوي او خپل مقصود ورته په ونو او په غنو کې ښکاري. مجنون د ښار خلکو ته وايي:

**" دغه پاڼه چې ښوريږي، د سبا باد ته رپيږي**
**که اواز ته يې غوږ کېږدې**
**دا لمنه شين بخنه د ليلا ده شرهار کا"** (۱۵۸ مخ)

## ط: اېګو ځان غلطوي:

په ځان مين کسان نه يوازې نورو ته په خپله ماته اعراف نه کوي، بلکې ځان هم تېرباسي.
کله چې ليلا او مجنون د واکمن اېګو دربار ته ځي او هلته مجنون ورته سپينې سپينې کوي، نو واکمن په قهر شي، په چوټ کې لاړ شي، ځانته وايي:

**"پروا مه کړه**
**دا سړی خو لېونی دی، بې قدرته، ناتوانه"** ( ۱۹۸ مخ )

واکمن ته ليلا هم سپينې خبرې وکړې ورته ويې ويل چې د دنياوالو رابطه درسره غوڅه شوې ده، پخپله مانۍ کې به ايکې يوازې پاتې شې.
واکمن دې خبرو ته په فکر کې شومګر واهمې اجازه ورنه کړه چې د خبرو په اصلي معنا ځان پوی کړي، ځان يې غلط کړ، ويې ويل، دوی ليوني دي، هسې نه د لېونتوب په مرض نور خلک اخته کړي، نو ويې شړل. د واکمن واهمه د خپلې ماتې او ناکامۍ له احساسولو وه. په استبداد ځپلې ټولنه کې خلک له واکمنه وېريږي خو د ګڼو کسانو نفس دا نه مني چې وېره احساس کړي، نو څه کوي؟ د زړه له تله مني چې د واکمن کارونه سم دي او په دې ډول د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرې او حقارت احساس ته چادري ور اغوندي. دا د نارسيسيزم يوه بله جلوه ده.

## ی، ايګو يوازې پاتېږي:

د ځانځاني ښامار يو اصلي پيغام دا دی چې په ځان مين بنيادم وار په وار يوازې کيږي. په دې کتاب کې په دغه پيغام باندې بيابيا تاکيد شوی دی. هغه ښار ته د تلو راتلو لارې وېجاړيږي چې ايګو ورباندې حکومت کوي.
يوه زړور اخباروالا پېژنم. د ده اخبار په بېلوبېلو نظامونو او حالاتو کې داسې ليکنې خپرې کړې چې نورو يې د خپرولو جرات نه دی کړی خو زه چې اوس وينم ټولنه يې د خدمتونو چندان قدردانه نه ده. په يوه ټولنه کې چې د سواد کچه ټيټه او بېوزلي ډېره وي،هلته هسې هم د قلمي هڅو قدردان کم وي، مګر د ده په برخه کې يو بل علت هم شته. ده د خپلې اوږدې مودې اخبارداري په زمانه کې د هغو مطالبو له چاپولو سره دلچسپي لرلې چې د ده ستاينه پکې شوې ده.په دغه خاصه برخه کې نارسيسيزم دی له ټولنې څه ناڅه بېل او ټولنې ته بدبين کړی دی.

**ک، ايګو د بل خبره نه اوري:**

**"ده پوښتنې نه کولې**
**سوال ځواب يې عادت نه و**
**بس فرمان به يې صادر کړ**
**هی امرونه به يې کول"** (۳۷ مخ )

هغه څوک چې برلاسی وي او په ځان مين وي، هغه د ځانځاني ښامار د اتل غوندې د سوال ځواب عادت نه لري، يعنې د بل نظر ته اهميت نه ورکوي، خو هغه څوک چې په پياوړي دريځ کې نه وي او نارسيسيزم ځپلی وي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ممکن د بل خبره واوري، مګر په مینه نه، بلکې له مجبوریته.
ځینې په ځان میین، خو ځیرک سیاستوال له نورو نظرغواړي، د نورو خبرو ته سر خوځوي، ورته موسکی موسکی کیږي. کله کله به سترګې راوباسي، وروځې به پاس کش کړي، لکه ډېره با ارزښته خبره چې یې اورېدلې وي، مګر دا ټول تمثیل وي. دوی یوازې له خپلو خبرو، خپلو نظرونو او خپلو مقصدونو سره دلچسپي لرلای شي.

## ل، هر چېرته، هر وخت:

د اېګو عکسونه په دېوالونو ځوړند شول.په لرګیو، تیږو، پردو، ظرفونو او فرشونو د سترقهرمان نوم ولیکل شو. په ماڼۍ کې ګڼې هینداري ولګېدې چې اېګو ورکې همېشه ځان وګوري. اېګو چې په تیاره کې یې ځان نه لیده، څراغونه بل ساتل. تیاره یې نه خوښېده ځکه ګومان یې کاوه د عدم په لور روانیږي.
اېګو غوښتل چې هره خوا په ده ډکه وي. دی هر چېرته وي، دی هروخت وي، دی د ټولو په ذهن کې وي. اېګو چې زور لري او د دې هیلو د پوره کولو په لور ځو ګامه اخیستلی شي، خلکو ته ممکن ترڅه وخته پورې احمق ښکاره نه شي.
نمرود چې د ځمکې واکمن و، د اسمان د واکمنۍ هوس وکړ، څلور غټ کجیران یې د قفس په څلورو کونجونو پورې وتړل، بیا یې د هر یوه مخې ته په څلورو لرګیو پورې د غوښې څلور ټوټې وځړولې. نمرود قفس ته ننوت او د کجیرانو وزر یې ازادکړل چې والوځي.
کجیران غوښې ته د رسېدو په هیله مخ په بره والوتل، ډېر بر وختل، اسمان ته ورسېدل. نمرود یو غشی خطا کړ چې د ابراهیم خدای ورباندې وولي. خدای تعالی ملکو ته امر وکاوه چې غشی په وینو سور کړي. نمرود ګومان وکړ چې خدای یې وژلی دی خو تیارې په زړه کې وهم ور واچاوه، وویرېده، د غوښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لرګو سرونه يې لاندې کړل چې کجيران ځمکې ته ستانه شي.
نمرود که زورور نه واى، دغه هوس به يې د بې شمېرو نور خلکو غوندې په زړه کې پټ پاتې و. په ځان مېين کسان هغه وخت ښه پېژنو چې قدرت په ګوتو ورشي.
خوشال بابا فرمايلي دى:

چې د اور بخري باد سره رفيق شي
نـور هاله کا په ملکونو لمبې بلې

## م: ايګو په وهمونو کې لاهو کيږي.

دى به له آيينې ښخه نه لرې کېده، ځکه وېرېده چې ورک نه شي. آيينه د ځان او نفس سيمبول دى او هغه څوک چې يوازې ځان ګوري، جهان نه ګوري، د وهمونو جهنم ته خطا کيږي.

## کوم وهمونه:

ملايان وايي په مړيو تل مازديګر وي، معنا د مړيو زمانه ولاړه او په شېبه کې ايساره وي، يا په بله ژبه د مړيو په حال کې تغير نه راځي. قهرمان ايګو هم وغوښتل په يوه حال پاتې شي، تل برلاسى واوسي، ځان په شېبه کې ايسار کړي. څرنګه چې زمان په بدلون کې معنا مومي او ده په ځان کې د بدلون راوستلو تصور لا نه خوښېده نو د واقعي زمان احساسول ورته ډېر مشکل شول، وېره ورولوېده چې سهارونه،ماښامونه او غرمې به بيا رانه شي.
دغه راز هغه څوک چې ځان ډېر بر او په نورو حقداره ګڼي، په نورو باندې همېشه بدګومانه وي، له نورو واهمه لري، د ايګو غوندې د خپل نفس په مانۍ کې يوازې اوسي.
له بلې خوا څرنګه چې زموږ اتل د ژوند نورې ټولې غوښتنې د لاشعور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنديخانې ته استولې او له ايکې يوې هيلې (برلاسي) يې قربان کړې دي نو د لا شعور له اړخه فشار احساسوي، دا يې د وهمونو بل دليل دی.

## ن، د اېگو ځپلې ټولنې ځينې ځانگړنې:

د اېگو له واکمنۍ وروسته خلک د وېرې، قهر او خپگان په ناروغۍ اخته شول. دا درې سره منفي عواطف دي. د ظلم، استبداد او تشدد نتيجه دا وي چې په ټولنه کې د مينې، خواخوږي او خوشالي د مثبتو عواطفو ځای منفي عواطف ونيسي. په کومو ټولنو کې چې وحشت او تشدد ډېره موده جاري وي، خلکو ته د غم او خپگان په څېر منفي عاطفه امتياز او ثواب ښکاره شي، د کولتور او عقيدې برخه يې وگرځوي.

يوه شپه لاروي (مجنون) د اېگو ځپلي ښار په يوه تنگه کوڅه کې د ټنگ ټکور اواز واورېد، ورتاو شو.پېغلو او زلمو په شړو کنډوالو کې د مستۍ پټ محفل جوړ و، شمعې يې بلې وې. مجنون وويل:

**"زه حيران يم چې دا ولې**
**هغه څه چې په رښتيا بايد ښکاره وي**
**په دې ښار کې تل پټيږي؟"** (۱۶۲ مخ )

د دوی شراب بې مزې او د ټنگ ټکور وسايل مات گوډ وو، ځکه د ساز آلې لوی راهب ماتې کړې وې او د زړو شرابو خمونه د واکمن په امر چپه شوي او درې وړې شوي وو. يوه مست پوښتنه وکړه چې واکمنان ولې له مستانو وېره کوي، لاروي ځواب ورکړ:

**"له مستانو نه ډار ځکه**
**چې مستۍ کې تل خطر پروت د راستۍ وي."**(۱۶۴ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بل مست وویل چې راهبان ولې له مستۍ او ساز سرود سره مخالفت کوي؟
د لاروي (مجنون) ځواب دا و:

**"هغه څوک چې هڅه کاندې**
**چې ژوندي د مرگ له خوند سره اشنا کړي**
**نو دا هسې څوک هېڅ وخت زغملای نه شي**
**چې یې ننوځي زړه ته**
**شور لذت د ژوندانه هم"** (۱۶۵مخ )

لاروي د دوی نشې بې ځایه وبللې، ورته ویې ویل:

**"ای دوستانو**
**راته وایاست**
**له نېشو نه، له مستۍ نه مو مراد او مقصد څه دی؟**
**هېرول د واقعیت دي،نه موندل د حقیقت کوم**
**شرابونه پیمانې ډکې تشېږي**
**هدف څه دی؟**
**فقط یو څه**
**چې دردونه د خودۍ د ځانځانۍ لږ څه ارام شي،لږ قرار شي"** ( ۱۶۷ مخ )

مجنون دوی ته وویل چې ستاسې د زړه په کنډوالو کې توره اژدها ناسته ده. د ازادۍ له پاره له هغې ځان خلاص کړئ. په هغه شپه مستانو معنا دارې نا اشناخبرې واورېدې:

**"دغه شپه عجیبه شپه وه**
**د لومړي کرت د پاره د دلبرو مهرویانو شهلاسترگې**
**ځلېدې لکه چینې رڼې،رڼې د غرو رغونو"** (۱۷۱ مخ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يوه ورځ مجنون له جنازې سره هديرې ته لاړ، د راهب له خبرو وروسته يې ښاريانو ته وويل:

**"ستاسو پام گرځول شوی دی نېستی ته**
**دا خو ځکه چې هستي شي درنه هېره**
**ستاسو زړونه هديرې دي**
**پکې ښخې د امواتو خاطرې دي**
**دا خو ځکه**
**چې په زړه کې مو هېڅکله پيدا نه شي**
**د حيات سره تړون کوم"** (۱۷۷ مخ )

مجنون د جنازې د مراسمو برخه والو ته دا هم وويل:

**"د مرگي فکرونه څه دي؟**
**بس مرگونه د فکرونو."**

په اېگو ځېلې ټولنه کې د فکرونو د وژلو هڅه روانه وي. د زور، ظلم او جهل په ستنو ولاړه ټولنه، فکرونه نه بلکې چوکاټونه مني، ځکه په واقعي فکر کې نوښت وي، خو استبداد کليشو ته اړتيا لري.

**س، مړينه:**

په ځانځاني ښامار کې اصلي ټکو ته څو ځله اشاره کيږي. په دغو مهمو ټکو کې د اېگو مړينه هم شامله ده چې د اول څرخ په پای کې يې په تفصيل سره بيان راغلی دی. د اېگو د مړينې رپورټ په دې خاطر هم اهميت لري چې د دغسې کسانو په ختمه کې د خدای کېدلو هوس اخښلی وي او يوازې مرگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې دوی له خپل مقصده راګرځوي. که مرګ په منځ کې نه وای ډېرو دیکتاتورانو او د ازادي غلیمانو به ان په اوسنۍ زمانه کې د خدایي دعوه کړې وای.

د قهرمان او د مرګ د استازې ملاقات د کتاب یوه ډېره اثرناکه برخه ده چې دلته یې خلاصه لولئ:

د مرګ استازې یې ترلاس نیسي ور نه غواړي چې راځه ځو، خو اېګو وېرېږي ورته وایي زه دلته د ښار په څراغونو او دېوالونو کې خوښ یم.

استازې: اوس په ښار کې نه څراغونه شته نه اوسېدونکي.

اېګو (په زارۍ): ما خو لا د ژوند خوند نه دی څکلی یو ځل فرصت راکړه چې تېرو پړاوونو ته ورشم.

استازی: ته به همدا ګناهونه یو خل بیا وکړې، په شاتګ درته ګټه نه کوي.

اېګو (په زارۍ): له لرې یو اواز اورم، یقین وکړه څوک مې وربولي څوک راته څه پیغام لري!

استازې: دا اواز د مني د بې رحمه باد دی، نورڅوک نشته چې و دې بولي، زه دې بولم.

اېګو: اخر دومره فرصت خو راکړه چې یو ځل د سیند غاړې ته لاړ شم، د شنه اسمان څنډې وګورم!

استازې: تا پلونه ړنګ کړي او بېړۍ دې سېځلې دي،تاته صرف یوه لاره پاتې ده چې زه یې در ښیم، زه به دې د ځان له جهنمه بچ کړم!

## د اساطیرو ژبه:

موږ له کومه راغلي یو؟ چېرته روان یو؟ دا لمر، چې هره ورځ راخیږي دا څوک دی؟ څه شی دی؟ سپوږمۍ چې کله ګرده شي، کله نرۍ شي،بیا نه وي، بیا راپیدا شي، دا څه کیسه ده؟پسرلی د بارانونو موسم دی، د باران په موسم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنا وي، برېښنا وي، وېروونکی اواز وي، حیرانونکې رڼا وي، دا به څه وي؟ باران چې دنیا زرغونوي، نعمتونه راوړي،اختیار خو به یې د برېښنا په لاس کې نه وي؟ موږ څه وکړوچې برېښنا خوشاله شي، چې باران راکړي او تاوان را ونه رسوي؟

دا د ځان او جهان په اړه د ډېرو پخوانو خلکو پوښتنې وې چې د تخیل په زور یې ځوابونه ورته موندل. موږ د هغو ځوابونو ته، چې معمولاً د کیسو په بڼه وو، اوس اساطیر MYTHS وایو. موږ د اساطیرو له زمانې ډېر لرې شوي یو . اوس ډېر خلک په اسطورو یقین نه لري خو چې اسطوره واوري، ممکن ژور اثر ورباندې وکړي، لکه د ماشومتوب د وخت یوه نخښه یا خاطره چې اثرناکه وي. داسې ځکه کیږي چې بشربېخي ډېره موده، په زرګونو کلونو، له اساطیري باورونو سره ژوند کړی دی او اساطیر یې احساس کړي دي.

د اسطوره پېژندونکیو په نظر زموږ اوسنی فکر او تمدن هم د اسطورو او ادیانو تر ژور اثر لاندې دی، مثلاً د شلمې پېړۍ نامتو اسطوره پېژندونکي میر چاالیادې وایي چې د خیر او شر ترمنځ د جګړې اسطوره د پرولتاریا او ښکېلاکګرې طبقې د جګړې په ماکسیستي مفکوره کې وینو او یا په اوسنیو ټولنو کې یوه ژغورونکي لیډر ته انتظار کول او د ټولو چارو د سمون تمه ترې لرل، په اخره زمانه کې د موعود او منجي راتلو ته د انتظار کولو یوه بله بڼه ده. موږ وایو: د غره سر ته وختم، د دریاب غاړې ته لاړم، لمر راوخوت. ګویا دغه درې واړه مو ژوندي ګڼلي چې سر او غاړه لري، او د راختلو فعل ترسره کوي. ژبپوهان وایي په ژبه باندې د اساطیرو ژور اغېز پروت دی. د ابتدایي عقیدو او اساطیرو یوه ځانګړنه دا ده چې په ګڼو بې روحه شیانو کې روح او انساني حالت ویني.

د اساطیرو دغه خصوصیت په ادبیاتو کې ژوندی دی. شاعر له هر بې روحه شي سره خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو هغه کس چې پر ادبیاتو یې اسطورو د اغېزې په اړه څېړنه وکړه، کاناډایي عالم نور تروپ فرای (۱۹۹۱ – ۱۹۱۲ ) و. د ده په نظر اساطیر د ادبیاتو بنیاد او سرچینه بللی شو. دا هم د فرای وینا ده چې د یوه ښه، خواږه، پخواني وخت له ګوتو وتل هغه اسطوره ده چې د ادبي اثارو اصلي مضمون جوړوي.(تېرې شولې ورځې د خندا- یوه سندره) دغه مضمون په ځانځاني ښامار کې هم ډېر وینو. یو وخت ښار اباد،وطن ښېراز او خلک خوشحال وو. دغه راز د اېګو د ژوند په داستان کې لولو:

**" نو زموږه قهرمان هم**

**د ژوندون د سیند له غاړې نه جدا شو**

**لکه هغه سیند چې نه راګرځېدای شي، نه په شا**

**دوباره تلای شي**

**قهرمان هم بیا ونه کړی شول چې ستون شي**

**د ژوندون د چینې لور ته"** ( ۵٦ مخ )

لکه څنګه چې موسمونه راڅرخي، ژوند هم وروسته له مرګه بیا راستنیږي. دغه اساطیري مضمون د پوهاند مجروح په دې اثر کې بیا بیا وینو. ښامار مري او دوباره زیږي، مځکې شاړې کړیږي او بیا زرغونیږي. پوهاند مجروح شاید همدې مضمون ته په پام سره د اول څرخ او دوهم څرخ عنوانونه غوره کړي وي.

د ځانځاني ښامار د اول چاپ په پښتۍ باندې مارډوله(ښامار) ځناور وینو چې کړۍ کړۍ پروت دی، خپله لکۍ یې په خوله کې ده، یعنې خپل ځان خوري. هغه مار چې په خپله لکۍ باندې خوله لګوي او د ځان له خوړلو دوباره زیږي، اساطیري تصور دی. د پوهاند مجروح د کتاب ښامار د وګړي په زړه کې پیدا کیږي او وګړي خوري یا په بله ژبه ځان خوري او دوباره زیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښامار په اړه ویل کیږي چې لومړي غیر متمدن، ځناور خویه انسان، یو څه له خطرناکو ځناورو د ویرې په خاطر او یو څه د خپل وحشي او قاتل خوی په وجه په خیال کې ښامار جوړ کړ او د هغه عبادت یې وکاوه خو کله چې انسان یو څه مهذب او متمدن شو بیا یې په خپلو ګڼو کیسو او نکلونو کې د ښامار په خلاف د مقابلې میدان ته غیرتي ځوانان او زړور پهلوانان واستول.

په ملي هینداره کې لولو چې مومن خان په هندوستان کې یوه ورځ د زرګر په دوکان ناست و، که ګوري یو اوښ تیریږي، په اوښ باندې یوه ښځه ناسته ده، ښځه په لوړ اواز وایي:

ځوانانو ننګ راباندې وکړئ

پلار مې مغول دی ما ښامار لره لیږینه

مومن خان چې پوښتنه کوي، پوهیږي چې له ښاره بهر په غره کې یو ښامار دی چې باچا هره ورځ یوه ښځه او په ډوډۍ بار اوښ ور استوي. ښامار که دا ونه خوري، په ښار ګډیږي، ټول تباه کوي.

مومن خان په اوښ پسې روانیږي ښامار وژني، ښځه له مرګه بچوي. ښامار د بشر په تصور او ادب کې د ځمکې د مخ تر ګردو خطرناک موجود دی. اشرف خان هجري وایي:

په دکن کې پاړو نشته چې مې دم کړي

زه خوړلی اژدها تورې بلا یم

لوی راهب( په ځانځاني ښامار کې ) د ښامار انځور داسې باسي:

**"دی مار نه و ځکه ده لرل ښاڅګونه**

**مرغه نه و ځکه ده لرله خوله اوږده غاښونه**

**ابوالهول ته ورته نه و**

**ابوالهول خو کړي پوښتنې له انسانه**

**چې هرڅوک به لاجواب شو نو خوراک به د بلا شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ده پوښتنې نه کولې**
**سوال ځواب يې عادت نه و"** (۳۷ مخ)

البته دغه بلا د يوه انسان په بڼه هم انځور شوې ده، خو داسې:
**" دېو مزاجی دېوپيکری، دېو انسان و"**

په عرفان او تصوف کې چې صوفي د نفس له بلا سره په جګړه بوخت وي، نفس ډېر ځله ښامار بلل شوی دی، ملا ارزاني خوېشکی وايي:
**دا نوسک يو لوی اژدر دی**
**په اووه سو زره سره**
**هر سر يې پاس ترعرشه**
**کښته تېر تر تحت الثره**

په پښتو ادب کې نفس ته نفسک، نوس او نوسک هم ويل شوي دي. لوی راهب د ښامار په باره کې وايي: **" که يو سربه ترې جدا شو**
**نو لس لس سرونه نور راشنه کېدل تل"** (۳۷ مخ)

دلته بده نه ده چې د ښامار په اړه د فرويد نظريې ته هم اشاره وکړو. د فردويډيزم له نظره ښامار هغه خيالي ستونزه ده چې نوبالغه کسان له جنسي ژونده وېروي او د هغوی لېبدو سختې مقابلې ته اړباسي. دغه تعبير د پوهاند مجروح د اثر د ښامار او د مومن خان د نکل د ښامار په برخه کې سم خېژي، ځکه ايګو د بنيادم د طبيعي او غريزي غوښتنو خنډ او د مينې دښمن دی. دغه راز د مومن خان د وصال اصلي خنډ ولور و چې د ښامار له وژلو سره ختم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اساطيرو په بحث کې يو ډېر مهم کس انګرېز عالم سرجېمز فريزر( sir James Frazer 1941-1945) دی چې په دې برخه کې ډېر مشهور کتاب (زرينه څانګه،The Golden Bough) يې اول ځل په ۱۸۹۰ کې خپور شو. په دغه کتاب کې د ابتدايي خلکو په عقيدو بحث شوی دی. فريزر د انسان د ابتدايي باورونو او اسطورو له ژورې څېړنې دا نتيجه واخيسته چې د اساطيرو موضوع تر ډېره حده د ځمکې له ښېرازۍ سره اړونده ده. د بېلو،بېلو قومونو په اسطورو کې ګڼ خدايان د حاصلاتو له ډېرېدو، له کروندو، له باران، له درمندونو، له سيندونو، له لو و لور او نورو زراعتي موضوعاتو سره تعلق لري.
د محبت الهې د حکومت په وخت سيندونه له اوبو ډک وي، ځمکه ښېرازه وي، دنيا شنه و ښايسته وي. د محبت الهه د پسرلي او سرسبزي الهه هم بلل شوې ده. شين کميسې ليلا د طبيعت د ځوانېدو، د پسرلي د راتلو، د بوټو د زرغونېدو او د حاصلاتو د زياتېدو سيمبول ده.
"اوومه ګنبده" د درويش راني( په ناورين پسې ناورين) کتاب کې د يو منظوم داستان نوم دی. د داستان اصلي موضوع دا ده چې خلکو عقيده لرله
چې پاچا زوړ او کمزوری شي، ختمول يې په کار دي، ځکه کله چې پاچا په صورت روغ او ځوان وي:

**بيا نو مځکه زياتي وچه نه پاتېږي**

**بلاربه کيږي په بيا بيا او ځنې زيږي**

**تاندې ونې، زرغونه واښه او بوټي**

او کله چې د دغو خلکو پاچا ځوان شو، نو:

**خوشالي شوه او هر چا داسې ګڼله**

**لکه ګړځ چې د زړتيا وي لرې شوی**

**پر هر شي باندې وي بيا ځواني راغلې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر پخوا هر ژوندی سری زیات ژوندی وي**

دغه موضوع چې په ادب کې يې ډېر مثالونه موندلی شو، له اساطيرو سرچينه اخلي. که پاچا او واکمن بد وي، د قام حال به خراب وي. د شکسپير په ډرامه کې د هاملټ د زمانې د ډنمارک حال ځکه خراب دی چې پاچا يې ښه سړی نه دی. د لرغوني يونان د اډيپوس په تراژيدي کې په تبس (Thebes) ښار کې ځکه وبا لګېدلې ده چې واکمن يې، اډيپوس، يوه لويه ګناه کړې ده. په ځانځاني ښامار کې هم د ايګو له واکمنۍ سره په ښار کې مرضونه خپرېږي.

لاروي په ميخانه کې مستانو ته وويل چې د زړه په کنډوالو کې پروت ښامار بهر راوباسئ او بيا:

**" بيا حلال دغه ښامار کړئ**

**د ښامار وينې بيا توی کړئ**

**په دې سيمه په دې خاورو**

**ځکه، ځکه**

**طبيعت ستاسو نه غواړي قرباني اوس**

**لويه سخته قرباني هم**

**قرباني د تور ښامار مار**

**دا دښتونه، وچ ډاګونه، جل وهلي ځنګلونه**

**خزان شوي چمنونه**

**واړه تندې دي ځپلي، سختې تندې**

**بس يوه تنده**

**د ښامار د وينو تنده**

**نو به هله د دې دښت ځمکه لمده شي**

**ناشنابوټي به له دې نمناکو خاورو کړي سر پورته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شین کمیس به یې په تن وي"** (۱۷۰ مخ )

د قرباني په مرسته د خیر او برکت راستنېدل او ځان ژغورل د اساطیرو او ادیانو همېشنی موضوع ده.
د اساطیرو یوه بله اصلي موضوع دا ده چې اتل د ژغورنې او نجات له پاره خطرناک سفر کوي. د اتل خطرناک سفر د ادبي اثارو او نکلونو مشهور موتیف دی(لکه پتې خان او مومن خان چې هندوستان ته ځي) د ځانځاني ښامار لاروی هم د بیابان او سمڅې له سخت سفره وروسته شین کمیسې لیلا ویني او ښاریانو ته د ژغورنې پیغام راوړي.
په اساطیرو کې د متضادو جوړو مضمون ډېر عام دی،لکه رڼا او تیاره ،اهریمن او یزدان، اور او اوبه، ځمکه او اسمان، مرگ و ژوند، روغتیا وناروغي. ځانځاني ښامار له دې درکه هم د مطالعې وړ دی.
د کتاب اول څرخ د سارتر په ذکر او دوهم څرخ د اپلاتون په ذکر پیلېږي.
اپلاتون ایډیالسټ او سارتر ماټریالسټ دی. دوی د فلسفې په مخالفو قطبونو کې ولاړ دي( لاروی له دواړو سره مخالفت کوي، له اپلاتون سره د هغه د ایډیالېزم په خاطر او له سارتر سره په دې خاطر چې فلسفه یې له فرویډېزم سره اړخ نه لگوي. د سارتر په نظر هر بشري فاعل له ځانه خبر دی او د خپلو کړو مسوولیت په غاړه لري خو د فرویډ په نظر موږ د خپل ذهن له لویې برخې نه خبر نه یو.)
په لرغوني یونان کې د اتن (Athens) او سپارټ( Sparta) سیال ښارونه په متضادو ځانگړنو مشهور وو.
د اتن دیموکراسي مشهوره وه او د سپارټ استبدادي نظام. په ځانځاني ښامار کې اتن یاد شوی او سپارټ ته غیر مستقیمه اشاره شوې ده(په ۱۴۸ مخ کې).
په ځانځاني ښامار کې د محبت الهه او ایگو، وچوبه او ښېرازي، هدیره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخانه، مرګ و ژوند او ګڼې نورې متضادې جوړې موندلی شو.

د سکندر خټک په لیلا و مجنون کې (چې ارواښاد دوست شینواري تصحیح کړی دی) یوه بدرنګه بوډۍ مجنون ته خبر ورکوي چې لیلا یې واده کړه:

**ښځې ووې هېڅ خبر یې لېونیه**

**د لیلا په غم کې سویه سپېلنیه**

**چې لیلا پرون واده لاړه سوره شوه**

**په تا شپه شوه دا ډېوه د بل کره شوه**

بل ځل بله یو سلوپنځه کلنه بوډۍ مجنون ته د لیلا د مرګ خبر ورکوي:

**لـیلا ستا له غمه لاړه شوه ترګوره**

**که دې نه شي باور دا دی ګور یې ګوره**

مجنون د دې خبر له اورېدو وروسته مري.

په ګڼو پخوانو نکلونو او اساطیرو کې بدرنګه زړه بوډۍ د مرګ او بدمرغۍ سبب ګرځي. دغسې بوډۍ د اېګو د مرګ استازې هم ده چې " **تور کمیس، تور یې پرتوګ، تور یې زړوکی د لوګي و**" ځینې لیکوال د جزییاتو انځورولو ته اهمیت ورکوي، روښانه غړېدړي،ځینې نور ابهام خوښوي او رازناکه حالت وړاندې کوي. دا وروستی طرز د غیبي خبرونو،پېش ګویانو او وېروونکیو پیغامونو د بیان له پاره مناسب دي. ځانځاني ښامار په همدې سبک لیکل شوی دی او د اساطیري متونو غوندې یې د بشر د ژوند ډېر اصلي مضامین د راز او ابهام په پرده کې په سمولیک او غیرمستقیم انداز بیان کړي دي.

د ځینو کسانو په اند، اساطیر د پخوانو خلکو ګډې وډې خبرې او د هغوی د وېرو، وهمونو، خیالونو بېوزلۍ، نهیلۍ او ناخبرۍ زېږنده دي، مګر ځینې نور کسان په اساطیرو کې د زرګونو کلونو ژوره انساني تجربه او په سیمبولیکه ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره بنيادي معنا ويني.
لاروى وايي:
**" زه حيران يم**
**ښاريان ولې نه بوږنېږي، نه ويښيږي ؟**
**ولې نه اوري د ويښ زړه په غوږونو**
**پيغامونه پټ پراته په افسانو کې"** (۱۹ مخ )

کله چې پيغام پټ يعنې سبک مرموز او مبهم وي، هر لوستونکی د خپل ذوق، پوهې او تجربې مطابق له پيغامه بېله معنا اخلي. د اساطيرو په اړه يوه نظريه دا ده چې د موسيقي په څېر د معنا د معلومولو کار پکې د اورېدونکي(اخيستونکي) په غاړه دی، حال دا چې په ځينو نورو ليکنو، مثلاً مقاله کې، دا ليکونکی (لېږدوونکی) دی چې معنا ټاکي. هغه متن چې لوستونکی يې د معنا په ټاکلو کې نسبتاً ډېره برخه اخلي، د پېش گويي قدرت يې ډېر وي. دغسې متن بيا (گډې وډې خبرې) نه شو بللی. پوهاند مجروح اسطورو ته په همدې سترگه گوري او په خپل اثر کې ورنه ښه ډېره استفاده کوي.
د ځانځاني ښامار کابو ټول تصويرونه يوه پخوانۍ زمانه را احساسوي، هغه زمانه چې خلکو يې په اساطيرو کلک باور درلود.

## د دغه اثر ځينې نورې سبکي ځانگړنې:

الف / د تنسيق الصفات بديعي صنعت يعنې د پرلپسې قيدونو يا د موصوف لپاره د پرلپسې صفتونو راوړل پکې ډېر وينو، مثالونه:
**ښکارېدله کومه لويه حادثه وه را روانه**
**وحشتناکه،لړزونکې، ناخبره،نابېره، نا انسانه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او:

**تږی وږی، شونډې وچې، پټ په دوړو**
**اخر ورسېد خپل ښار ته**

ب/ د صفت او موصوف د ځای بدلولو ځانګړنه پکې زیاته ده:
مثلاً ،**هغې ښکلې په هغې خړه تیاره کې د ماښام تور.**
یا: **جوړاوه یې د ښار ګردچاپېر دېوال لوړ.**

ج/ د تکریر له بدیعي صنعته ډېره استفاده شوې ده، یعنې په جمله کې د کلمې تکرار وینو: مثالونه:
**رنګ یې تور و لکه زړه د تورې شپې تور**

یا:
**په بې لارو خطا لارو یم راغلی.**
دال / کله کله د اضافت دال حذف شوی دی، لکه دلته د جملې د سر دال:
**قهرمان د ازادۍ معنا هم دا وه.**

ه/ په دې اثر کې ځینې داسې سیمه ییز لغتونه استعمال شوي چې په عامه پښتو کې نشته او په دې ډول د لیکنۍ ژبې زېرمه ورسره بډایه شوې ده، مثالونه: منډوګي، ګوردمه

و/ کله،کله نوي ترکیبونه هم وینو لکه: دېو انسان.
ز/ د (سره) دوه سېلابي کلمه یوه سېلابي راغلې ده چې دا هم د لهجې اثر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز که د کتاب په عنوان کې د ( ځانځاني) په ځای د زه ولي، ځانولي، انانیت یا ځان ماري غوندې کلمه وای، مفهوم به لا ښه رسېدلی و.

که له ادبیاتو مقصد دا وي چې ژوند لا ښه وپېژنو، ځانځاني ښامار همدې مقصد ته د رسېدو په نیت لیکل شوی دی. ما دغه اثر څو ځله لوستی دی او هر ځل مې احساس کړی چې له ژوند سره لا ډېر بلد شوی یم.

پوهاند ډاکټر مجروح د علم النفس عالم او په نوې او زړې فلسفې خبر ادیب دی. د ده ذوق او پوهې پر لوستونکي ډېر ښه لورولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***د لیکونکي له خوا***

# یو څو لومړۍ خبرې

دا کوچنۍ مجموعه د لومړي ځل د پاره د "اژدهای خودي" تر عنوان لاندې په دري ژبه په کال ۱۳۵۲ کې خپره شوه.
دوستانو او د نظر خاوندانو ډېره خوښه کړه، مگر ځینو دوستانو افسوس وکړ، چې کاش دا مضمون په پښتو ژبه کې هم بیان شوی وای. زما سره پخپله د "اژدها" له خپریدو پخوا دا فکر او دا نیت و چې یو وخت به خپل مطالب په پښتو هم را اړوم ،تر څو آخر لږ څه فرصت او فراغت پیدا شو او "ښامار" پښتو بڼه پیدا کړه او څه زیاته برخه یې د "وړمې" مجلې په څو شمارو کې چاپ شوه.
اوس لیکونکی ویاړي چې دا مجموعه دکتاب په بڼه د حکیم سنایي غزنوي دتلین په مناسبت، د سیمینار دعلمي کمیټې په سفارش دادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له خوا نشرېږي. په رښتیا هم چې د دې کوچني اثر دخپریدو دپاره، دیو داسې علمي او ادبي مجلس له مناسبت څخه پرته بله بهتره مناسبه موقع نشي پیدا کیدای، ځکه چې دا اثر د حکیم سنایي له ستر انساني پیغام سره ټینگ او ژور پیوندونه لري. په دې مهم ټکي به دخبرو په اخر کې څه رڼا واچوو. اوس پکار ده چې پخپله په کتاب څه لنډې خبرې وشي.
د ښامار سبك:
شك نشته چې د اوسنۍ مجموعې عمده او اساسي فکرونه او مضمونونه هماغه دي، چې په "اژدهای خودي" کې راغلي دي، مگر د اژدهای خودي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځانځاني ښامار" په منځ کې ځينې مهم ترپيرونه هم شته. د محتوياتو له پلوه په "اژدها" کې ځينې مطالب شته چې په "ځانځاني ښامار" کې حذف شوي دي، يا په ډېر اختصار بيان شوي دي او ځينې نوي مطالب په پښتو کې راغلي دي چې په دري کې نشته.

د شکلياتو له پلوه، "اژدهاي خودي" په دري کلاسيك ساده نثر ليکل شوی دی او په پښتو کې د "ښامار" د مطالبو د بيان د پاره، د پښتوژبې د اصيلې روحيې سره سم يو خاص قالب او نوی چوکاټ جوړ شوی دی. د "ځانځاني ښامار" ژبه نه نثر دی ،ځکه چې وزن لري، او نه نظم دی ،ځکه چې د قافيو او رد يفونو مراعات پکې نه دی شوی او نوی شعر ورته ويلای شو، مگر دا چوکاټ د اوسنيو نويو شعرونو تقليد نه دی، بلکې د دې چوکاټ په جوړښت کې د پښتو د شفاهي ادب د ځينې اشکالو څخه او د پښتو د ليکلي ادب د ځينې زړو نثرونو څخه الهام اخيستل شوی دی، په دې شان د " ښامار" سبك داسې يو سبك دی چې هم د اوسنۍ نړۍ د نوي شعر بڼه لري او هم د پښتو ژبې په شفاهي او ليکلي ادب کې پخې ريښې لري او که څوك د ټکو خج او د عباراتو صحيح تلفظ ته دقت وکړي، نو دا مجموعه به سر تر پايه د يوه ساده روان او ازاد شعر په شان ولوستلای شي ، ځکه هڅه شوې ده چې په عبارتونو کې هيڅ سکتگي نه وي او هره جمله يا په (۴) يا په (۸) يا په (۱۲) او يا په (١٦) سېلابونو دربېري. د ښامار د سندرې اصلي او بنيادي وزن، څلور سيلابي موزونه جمله ده چې بيا څلور څلور سيلابه پرې اچول کېږي چې کله ترې اته سيلابي کله دوولس سيلابي او کله هم شپاړس سيلابي جمله جوړېږي.

دا وزن، چې ليکوال ورته اوس "د ښامار سبك" وايي، د پښتو ژبې يوه پياوړي اديب او شاعر دومره خوښ کړ چې په همدې يې يوه قطعه اوږد شعر ووايه. ښاغلي بينوا "د ښامار" په وزن " د کلو رنځور" ترعنوان لاندې يو شعر چاپ کړی دی چې داسې شروع کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها خوا دې خوا، (۴سیلابه)
غځیدلي هسك دنګ غرونه (۸ سیلابه)
ښکلوي د اسمان شونډې (۸ سیلابه)
په سرو یې پګې سپینې سپینې واورې (۱۲ سیلابه)
پټ په زړو کې یې لعلونه (۸ سیلابه)
شنې تالې شنې یې لمنې وي د سرو غاټولو ډکې(۱٦ سیلابه)

❁❁❁

## د ښامار سندره:

د لیکونکي په نظر، په دې اثر باندې اوږدو مقدماتي خبرو ته ضرورت نشته، ځکه د کتاب متن پخپله خپل حال بیانوي، خو بیا هم د لوستونکو دڅه اسانتیا دپاره دمتن په اصلي مطالبو یو څو لنډې خبرې به بدې نه وي.

"ځانځاني ښامار" د انساني ژور طبیعت د تمرد او عصیان بیان دی او دا واقعیت درې جلا اړخونه لري: یو یې نفسي انفرادي اړخ دی، بل یې اجتماعي او سیاسي اړخ دی او دریېم د دې دواړو اړخونو ترکیب دی او هغه د انساني موجودیت فلسفي معنی ده. نو اوس دا پوښتنه پیدا کېږي چې د داسې انساني درې اړخیز واقعیت د بیان د پاره به کومه ژبه او کوم راز کلام مناسب وي؟ د دې پوښتنې ځواب به دا وي چې د دې بیان د پاره دوه لارې شته: یوه هغه لار ه چې دا درې اړخه جلا جلا وڅېړل شي او د یوه علمي تحلیلي کلام په کمك او د علمي دقیقو مفاهیمو په وسیله بیان شي او بل به یو داسې ترکیبي کلام وي چې عین مضمون او عین بیان دغه درې معناګانې په ځان کې ځای کړی شي او درې واړه معناګانې په یو آن بیان کړی شي. دا کلام شعري ترکیبي کلام دی چې د سمبولونو او رمزونو څخه کاراخلي. د رښتیني شعري کلام ارزښت او عمق په سمبولیسم کې دی. په یوناني ژبه کې د سمبول لغوي معنی غونډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو ځای کول دي . سمبول هغه دی چې په یوه لفظ یا یوه مضمون کې معناګانې ځایوي او یو مفهوم په بشپړه او کامله معنی را اخلي، ظاهري معنی باطني معنی له ځان سره را کاږي او باطني معنی په ظاهري معنی کې تجسم کوي، د مثال په توګه د کتاب په متن کې د "ښار" یا د "دشت او صحرا" مفاهیم راغلي دي او په بشپړه سمبولي معنی را اخیستل شوي دي، له "ښار" څخه مراد پخپله "ښار" یعني دخلکو متراکمه ټولنه ده او هم ټولنیز ژوند او اجتماعي روابط او هم د دې ژوند او روابطو تاثیر او شورماشور د انسان په ذهن او نفس کې ترې مراد دی. همداشان "دشت او صحرا" پخپله دغه محسوس واقعیت دی او هم د یوه وچ بې حاصله فکر او دیو بې درده ذهن معنی ترې را ولاړیږي.

په دې مجموعه کې دا شان شعري کلام سمبولي کلام غوره شوی دی، نه کوم علمي تحلیلي او تشریحي کلام (*) او د دې په ځای ، چې پر دې موضوع باندې درې ډوله جلا مفصلې رسالې ولیکل شي، یواځې یوه شعري قطعه وویل شوه.

که وغواړو چې دا مجموعه له یو بل څه سرمقایسه کړو، نو وبه وایو، چې دا اثر د کومې علمي او تخنیکي آلې سره شباهت نه لري، بلکې د موسیقۍ آلاتو ته زیات ورته دی، ځکه دلته هڅه شوې ده چې هره پارچه او هره جمله د رباب یا ستار د پردو په شان وي، چې کله څلورمه پرده وښورول شي، نو اتمه او دوولسمه پرده هم ورسره ښوري. کله چې کوم نفسي واقعیت په شعري پیرایه کې بیان شي، دا مطلب فوري خپله اجتماعي او سیاسي معنی راسپړي او دا دواړه بیا د انساني موجودیت فلسفي معنی ته ګذر کوي. همدا شان هڅه شوې ده چې د داستان تسلسل هم سرتر پایه د رباب یا ستار د پردو په شان برابر شي. که لوستونکي د دې اثر په لومړي وار لوستو سترې نشي او دوهم او دریم وار پرې نظر واچوي، نو ور معلومه به شي چې هر مطلب ،چې په هر څرخ او پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بیانېږي، دا مطلب په نورو څرخونو او پړاوونو کې څو څو وارې په نورو بڼو او پیرایو کې انعکاس کوي، نو ځکه د دې مجموعې یو وار لوستل به لکه د رباب د آلې سره لومړۍ اشنایي وي، یواځې په دوهم او درېیم وار لوستو سره به په پردو باندې گوتې اېښودل ممکن شي او د ښامار سندره به معنی پیدا کړی شي.

❋❋❋

## د ښامار (پیغام):

د ښامار د سندرې لنډ مطلب په دې شان دی:

د دې داستان قهرمان د "تیمو شپو لاروی" دی. دا ځکه چې په تورو تورو شپو کې مزلې کوي او غواړي، چې رڼا ته، یعنې دانساني ژوند رښتینې معنی ته ځان ورسوي. دا حقیقي معنی هغه دریاب دی چې غاړې یې له انسان څخه ورکې شوې دي او د معنی د دغه رڼا ساحل ته ور رسېدل، لکه د پریانو هېواد ته رسېدل دي. ډېر اوږده سخت مزلونه غواړي او له ډېرو پړاوونو او مرحلو څخه تېریدل په کار دي.

د دې معنی د پیدا کولو د پاره، د داستان "لاروی" په لومړي قدم کې ځان تجریدوي. د ښار یعنې د ټولنیز ژوند څخه وځي او په دې مقصد چې د ځان او جهان په معنی پوه شي، په ځان کې ننوځي او گوري چې په سپېرو دښتو او وچو بیابانونو کې مزلې کوي. دا وچ او اغزن ډاگونه د ده ذهني او روحي جهان دی.

دلته "لاروي" ته دا پوښتنه پیدا کېږي چې د دې آفت علت به څه وي؟ بیا په هغه دښته کې زړې، خرابې او کنډوالې ویني او ددغه وران شوي ښار له داستانه خبرېږي ،د افت علت ورته معلومېږي او پوهېږي چې هم د انسان په فردي نفس کې او هم د ټولنې په نفس کې داسې یوه توره بلا راپورته کېږي او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ښامار پرې مسلط کېږي چې د زړه او ذهن ابادۍ ړنګوي، د ژوندون چينه وچوي، د ژوند معنى ورکوي او په ټولنه کې ترې داسې استبداد راولاړيږي چې انساني رښتيني ارزښتونه له منځه وړي، انسان خوري او ښار يعنې ټولنه ورانوي او کنډوالې ترې جوړوي. دا بلا او آفت د ځانځانی ښامار يعنې پخپل ځان مين، خود پرسته شعور دی. لاروی د دې بلا تماشه کوي او وينې چې ښار څرنګه ورو ورو ړنګېږي او آخر د مرګ په خوب بيدېږي.

په دوهم څرخ کې "د نيمو شپو لاروي" ته دا پوښتنه پيدا کېږي چې دا بلا يعنې ځانځاني ښامار يا په ځان مين خود پرسته شعور څرنګه را ولاړېږي او له کومه راځي؟ د دې علت د موندلو د پاره ، لاروی يو بل ګران سفر کوي او د لاشعور د سمڅې تل ته کوزېږي او ورمعلومېږي، چې دا ځانځاني بلا د بل کوم ځايه نه راځي، بلکې د انسان د خپل ذهن او لا شعور له ژورو څخه را پورته کېږي او انسان يې پخپل لاس پر ځان مسلطوي. کوم وخت چې لاروی د ژوند له دې لوی رمز څخه پرده پورته کوي، نو په دې نيت چې د ښار خلکو ته حقيقت بيان کړي او د ښامار دبيا راتلو څخه يې خبر کړي، نو په بيړه بيړه ښار ته ستنېږي، کله چې هلته رسېږي، نو ګوري چې ناوخته شوې ده او ښامار د يوه ظالم او مستبد فرماندار په بڼه په ښار حکم چلوي او له ښار څخه يې يوه بدبخته نا انسانه ټولنه جوړه کړې ده. لاروی په خبرو پيل کوي او خلکو ته حقايق بيانوي، خو خلك ور پورې خاندي او مجنون او لېونی ورته وايي. لاروی په ښار کې ګرځي او تماشه کوي چې څرنګه ښار ورو ورو ړنګېږي، انسانان تباه کېږي او اخر هر څه يو ځل بيا دمرګ په خوب بيدېږي او بيا له دې نه وروسته لاروی څه کوي؟ د دې پوښتنې ځواب به لوستونکي د کتاب په متن کې پيدا کړي.

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حکيم سنايي غزنوي په درناوي

د دې کوچني اثر نيکمرغي په دې کې ده چې د حکيم سنايي د بين المللي محفل په مناسبت چاپيږي. غزنوي حکيم د تصوفي او عرفاني جهان هغه ستر شخصيت دی چې د نفس د ښامار په مقابل کې يې بغاوت وکړ، له دې بلا سره وجنګيد او د دې تورې بلا خطرونه يې په خپل بې ساري کلام کې بيان کړل. د ده په شعر کې داسې يو لوی پيغام پروت دی چې لا اوس هم هيڅ زوړشوی نه دی، بلکې بر عکس د اوسنۍ فلسفې او علم النفس په رڼا کې يوه نوې او ژوره معنی پيدا کوي.

حکيم سنايي په خپل مشهور اثر "سيرالعباد" کې د انساني معنوي تکامل هغه سختې لارې او ګران پړاوونه ښيي، چې زموږ د کوچني اثر لاروی پرې روانيږي. هلته هم د يوه لاشعوري او جامد پړاو څخه سفر شروع کيږي او په لار کې د نفس راز راز بدې تورې بلاګانې د مسافر مخه نيسي او د پرمختګ مانع کيږي مګر د عقل په زور او لارښوونه، مسافر ټولې سختۍ او زحمتونه ګالي، ګرانې مزلې کوي، د يوه نفسي پړاو څخه بل نفسي پړاو ته ور جګيږي، تر څو چې مسافر د شعور او ځان پېژندنې پراخ او روښانه ميدان او بې انتها افق ته رسيږي. "سيرالعباد" د انساني رښتيني معنوي تکامل او د انساني ژوند د حقيقي معنی او ارزښت پلټنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا ځانځاني ښامار هم د حکيم سنايي د دغې عظيمې هڅې او بې سارې پلټنې يوه کوچنۍ ادامه ده او په يوه بله شعري او روحي بڼه کې او په نورو اجتماعي او فلسفي ابعادو کې. دلته هم د ښامار پر ضد دغه ستر ژور بغاوت را ولاړ شوی دی او دغه لويه سخته مبارزه روانه ده.

هيله ده چې پښتانه لوستونکي به د حکيم سنايي غزنوي د لوی انساني پيغام درناوی وکړي او د دې ښامار کوچنۍ سندره به د زړه په غوږونو واوري.

پل سوخته، سرطان ۲۲

کال ۱۳۵٦

(*) د داسې علمي تحليلي کلام مثال په پښتو ژبه کې د ليکونکی اثر د جبر او اختيار ديالکتيك دی چې د انساني واقعيت د نفسي، اجتماعي او فلسفي اړخونو باندې جلا جلا بحث کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانځاني ښامار

**راشـــه وګـوره نـــن دا طــــــراز زما**
**حـــــقيقت سره قـــرين مجـاز زما**
**درست عالم مې په بازار په کوڅه وايي**
**لا و چـاته ښــــــکاره نه دی راز زما**
**خوشحال خټک**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته پسې درومم په کوم لوري به يې مومم؟
ورکه مـــــوندی نه شي بې رهبـره بې سراغـه
خوشحال ختټك

# پرولوگ
# د ورك سمندر غاړې

داسې وايي:
چېرته لرې يو لوی ښار و
اوازه يې د ښايست خپره هر لوري
په دې ښار کې اوسيده يو لوی سړی هم ا
د ولس په هوښيارانو کې هوښيار و
سوچ وهل فکر کول يې کسب او کار و
د جهان او ژوند رمزونه لټول ده
په دفترو، په اوراقو، کتابو کې
يوه ورځ د ورځ يې دا شانتې بيان کړو:
"تر کوم وخته چې دا زمکه دا اسمان وي
تل دهر انسان دوزخ به بل انسان وي"
گومان نه کړمه چې دا به حقيقت وي
ما ملکونه هېوادونه ډېر ليدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صحرا کې ما اوږدې مزلې کړې
ځينې ځينې حقايق مې دي موندلي
څو رښتيا رښتيا خبرې مې راوړې
يوه دا چې:
دا ژوند څه دی؟
يو مرموزه سمندر دی
خو ددې سمندر غاړې پورې لار شته
او ددې لارې لومړی پړاو دوزخ دی
بله دا چې:
جهنم نه چيرته لرې دی نه پټ په بل جهان کې
جهنم د هر انسان دی هر انسان ته پخپل ځان کې
د دوزخ په لور سفر دی
ځانځانۍ ته ستنېدل تل
راشه واوره اوس ددې سفر داستان ته

❁❁❁

يوه ورځ د ورځ ماښام خړه تياره وه
زه راووتم دښار له شور ماشوره 2
دروازې د ښار شوې پورې
شوم روان د دښت په لوري
حال ويجاړې
لټولې مې دورك سمندر غاړې

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیابان و، تروږمی وه، توره شپه وه
خو له ماسره دننه یوه ډیوه وه بلیدله
دا ډیوه د تیر وختونو خاطره وه
انسانان مې لا لیدل د خیال په سترګو
دغمجنو فریادونه، ډك له قهره اوازونه
غبږ د مینې محبت مې لا ترغوږ و
ماشومان مې له نظره تېرېدل چې،
د کمر په سر روان وو
دسیند غاړې منډوګي ته کوزېدل ټول
غونډول یې سیندنې ځلانده کاڼي
لوړ برجونه یې د شګو جوړول بیا
هی ټوپونه لاندې کول وو
تښتېدل وو ځغلیدل وو
شور او زوږ و
زیړی لمر د مازیګر مې تر نظر و
چې رمې به له دښتو راستنېدلې
شین غبار به یې تر شا پورته کېدلو
تنورونه به په هره خوا لمبه شول
تور لوګي به یې تر اسمانه تاوېدل
جنکۍ وې له ګودره را روانې
شنېدلې، مستې مستې خرامانې

❃❃❃

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې شانې په هغې تورتم صحرا کې،
پټه پټه غلې غلې،
يوه رڼا شان دنيا ګۍ مې وه ملګرې،
د خپل خيال په لومه ګير وم.
په خپل ځان باندې کړۍ وړۍ چاپېر وم.
هی مزلې مې کولې

❁ ❁ ❁

چې شپه تيره شوه سهار شو،
نو د ښار له شور ما شوره،
ومه دورې دورې تللی
نه اواز نه انعکاس و.
تپه تپه چپيايي وه.
شپه که توره تروږمۍ وه،
خو مزل رڼا رڼا و.
سبا يې چې روښنايي شوه،
رسېدلی ومه زه بيا،
د يوې تورې نا اشنا مغارې خولې ته ۲

❁ ❁ ❁

چې خپره شوه دسهار رڼا هر خوا ته،
ګير چا پير دنيا بې شانه نا اشنا وه،
را معلومه شوه چې ډېر وم لرې تللی،
انسانانو له جهانه چيرته دورې پرېوتلی،
يوه سوزانه د اغزو ډکه صحرا وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړېدلې د اسمان تر کنارو خپره لمنه.
له کوم وخته چې جهان را پيدا شوی،
په ډبرو کې وچ شوی،
د يو خوړ کوړ ووړ بسترو۳
لوی لوی غرونه تور ديوان وو،
ساه نيولي په خپل ځای باندې کلك شوي،
پټه خوله ساکت خاموشه،
يو د بل تر شا ولاړ وو منتظره
ښکارېدله، کومه لويه حادثه وه را روانه،
وحشتناکه، لړزوونکې، نا خبره، نابېره، نا انسانه۴.
نږدې ما وته د سمڅې توره خوله وه،
ننوتې چيرته لرې،
نا پايابه، ورکه ورکه په ناشنا ناشنا تورتم کې.
❁❁❁
دا عجيبه تماشه وه،
نا څاپي مې شوه له سترګو پرده پورته،
د ښاريانو د ژوند رمز شو را برسېره،
انسانان ولې استوګنه په ښارو کړي؟
په برجونو، ماڼۍ ګانو، پخو پلنو ديوالو کې؟
آدمزاتي جوړوي لوی لوی ښارونه،
له ښارو نه تاووي لوی ديوالونه
بيا دننه په کورو کې اقامت کړي،
بيا يو بل سره په شخړو په جنګونو،
په نېکمرغه ژوندون شپې سبا کوينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ژوند څخه مراد د انسان څه دی؟
هغه دا دی:
له دې دښت څخه ډېر لرې اوسېدل دي،
له دې تورو غرونو سترګې پټول دي.
د تيارې تروږمۍ سمڅې هيرول دي ۵

❁ ❁ ❁

انسانان يوازې يو څه نه ډاريږي:
چې کوم وخت چېرته بهر لاړ شي له ښاره،
بيا ناوخته شي ستا نه د ښار په لوري،
توره شپه وي، تروږمۍ وي،
دروازې د ښار تړلې کلکې پورې ٦

❁ ❁ ❁

د ښار هيڅ يو اوسيدونکی جرات نه کړي،
چې د ښار له دروازو نه دورې لاړ شي.
خو چې کله شي ستومانه له جنګو، له ستېزو نه،
نو د شپې سره راغونډ شي د کوچنۍ ډېوې رڼا ته.
بيا له دې ناشنا دښتونو نه کيسې کړي.

❁ ❁ ❁

وايي وايي:
"يو لوی غار دی چېرته پټ پروت،
توره خوله يې هيبتناکه، ننوتې ځمکې تل ته،
رسېدلی د دوزخ ناشنا درشل ته.
نيمه شپه ترې ډاروونکې ارواګانې راوزي، ځي،
غرو غونډو کې ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي کېږي لوی کنډونه ګړنګونه،
تور ديوان ترې نه جوړيږي.
د وچ رود کوږ ووږ بستر هم،
را ژوندی شي اژدها شي ؛
بيا روان د دښت په لور شي،
کله کله هم نږدې ځي، د ښار پورې دروازې ته ... "۷
دا کيسې ټول ماشومان په دقت اوري.
ځکه ځکه په معنی يې ښه پوهېږي.
او لويان ورباندې خاندي مسخرې کړي.
خو په زړه کې ښه ببرېږي پټ لړزېږي.

❋ ❋ ❋

مګر زه ومه له هغه بيابانه،
راتېر شوی بې خبره له خطره .
د سهار په پلوشو کې،
چې ښه ځير شوم دې دنيا ته،
نو يو بل راز حقيقت راته ښکاره شو:
د ښار خلك يو پر بل دومره اخته دي،
يو د بل په ښو او بدو دومره بوخت دي،
چې بهر له ځايه نه ځي،
هيڅ نظر په جهان نه کړي.
خبر نه دي:
چې د دوی ښايسته ښار خو، ۸
لوړ برجونو، دېوالو سره،
په دې دښت او بيابان کې ډېر کوچنی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر نا ځيزه،
يوه واحه ده په صحرا کې نامحدوده،
جزيره ده په درياب کې ناپايابه ۹
خبر نه دي:
که توپان له ريگستانه را ولاړ شي،
که دا بحر نا څاپي متلاطم شي،
نو د سترگو په يو رپ کې،
ښار حصار به پاتې نه وي،
هست او بود نيست او نابوده.

❁❁❁

زما بېره وه له دې بې خبرۍ نه،
له دې هسې بې غمۍ نه.
ډارېدمه:
چې يوه شپه د شپو به مړه وي چراغونه،
انسانان به ډوب پراته په خوب بيده وي،
ددې غار له ژور تل نه به راووځي.
د تور تمو ارواگانې، ۱۰
په دښتو باندې لښکرې،
او ترخو چې سبا کېږي،
ښار به نه وي،
ترې به پاتې کنډوالې وي، ويرانې وي.

❁❁❁

سره له دې هم،
د صحرا له توپانو مې بېره نه وه،
نه تشويش د سمندر لويو څپو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډارېدم زه،
د خپل زړه په ژور تل کې:
له ښاماره .!!
له هغه عظيم ښاماره،
چې له دې سمڅې راووځي،
او بيا ځي د دښت په لوري،
بيا نږدې شي کلي ښار ته،
ښکار کوي د انسانانو.

❁ ❁ ❁

زه حيران يم:
ښاريان ولې نه بوګنېږي، نه ويښېږي؟
ولې نه اروي دوينې زړه په غوږونو
پيغامونه پټ پراته په افسانو کې؟
د دې سمڅې ژور تل نه،
يو پيغام را پورته کېږي.
خو د دوی ورته غوږونه کاڼه ښکاري
اوريدلي به دوی نه وي؟
چې په تېرو زمانو کې يو لوی ښار و،
د ښاريانو له غفلته،
يو ښامار پرې مسلط شو،
چې خوراك يې انسانان وو.
د ښايسته ښار نه يې جوړه کنډواله کړه.
آدميان يې کړه دننه په خپل ځان کې.
ښار د مرګ په خوب بيده شو.

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر زه اوس دورې پروت يم،
طولاني سفر مې کړی په چوپتيا کې.
انسانان دي لرې لرې.
له ښارو څخه يم دورې پريوتلی.
غږ مې چاته نه رسېږي له دې ځايه.
لاروی د نيمو شپو يم.
د غار تورې خولې ته ناست يم.
هك حيران يم چې به څه کړم؟
د ښار خلکو ته به څه شان رسومه،
خپل پيغام اوس؟

----------------------------------------

۱- جان پول سارتر د فرانسې وجودي معاصر فيلسوف.
۱- ښار يعني گډ اجتماعي ژوند.
۲- يعني لاشعور.
۳- د شعوري ذهن ساحه چې ځانځاني شعور پرې فرمان چلولی دی.
۴- راتلونکی ذهن او روحي انقلاب.
۵-يعني د حقيقت سره نه مخامخ کيدل، د لاشعور څخه ډار.
٦- يعني د تجريد او يوازې والی څخه ....
۷- د لاشعور د محتوياتو انعکاس په قصو او فسانو کې.
۸- اجتماعي ژوند، ټولنيز نظام او امنيت.
۹- د ژوند او مستی پراخه ساحه.
۱۰- اوهام او خرافات.
۱۱- ځانځاني، په ځان مين خود پرسته شعور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درون کې مې پراته دي ډېر ګنجونه
په معنی کې لکه کان د سيم او زر يم
که مې لاس لکه درياب خالي ليده شي
د ټټر دننه ډك په در ګوهر يم
که مې حلق د تندې وچ شي په همت کې
پروادار کله په حوض د کوثر يم
لا يو شور راځنې لاړ نه وي بل راشي
مګر زه پيدا په ورځ د شور و شر يم
خوشحال خان ختټك

## لومړی څرخ
## تور ښامار د مرګ په لور ځي

لومړی پړاو: هغه ښار چې ټول ښاريان يې
رنځوران وو
دوهم پړاو: د مه ځای چې پکې ځای
د دمې نه و
درېيم پړاو: د دوزخ له درشل دې خوا
څلورم پړاو: د دوزخ له درشل ها خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی پړاو

## هغه ښار چې ټول ښاريان يې رنځوران وو

لاروی د نيمو شپو وم،
هلته ناست د سمڅې خولې ته،
هك حيران وم.
نږدې هلته،
ښکارېده ړنگ ديوالونه،
کنډوالې وې د کوم زوړ لرغوني ښار دا. ا
رواقونه ځوړند ځوړند مرمري ستنې ولاړې ځنې ملاستې
داسې فکر مې کولو:
اخر څوك به راپيدا شي.
زمانې به وريادېږي تېرې تېرې.
د دې ورکې ابادۍ
خبر به واخلي.
د دې ښار تېر شوی ژوند به رابيان کړي.
راته وبه کړي کيسې زړې زړې هم.

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو جنت خاورین خاورین
وایي: دلته پخوا ښکلی ښایسته ښار و ،۲
اوازه یې د ښایست خپره هر لوري.
سیاحان به له دې ځایه تېرېدل تل،
شپه او ورځ به یې مزل کړو،
په ځنګلو، په چمنو کې، د سیندونو رود خانو په غاړه غاړه،
څرېدل به ګرځېدل به مست وحشي اسان هر خوا ته.
بې له ډاره، بې له قیده،
غرځنۍ به وې رواني، شنو دښتو کې،
بیا به تللې نږدې ښار ته،
ماشومانو سره یو ځای لوبېدلې.
له سهاره تر ماښامه،
د توتیانو، د بلبلو چغهار و په درو په سر درو سمسور باغو کې.
انسانانو لا زده نه و، د پنجرو د جوړو چل.
ښار بې در بې دروازې و،
نه خندق، نه کوم دیوال ترې نه چاپیر و.
ښکلي ښکلي وو کورونه اباد شوي،
ګڼ باغو شنو چمنو کې.
لویې لارې هر خوا تللې،
سیند په غاړه شنو دښتو ګورو ځنګلو کې.
ځوانو پیغلو به دا ښار سمبالولو،
یا به ناستې د زلمو سره غېږ په غېږ وې،
سیند په غاړه په بیشو کې.
را ز و نیاز د محبت و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلول وو، ځغلول وو.
او سپین ږیري مشران به،
په دیرو کې، د چنار سیوري ته ناست وو
تدبیرونه، مرکې وې، مشورې وې.
ماشومانو به شور زوږ کړو،
خړپېدل به په اوبو کې،
لوبېدل به یا د دښت دغرځنو سره.

❁❁❁

که به څوك اخته په قهر په غضب شو،
یا به زړه د چا غمجن شو،
په دې رنځ اخته رنځور و،هم به یې ځان رنځور گاڼه.
په دې ښار کې هم یو پوخ حاذق حکیم و،
ددې هسې رنځورانو یې علاج کړو.

❁❁❁

انسانانو لاموندلی چیرې نه و،
غلامۍ د باداری چل.
په دې ښار کې، نه هیڅوك د چا مریی و نه بادار و.
وینځه نه وه، بي بي نه وه، فرماندار نه.
فرمانداره حقیقي په هغه ملك کې،
یك یواځې ماشومان وو.
ځکه ځکه خلکو دا شانې باور و،
چې کوچنیان له طبیعت سره نژدې دي،
د عالم پټ پټ رمزونو نه خبر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا هم چې ماشومان به پوهېدل ښه،
په خبرو د مرغانو ځناورو،
د دښتو غرونو رغونو،
دریابونو، ځنګلونو،
ارواګانو سره اشنا وو،
دوی خبر وو چې پرته ده چېرته پټه،
توره سمڅه هیبتناکه، ناپایانه.
رمز اسرار دمغارې ورته معلوم وو.
نو دا ځکه په مهم مهم کارو کې،
د کوچنیانو نظر یې ته درناوی و.
د کوچنیانو په مسلات به،
غټ کارونو کې تکل شو.
نو دا ځکه کله کله،
مشران او ماشومان به غونډېدل ټول،
د چنار تر سیوري لاندې په دېره کې،
په خندا خندا په لوبو،
غټې غټې فیصلې به شوې روانې.

❁❁❁

## لوی فاتح د ټول جهان

یوه ورځ د ورځې کله،
چې ګلونه د همیش په شان تازه وو،
ماشومان په شور او ځوږ د رود په غاړه،
ځوانان پیغلې ناست په رازو نیاز د عشق وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مرغان بوخت په چیغار وو،
ناڅاپي را والوتله،
یوه ترخه سړه سیلۍ وه،
له دښتو له بیابانو را پاڅېدله،
د افق د کنارو نه،
تورې وریځې شوې راپورته.
څنګ چې لمر په پرېوتو شو،
نو له ورایه راښکاره شو،
یو ناشنا سړی په اس سپور.
اس یې تور، جامې یې تورې،۳
پولادي اوږده نېزه یې وه په لاس کې،
ډال تر شا توره یې تر ملا وه،
لینده غشي ورسره وو،
هم په سر یې یوه خوله پولادینه،
پرې څېره د اژدها نقش.
را روان و، را روان و،
د ښار لویې دروازې ته رانژدې شو.
له نژدې څیره بل شان وه:
دواړه سترګې یې د وینوکټوري وو،
مخ بشرې نه یې غضب لمبې لمبې خوت،
دېو مزاجی، دېو پیکری، دېو انسان و،
را روان و، راروان و.
ښځې، نر، زاړه ،ځوانان هم،
ماشومان ټول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابهر شولو له ښاره،
د ناشنا سپور تماشې ته.
تور لباسي سپور نېزه کړه خپله پورته.
جګ اواز يې هيبتناك و،
ډك له قهره له غضبه،
دا وينا يې ښار ته وکړه:
تاسو واياست زه به څوك يم؟
زه خو "زه" يم، زه "ايګو"۴ يم.
درست نړۍ کې پهلوان يم،
لوی فاتح د ټول جنګونو د جهان يم.
له دې وروسته ستاسو ښار زما تابع دی،
تاسې ټول د قهرمان تر فرمان لاندې.
که هر څوك زما فرمان ته غاړه نه ږدي،
نو سزا به يې په دې دم او په هر دم،
هم په دې نېزه وژل وي، څېرول وي.
سم له دې وينا سره يو ځای،
پهلوان په لور د خلکو،
اشاره دنيزې وکړه په درې وارې.
بيايې ووې:
"هغه څوك چې مې فرمان وړي په سر سترګو.
هغه ټول به په امان وي،
زه د دوی د سرو سيوری،
زه د دوی د ژوند ساتونکی."
په دې وخت کې نژدې هلته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرڅنۍ وه ګرځېدله مسته ۵ مسته،
ساده زړې، بې خبره، وه معصومه پاکه پاکه.
قهرمان ژر په لینده کې غشی کېښود.
په یو کش غشی روان شو.
غرڅنۍ زړګی شو څیرې.
شوه خپره وره په خاورو.
نو یې مخ کړلو د ښځو په طرف بیا،
داسې ووې:
"نن مې اوږد مزل کړی په دښتو کې.
لږ ستومانه شانتې ښکارم.
هم مې زړه کېږي خوراك ته،
ورځئ لاړې شئ پالنګ راته تیار کړئ!
او هم دغه غرڅنۍ راته وریته کړئ! "
یو ځل لوی عظیم سکوت په هر خوا پلن شو.
غرڅنۍ لاړې په تېښته،
لویو غرو لیرې دښتو ته.
هم له دغه زمانې نه را په دېخوا،
لا تراوسه،
غرڅنۍ بېرته ستنې نه شوې ښارو ته،
ترېدلې رمېدلې له انسانه.
مرغۍ هم په هغه سات شولې خاموشه.
ځنې لاړې شوې کوچۍ نورو ملکو کې مهاجرې
نورو سوړې لټولې، پټېدلې، ترېدلې.
نارینه د قهرمان تر فرمان لاندې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کار بوخت شول.
جوړوه يې د ښار ګرد چاپېر دېوال لوړ،
هم برجونه مستحکمه حصارونه،
هم يو لوی ژور خندق کيندل کېدلو.
بيا چا نه اورېد شور ځوږ د ماشومانو،
ځکه دوی له خپل کورو نه،
بهر نشو نور وتلای.
زلمو پېغلو ته و امر،
چې بيا هيڅ په ښکلولو راز د مينې،
خپل وخت نه کاندې تلف نور.
او دا ځکه،
فرماندار بې شان له دوه څيزه بېزار و:
عشق بازي يوه د ځوانانو، بل خندا د ماشومانو.
ښځې بوختې په پخلي شوې،
په خدمت شوې، په هغې ښکلې ماڼۍ کې،
چې اباد وه د ځوانانو د لاسونو په تناکو،
په خولو د مړوندونو.

❁ ❁ ❁

اژدها ته ستاينځای،٦
ستر ټولواکه پهلوان بيا،
خپلې هسکې ماڼۍ خوا ته،
ابادي يې بله وکړه باشکوه.
نوم يې شو د عبادت ځای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معبد و، ستاینځای و، د ښامار مار.
د ټولواك مجسمه وه،
له ډبرې جوړه شوې،
نیم وجود یې د انسان نیم اژدها و،
ډېره لویه با عظمته وه ولاړه،
د معبد د گنبد لاندې.
یو بوډا به ستر راهب و،
جامې ژیړې، کمیس اوږد،
سر سرتور هم،
د بت پښو ته به تل ناست و ،
بیا به ده د بت له خولې کړه بیانونه،
امر او نهې، تهدیدونه، اخطارونه.
زوړ، زلمي، نارینه، ښځې به ورتلل ټول،
هره ورځې، لمر خاته لمر پرېواته هم،
دعاگانې، عبادت و، پرستش د اژدها و،
قربانۍ به یې کولې، شکرانې به یې راوړلې.
ټول ښایسته ښکلې شیان چې،
د هرچا وو په کورو کې،
ټول راټوی خرې خرې شول،
د بت پښو ته،
زیبایي له ښاره ولاړه،
په معبد کې زنداني شوه.

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ښاريانو نه يوازې،
يو دا زوړ راهب خبر و،
چې دا لوی قهرمان څوك دی.
دی به کله، د معبد نيمه تور تم کې،
د خپل خاصو شاگردانو سره ناست و .
پوهول به يې په اسرارو په رموزو.
ده به دا شانتې بيان کړو:

**سراعظم**

رهبانانو! راشئ واورئ دا بيان:
له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان
زمامدار زموږ لېوه دی،
لکه وينو ته چې تږي وي دغرو رغو لېوان.
زړه يې کلك لکه تور کاڼی د بيابان لکه سندان.
خو کاڼه دي آدميان،
خو ړانده دي عالميان، عبرت نه اخلي په يو آن:
"رهبانانو! له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان!
واياست ما سره په دعا:
اې څښتنه ته باچا يې د جهان!
که هم وځښې سمندر سمندر وينې، تنده ستا پسې لمبه شي صد چندان.
که هم وخورې غرونه غرونه زنده جان،
ولږه ستا پسې زيادت کا لا شدت کا.
په لېوانو کې لېوه له وړو وړی،
په درياب کې پروت نهنگ له تږو تږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کاڼه دي ادميان،
خو ړانده دي عالميان،
عبرت نه اخلي په يو آن.
رهبانانو راشئ واورئ دا بيان:
بني ادم ته واياست واياست: خولې توی کړئ په دې اور د خپل جبين، د مټو، لاسو
 څو دتندې لمبه پورته تر اسمان شي!
خو نړۍ قرباني وکړئ دې لمبه ته،
څو چې لوږه لا خپره شي په جهان!
نه پوهېږي د ښار خلك چې څښتن زموږ لمبه دی،
په لمبانو کې لمبه په وږو کې وږی،
په درياب کې پروت نهنګ له تږو تږی.

❁ ❁ ❁

اوس يې "اسم محضه" په خوله راوړمه،
هغه رمز د ټولو رمزو "سراعظم" بيانومه.
دغه سر باندې خبر شئ، خو له ځانه يې پټ ساتئ
په خپل زړونو کې پنهان.
هم له خلکو يې پټ ساتئ د اعمالو په جامو کې.
نو به خلاص ياست، له ګزنده له غضبه په امان.
"رهبانانو، ښه خبر شئ خو هيڅ وخت په خوله وانخلئ دغه نوم هېڅ!
لوی بادار زموږ ښامار دی، د ښامار موږ بنده ګان.
په چابکو کې چابکو نه چابکه،
د هر زور د زور د پاسه پهلوان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ړانده دي عالميان.
خو کاڼه دي آدميان.
عبرت نه اخلي په يو آن.

❁❁❁

"رهبانانو راشئ واورئ دابيان:
له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان!
يو کوچنی چينجی پيدا شو له هګۍ نه،
د دې سيمې د پستو نمناکو خاورو په زانګو کې زنګېده.
دا چينجی هسې چينجی و لکه نور هسې چينجيان:
هم بې لاسه، بې پښو، په سترګو ړوند و، بې قدرته بې توان.
ويل به خلکو دا چينجی دی.
خبر نه وو، دا چينجی نه و بلا وه، اژدها توره بلا وه.
چې رالوی شو، نو هېڅ ته ورته نه و.
شباهت يې و يوازې د خپل ځان.
دی مار نه و، ځکه ده لرل ښانګونه.
مرغه نه و،ځکه ده لرله خوله، اوږده غاښونه.
ابوالهول ته ورته نه و،
ابوالهول خو کړې پوښتنې له انسانه،
چې هر څوك به لا جواب شو، نو خوراك به د بلا شو.
ده پوښتنې نه کولې،
سوال ځواب يې عادت نه و،
بس فرمان به يې صادر کړو،
هی امرونه به يې کول.
چا چې غاړه له فرمانه غړوله، هغه غاړه غوڅېدله، هغه سر خوړل کېدلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یو داسې ځناور و، چې چیچله به یې هر حیوان،
خو دی چا چیچلی نه شو.
ژوندي سري به یې خوړل، خو دی چا خوړلی نه شو.
دی یو داسې سور انګار و، چې هیڅ نس سره نه طاقت د هضمولو،
نه تالو سره کوم قدرت د تېرولو .
که یو سر به ترې جدا شو،
نو لس، لس سرونه نور راشنه کېدل تل.
د دې سیمې زمامداره ،ټولواکمنه، آلهه د محبت وه.
شوه خبره له احواله، چې یوه بده بلا توره، ددې سیمه ورانوي اوس
نو راغونډ یې له هېواده هره خوا کړل، زور ور پهلوا نان قهرمانان ټول
ورته یې ووې: که څوك مړ دغه ښامار کړي، یا یې وشړي له ملکه،
نو یو لوی عظیم انعام به یې نصیب شي:
د ژوندون چینه به یې هیڅ وخت وچه نه شي،
هم پیدا به کړي د ورك سمندر غاړې،
هم د ماتې ناکامۍ بې ځایه درده، یا د فتحې کامیابۍ کاذبه خونده به ازاد شي.
نه پوهېږم، دا انعام قهرمانانو ته ښکاره شو بې ارزښته،
یا په ځان کې یې زور نه لید د ښامار قدرت بې شانه ورمعلوم
نه ښامار کړلو چا مړ نه هېچا وشاړه له ملکه

❁ ❁ ❁

زموږ لوی څښتن ښامارچې لوېږده نور تنده یې نوره زیاتېده،
ولږه یې نوره ډېرېده.
د ده تنده د انسان وه.
د ده ولږه د جهان وه.
نور ووت له هېواده، د دښتو په لور روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر لېوان يې تور تور مات کړل.
ډېرې وينې يې وزبېښلې.
څو قوي شو.
کاروانونه يې بې شماره لوټ تاراج کړل.
زورور شو.
دورې دورې هېوادونه يې نيول، لوی ښارونه، بې حسابه
انسانان يې کړل دننه په خپل نس کې.
ټول جهان ورته تسليم شو.
خونړۍ قربانيګانې شپه او ورځ د ده په مخکې،
ټول مخلوق يې بنده ګي کړه، پرستش کړ ، غلامي کړه.
بس يوازې، ددې سيمې خلك جهل کې ګمراه و.
آلهه دعشق او مينې يې ستايله،
او زموږ د لوی څښتن جلال عظمت نه يې سرپېچي کړه.

❁❁❁

"رهبانانو؛ له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان.
زموږ لوی څښتن ښامار خو په دور دسته هېوادو کې، وينې وڅښې دريابونه،
لوی ښارونه بې حسابه، انسانان يې کړه دننه په خپل نس کې
تنده يې بيا هم ماته نه وه.
ولږه يې لا هم زياتېدله.
ورپه ياد شوه ورته خپله زړه سيمه ،خپل وطن د چينجي توب خپل.
له هغه ځايه چې تللی و بهر، هم هغه ځای ته را ستون شو،
نور هم وږی، نور هم تږی.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبانانو! راشئ واورئ دا بيان!
له رمزونو نه خبر شئ پټ پنهان!
لوی څښتن زموږ ښامار دی، د ښامار موږ بنده ګان!
په لېوانو کې لېوه په وړو کې وړی،
په درياب کې پروت نهنګ له تږو تږی.
خو رانده دي عالميان!
خو کاڼه دي آدميان!
عبرت نه اخلي په يو آن!

❁❁❁

بد رنځونه بې درمانه
له يو څه مودې نه وروسته،
په ورو ورو شوله روښانه دا خبره،
چې دی ستر لوی فرمانداره، قهرمان لوی.
ستر فاتح د ټول عالم خو.
ډېر راوړي و له ځان سره ميکروبونه د ساري ساري امراضو
يو مهلك زهر قاتل يې.
له وجوده خپرېدو هم.
ده راوړي و دې ښار ته،
درې مرضه:
يو مرض غم او خپګان و.
بل مرض قهر او غضب و.
درېيم ډار او واهمه وه.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی شخص چې مبتلا شو،
په مرض دغم خپګان زر.
دا هغه حاذق حکیم د ښار طبیب و
مرض دومره سخت کاري و نابېره،
چې فرصت نه د دارو نه د درمان و.
څو چې خلك خبرېدل بیا،
زوړ حکیم و سفر کړی بل جهان ته

❁ ❁ ❁

دا امراض په هر چا باندې په یو شان پورې کیدل نه.
تل ځوانان به پرېوتل زیات،
دغوسې، قهر او غضب په سخته تبه.
زیات شمېر ښځې ،ماشومان او بوډایان به،
په مرض دغم خپګان اخته کېدل.
فقط ډار او واهمه داسې مرض و،
چې توپیر یې نه د ووړ کړو، نه د زوړ کړو،
نه د ښځې، نه د نر کړو.
په هر چا باندې یو شان پورې کېدلو.
نو دا ځکه بوډاګانو به ډېر عمر نه کولو
زلمو تل شخړې جګړې کړې، دښمنۍ کړې،
مرګ قتلونه به یې کول،
تویولې به یې وینې یو د بل تل.
ډېر کوچنیان به د ځوانۍ له عمره مخکې،
د خپګان په نرۍ تبه، رنځېدل او مړه کېدل.

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مرض دغم خپګان به لړ قلار شو،
که د قهر او د غضب تبه به لاړه،
واهمه او ډار هېڅ وخت نه ورکېدلو.
ساري بد مرض خو دا و،
چې جاري تل شامدام و.
نور به خلکو يو پر بل اعتماد نه کړو،
نه باور د چا په مينه محبت و .
نه دوستي وه، نه اخلاص و، نه رښتيا رښتيا خبرې.
ډارېدل خلك يو بل نه،
له خپل ځان، له خپلې ژبې، له خپل سيوري،
د خپل کور له دېوالو نه.
له دې ډاره ،چې خبرې څوك وانه وري،
په تورتم توره تياره کې ګونګوسی و،
يو له بل سره په غوږو کې پوسېدل وو.
نه له چا سره جرات د ګرځېدو و،
چې بهر له ښاره لاړ شي،
له دښتو له بيابانو نه.
له هغې خوا، چې راغلی قهرمان د ښار په لور و.
واهمه وه له هر چا سره.
په درو په تورو غرو کې.
پټو پټو مغارو نه ډارېدل دوی.
ټوله شپه به دوی ليدل ډېر،
ډېر خوبونه پرېشانه.
وحشتناکې هيولا خوب ته ورتللې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه شپه به بوګنېدل دوی،
پاڅېدل دوی، لړزېدل دوی.

❁ ❁ ❁

ارمان ارمان! افسوس افسوس!
خلك نه کړه چا خبر له اصلي رازه،
چې دا څه رنګه آفت په دوی نازل و؟
دا څه شان توره بلا وه،
چې منګولې یې د دوی په زړونو ښخې؟
خلك نه کړه چا خبر هیڅ:
دا خو هغه اژدها افسانوي و،
چې د خلکو له غفلته،
و راغلی له دښتو نه،
په دې ښار و کښېناستلی.

---

*۱- د ذهن او روح پخوانی اباد حالت.*

*۲- د خود پرسته شعور د تشکیل څخه تر مخه.*

*۳- تور رنګ: د ناپوهی او نابینا زور او قدرت سمبول.*

*۴- Ego .... مراد په خپل ځان متمرکز او په ځان مبین شعور.*

*۵- غرڅنی: ازاده او بې ګناه مینه او محبت، د استبداد لوی دشمن، ازادي، بې ګناهي او مینه ده.*

*۶- خود پرست شعور یو بت پرست شعور دی چې نور د خپل ځان ستاینې او نمانځنې ته اړوي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعـالم په دریاب ډوبه د پایاب طمع ومکـړه
دا پایاب دی ډېرو غوښتی خبر نه شول له ساحله
خوشحال ختټك

# دويم پړاو

## دمه ځای، چې پکې ځای د دمې نه و

د زړه په کنډوالو کې تور ښامار پروت
ډېرې ډېرې مودې تیرې په دې شان شوې
څو ناڅاپه شولو پام د قهرمان ستر،
چې هېڅوك شاوخوا نشته،
دی بادار و، ستر بادار د ټولو خلکو،
خو هېڅوك دغلامۍ دپاره نه وو.
دی واکمن و او ټول واك د ده په لاس کې،
خو نه مینځه، نه نوکر و، چې پرې واك وچلوي څوك.
فرماندار فرمانروا و،
خو خادم نه و فرمان د وړو د پاره.
په هغې هسکه ماڼۍ کې،
دی یوازې ژوندی سری، یك تنها و.
ټول مړ ښار و، چوپیایي وه ،هدیره وه. ا
ښار د اوسپنې کلا وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې يې تل تړلې.
ځکه هېڅ نور په ها خوا گذر نه کړو.
چمنونه شنه باغونه پاتې نه وو.
هره خوا شړې ميرې وې.
هره ورځ به پکې لمر بيا،
سور تنور لمبه کولو.
هره شپه سړه سيلۍ وه،
خاورې دوړې بادېدلې،
سيونگېدل به اغزي غنې.
ځنگلونه جل وهلي، ونې سوې.
غرو څېره وه بدله کړې،
ټول خړ پړ په ايرو رنگ وو.
هم سيندونه، هم خوړونه، وچ پراته وو.
اوبه ليرې په کوم بل ځای بهېدلې
کومې لارې لويې لويې، چې ورتلې د ښار په لوري،
هغه ټولې ورکې شوې، په ځوزانو، په اغزو کې
کاروانونو نور گوزر په دې خوانه کړو،
چيرته لرې تېرېدل په نورو سيمو.

***

د چوپتيا په تروږمو کې شور ماشور:
دا زموږ ستر قهرمان لوی پهلوان بيا،
د خپل ځان صحرا په کونج کې،
لاشعور مغارې خولې ته، په مودو منتظر کښېناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترږمو دمغارې ته به يې کتل،
دهغې تورتم سکوت ته غوږ نيولی.
ده ګومان کړو:
چې ژوندون له دښت صحرا نه کوچېدلی،
تللی تللی سمڅې تل کې ځايدلی.
زړه به داسې ورته وې چې:
پټ په دغه نا کلاره کلاري کې،
د دغه نااشنا سکوت په ژور تل کې،
لوی درياب۲ پروت دی خاموشه.
مخ يې روڼ دائينې په شان ځلېږي.
هم نری وږمه چپې چپې چلېږي.
د درياب لوښو اواز خوږ،
راوړي ځان سره له دورې.
بيا به کله غرهار دده تر غوږ شو
نو ګومان به يې کولو:
چې خالق دسمندر۳ په غضب شوی، هی غرېږي،
برېښنا ګانې هم شرقېږي، هم کړسېږي.
بارانونه تر پهار کړي.
لوی موجونه، غرونه غرونه د ساحل په لور روان دي،
ورځې جنګ ته د لوی هسکو ګړنګونو،
ډزوي د درياب غاړې، لړزوي پرښې پاښونه.
❁❁❁
بيا به زمکه درېږده دده په غوږ کې.
نو ګومان به يې کولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رمې رمې وحشي اسان ځغلېږي،
په کوم لوري تاخت وتاز کاندي شنېږي.۴

❁ ❁ ❁

یا به یې کله اروېدلو هیبتناکه غړمبهار هم،
چې راته له لیرې ځایه.
هم ملګری دې غړمبا سره بل اواز و:
شرنګېدل و جربېدل د زنځیرونو
ده به وې، چې تور دیوان زنځیر تړلي،۵
زنځیرونه ماتوي ځان خلاصوي اوس.
نژدې هلته دغار خولې ته،
غوړېدلي تور جالونه تنابونه.
پکې ناستې تورې غنې ۶ غټې غټې،
غلې غلې، چپه خوله وې منتظرې،
چې راګېر کړي، په خپل دام کې،
له کوم ځایه، نامعلوم ښکار.

❁ ❁ ❁

دماښام ښاپېر کي وو ۷ په زرګونو
پړقول یې په یو شان وزر ځانګونه،
په تور تم کې.
پوهېده چې هلته سترګې دي ځلیږي لکه ستوري،
ده ته ګوري په ځیر ځیر له هرې خوانه
دغه ټول پهره داران د تروږمۍ وو،
د ماښام خړې ته غلي ناست په تمه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بيا وكاندي لښكرې، چې بيا ونيسي دښتونه.

❁❁❁

هلته لرې پاس په وچه ونه باندې،
يو كونگى په يو ښاخ ناست و،
دواړه سترگې گردې گردې،
په بې شانه تعجب كې،
قهرمان ته يې حيران كتلې.

❁❁❁

قهرمان به په خپل ځان كې،
بيا ليدل چې،
د هستۍ په ژور تل كې نابېره به راويښ شو،
هغه تړى د سيندونو، دريابونو،
هغه وږى، د جهان او د ژوندون هم.
نو به ده له ځانه دا شانتې تپوس كړو:
"- دا اوږدې اوږدې مزلې،
په ځوزانو، په اغزو كې،
د وچ خوړ په غاړه ناست انتظارونه،
سرگردانه گرځېدل شاړو مېرو كې،
څه د پاره؟ چا د پاره؟
گوندې نه چې هغه وركه نا معلومه لټومه،
هغه وركه نامعلومه، چې هر آن رانه وركېږي،
زما خپله بې دردۍ كې،
د دې دښت دكلكو كاڼو، وچ اغزو په بې مهرۍ كې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې غرو بې پروا پرښو په سختۍ کې،"
"څه شوه څه شوه، د ژوندون چينه مې څه شوه؟
چې هر کال به پرې اختر د پسرلي و.
طبيعت به ځان سينګار کړو.
تور تور غرونه، تور دېوان دا هسې نه وو.
شنې جامې د ښاپيرو يې وې په ځان کې،
شنه لمن د زمردو.
سرو ګلونو رنګارنګ به،
سر راپورته کړو له خاورو.
بيا روانې به هر خوا شوې،
قافلې د رنګ او بوی هم.
درمندونه به د مشکو د لونګو
په دښتو وچو ميرو وو. "
"څه شوه څه شوه، د ژوندون هغه چينه اوس؟
چې دخوړ په وچ بستر کې به يې روان کړل،
مست رودونه.
د سيند غاړې وې ابادې،
د ستومانو دمه ځای و .
دورې دورې هېوادونه،
تږي سترې مسافر په دوړو پټ دلته راتلل، دمه کېدل. "
"راته ښکاري ، چې مودې مودې به کېږي،
لاروی له هېڅ پلوه، په دې خوا نه دی تېر شوی.
نه کوم پل د قدمونو، نه کوم لاره نرۍ ښکاري.
او که وو اوس ټول پټ شوي په ځوزانو په اغزو کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به داسې سوچ ورتللو:
"- ګوندې نه چې د ژوندون ورکه چینه مې،
ننوتې ده دې غار ته،
پریوتلې ژور تل ته،
نوره نه راپورته کېږي، دارې نه کاندي بهر ته. "
"ما خو تل ویلي ځانته:
دا اوږدې اوږدې استوګنې په ښارو کې،
ښه کار نه دی.
کوم خطر به پکې پروت وي، ناڅاپي به راولاړ شي."
"ما خو تل ویلي ځانته:
دا هر کله غونډېدل د ډېوې خواته،
دا د نورو نږدې والي څخه ډاډ هم،
پېښوي یو لوی ضرر لوی:
لرې باسي انسانان ټول د ژوندون له پټه رمزه.
هېروي په انسانانو.
خاطرې د دې دښتونو ګړنګونو.
خاطرې د درندو سیورو په درو کې،
خاطره هم د دې سمڅې
هم د ژوند هغه چینه شي ترینه هېره،
چې پرته ده د دې غار په تروږمو کې.
په دې هېره هېره باندې،
دا چینه د ژوندانه ورو ورو وچیږي."

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاپیرۍ د عشق او مینې: ۸
بیا ور یاد به شولو تېر هغه وختونه،
چې به پروت و د ژوندون د سیند په غاړه،
اوسېده به د وجود د چینې خواته.
زمانې وې تیرې شوې ډېرې ډېرې،
نه نارنج و، نه یې ګل، نه یې بویونه.
نه مرغۍ وې ډلې ډلې،
چې ماښام به زوږېدلې په باغو کې،
لټولو به یې ځای د بیدېدلو.
هر سهار به په چغار راویښېدلې.
ډېرکلونه وو تیر شوي،
چې یې هیڅ نه اوریدلو،
د هغه ژور ډك سیند دایم غرار چې
تل رغښتلو د درې په زوړ بستر کې.
حتی هغه شرشره وه چوپه شوې،
چې همیش به بهېدله،
د دایي په شان به ناسته هره شپه وه د ده سرته،
ورته کړې به یې تر نیمو نیمو شپو هم،
د دېوانو، د پېریانو افسانې تل.
په لومړو لومړو مودو کې،
دې چوپتیا ته قهرمان دومره پام نه کړو.
حتې دایې په یاد نه و:
چې هر ورځ به مازیګر شو، زېړی لمر شو،
کوز دغرونو په لمنو به شینکی غبار را خپور شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس د سپينو غرو په څوکو،
زېړي لمر هر خوا شيندلې، د سرو زرو پلوشې بيا
چې به اوړی شو گرمي شوه،
ويښ به پروت تر نيمو شپو و،
په هغې چوپه دنيا کې شور ماشور و،
د درياب دايم غرهار ته به يې غوږ و،
تماشا به يې د ستورو د اسمان کړه.
کهکشان لمن ځلانده،
دی ترې ځوړند زنگېدلو، لوبېدلو.

❋❋❋

تر څه وخته، کله کله به يې ستورو ته نظر شو.
خو ورپاتې نوره نه وه، صفايي د تير وختونو.
ټول پټ کړی، محوه کړی، رڼاگانو ماشيني وو،
رڼاگانې زنداني په فانوسو کې،
مشعلونه په زنځير تړلي ځوړند.

❋❋❋

نور يې هيڅ نه يادېدلې،
تودې شپې د پشکال بيا،
چې ناڅاپه به غرار شو،
تور سېلاب به را روان شو له ځنگلو نه،
لويې گرگې به روانې، غټې تيږې رغړېدلې،
د سيلاب په هسې شپو به سيند بې شانه په غضب و،
داوبو، رنگ به تك تور شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زړه د توپاني شپې.
د درياب څپو به ځګ کړو، شور او ځوږ کړو.
د سيند غاړې ښورېدلې، هم پاڼو نه، پرښې تيږې ګړزېدلې.
حيرانتياوه،
چې ده څرنګ هېره کړې، خاطره د هغې شپې وه،
چې توپان عظيم راکو ز له لويو غرو شو،
سيند په قارو، ناکلارو، غرېدلو.
په دې وخت کې، را پيدا شو له ورايه،
د څپو منځ کې روانه، يوه ګوردمه لويه لويه.
نا څاپي د خلکو پام شو،
چې دپاسه په ګوردمه،
يوه مرموزه سره رڼا وه ځلېدله.
که انګار وو سور سوزانه، په اوبو کې؟
مخلوقات و تماشې ته راوتلي،
ډارېدلي هك حيران وو.
دې رڼا ته يې کتل په ترورمۍ کې
په دې وخت کې برېښنا پړق کړو.
په دې لنډه روښنايي کې،
خلکو وليدو چې يوه ګرګه وه روانه په اوبو کې،
يو شين مار کړۍ وړۍ ورباندې پروت و،
رنګارنګه، ټکي ټکي سر تر پايه،
غاړه هسکه هره خوا يې تماشه کړه.
پاس په سر يې يو سور ستورى ځلېدلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گونگوسې د خلکو منځ کې شوې روانې دوی ويلې:**

"ټولواکمنه د مارانو، ښاپيرۍ د سرسبزۍ وه،
پاس په سر يې د سرو تاج و،
پکې لال د بدخشان و، ځلېدلو.
لاړه لاړه،موږ نه لاړه،
زموږ سيمې نه بهر شوه.
دهغه درياب په غاړه ميشته خلك،
د مارانو ستر واکمنې په هجرت ټول ډير خپه وو.
او دملك په ابادۍ په نيکمرغۍ کې،
دا هجرت ورته ښکاره شو بد شگومه.
دا هجرت و په رښتيا يوه لويه پېښه.
بيا وروستي نسلو ترې جوړه د تاريخ لويه مبدا کړه.
ځکه ځکه په دې پېښې، ختمېدلو،
د انسان طلايي عصر.
او يوه نوې تاريخي دوره شروع شوه.
د مارانو ستر واکمنه ښاپيرۍ چې څنگه لاړه،
په هغې توپاني شپه کې،
نو زموږه قهرمان هم،
د ژوندون دسيند له غاړې نه جدا شو.
لکه هغه سيند چې نه راگرځېدای شي، نه په شا
دوباره تلای شي،
قهرمان هم بياونه کړای شو چې ستون شي،
د ژوندون د چينې لور ته.
قهرمان به بيا له ځان څخه تپوس کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"- هغه ورکه نامعلومه هستي څه ده،
چې دا هسې سرګردان ورپسې ګرځم،
په دښتو په بيابانونو؟"
"يوه رڼا وه،
د چشمانو په افق کې د يو چا وه،
ښکاريدل به په هغه ناشنا افق کې،
آبي رنګه دريابونه نا پايابه.
هغه څه شوه؟"
"يوه لمن وه،
شين بخونه، چې هر څرخ به يې څرخولو،
د اسمان ځلانده ستوري.
چېرته لاړه؟"
"يوه خندا وه،
چې د سرو شونډو شفق يې، د ژوندون صبح صادق و.
ولې چوپ شوه؟

❁ ❁ ❁

سر به يې کېښود په زنګون.
په خپل سوچ کې به ډوب ناست و.
خپل ګرېوان ته به يې لاس کړو.
بيا به يې ووې:
- زه شړلی، فراري يمه له عشقه!
دا غايبه هستي څه ده؟
هغه عشق دی.
نامعلومه ورکه څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مينه."

ورپه ياد بيا هغه وخت شو،

چې څه شانتې فراري شو.

الهې د محبت په هغې ورځې اغوستلی شين کميس و.

دی يې ونيوه له لاسه.

بيا يې وښوده له ورايه، هلته دورې يو افق و نا معلوم.

نويې ووې:

- څه چې ځو اوس!

قهرمان زموږه ډار شو،

له دې هسې نااشنا مسافرت نه ؟

نو يې دا شانتې ځواب کړو:

- زه خو دلته ميشته خوښ يم،

ددې ښار په دېوالو کې،

د ښاريانو د څراغ په پلوشو کې 10

نو يې پام شو،

چې د هغو شهلا سترگو، آبي رنگه سمندر افق.

تور تم شو.

په خندا کې سپين سبا صبح کاذب شو،

را خپره پرې توره شپه شوه،

بيا په هغې ښکلې ژبې دا ناشنا بيان جاري شو:

"- په سور اور لمبه د ښتونو نه به تېر شې.

د تورتم مغارو تل ته به ورپرېوزې.

خو بيا مانه شې موندلای.

هغه لاره چې بيا ما ته رارسېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره سخته ده بې شانه.
نه يې سرشته نه يې پای شته،
بې منزل، بې دمه ځايه.
کوم ساحل دسمندر چې زما ځای دی،
دا ساحل به ستا د ژوند مدام سراب وي،
پسې ځغلې به بې ځايه.
هر قدم چې ورنږدې شې،
زر قدمه به ترې وروسته پاتې کېږې.
د سپرلي آلهې دا خبرې کړلې.
او اواز يې په تدريج لرې وتلو:
"بې له مابه، ستا باغونه، چمنو نه ټول خزان شي.
بې له مابه،
ستا سيندونه، رودخانې هم،
ورو وچېږي ځاځکي ځاځکي.
چې زه نه يم،
يوه ترخه سړه سيلۍ به راپيداشي.
د مرغانو شور ماشور به کړي خاموشه.
او يوه ورځ به ناڅاپه ستا پام شي،
چې سرسبزه شنه دښتو نه،
دغرو شنې ښايسته لمنې،
واړه وچ اغزن ډاگونه دي، ميرې دي.
او په دې وچه صحرا کې،
يك يوازې ژوندی سری فقط ته يې،
خزنده يې، سمسېره يې، په خاپوړو..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور په یاد شو چې د عشق الهې دا بیان کولو،
او اواز یې په ورو ورو محوه کېدلو.
نو دی پوه شو چې دا ځل یو دوهم وار و اخرینه
چې ترې لاړه تل د پاره،
ستر واکمنه د مارانو، شین کمیسې ښاپیرۍ د نوبهار بیا.
دا زمورږ ستر قهرمان بیا،
په هغې هسکه ماڼۍ کې،
د اوږدو فکرونو ټال کې زنګېدلو.
او یوازې یك تنهايې ژوند کولو.
ځکه ځکه، ګیر چاپیره د مړو ښار و.
فقط دی پکې یوازې ژوندي سری.
ډېر کلونه تېرېدل اوږدې مودې هم،
دروازې د ښار تړلې کلکې پورې.
هیچا نه کاوه ګوزر په دغه لوري.
هېڅوك نه نږدې کېدل د ښار و خوا ته.
مودې ډېرې شولې تیرې.
فقط یو وار، یوه ورځ، چې ماښام شو توره خړه،
راپیدا شوه له کوم ځایه،
یوه ناشنا زړه بوډۍ وه،
پټه پټه غلې غلې را روانه.
د ښار لویې دروازې ته ودرېدله.
څېره بده هم مرموزه، هیولا وه بد منظرې،
تور کمیس تور یې پرتوګ تور یې زړوکی
د لوګي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښار لویه دروازه شوله برسېره.
بوډۍ ننوته ښار ته.
دهغې هسکې ماڼۍ په لوري لاړه.
خو ناشنا شانتې بوډۍ وه.
بې له دې نه چې قدم په ځمکه کښېږدي،
د ښایسته زینو نه وختله پورته.
بې له دې نه ،چې کوم مکث یا توقف کړي،
دمرمر و جګو ستنو نه شوه تېره.
د ښایسته ځلانده قصر دروازې ته ودرېدله.
دې بوډۍ بیا،
نه زنځیر د دروازې وشرنګولو،
نه یې ور وټکولو.
ور برسېره په خپل سر شوه.
بوډۍ لاړه شوه په قصر کې دننه.
خلك وايي:
دا ناشنا زړه بوډۍ خو،
څېره بده هم مرموزه،
پرښته د ترورږمو وه.
چې یې وکړو ملاقات له قهرمان سره.
نور باقي کیسه عجیبه په دې شان ده.

-----------------------------------

*۱- په ځان مین شعور متوجه کېږي چې بهر اجتماعي جهان یې ګډوډ کړی دی او اوس یې د خپل دننه نفسي جهان ګډوډی او خرابۍ ته پام ګرځي او په ویجاړه نفسي جهان کې ..... کوي.*

*۲- د ژوند رینښتینې معنی.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د ژوند بنيادي قدرت.

۴- د ژوند غريزي او بنيادي تمايلات.

۵- هغه طبيعي تمايلات چې ځپل شوي او په شا وهل شوي دي.

٦- اوهام.

۷- د خود پرسته شعور خيالونه.

۸- د ژوند رشتيني منبع يعني مينه د ځان او ځانځاني مينې ....

۹- د عشق او مينې رښتينی سفر.

۱۰- ځانځاني شعور د رښتينې مينې څخه ډاريږي او خپل حقيقت په تولنه کې او د نورو په غلامی او فرمان برداری کې لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریېیم پړاو

## د دوزخ له درشل دېخوا

ښه په یاد مې هغه وخت دی،
چې د زړه ښکلې ماڼۍ مې جوړوله،
د ژوندون د سیند په غاړه.
ددې کار مقصد معلوم و.
دا خواري په ابادۍ کې،
د زحمت په تهدابونو،
دا دقت زېب او زینت ته،
دغه ټول دچا د پاره تیاری و،
د یو چا په انتظار سمبا لېدل وو.
هېڅ د زړه خاوند د خپل زړه کوربه نه دی،
د زړګي خپله ماڼۍ کې نه اوسېږي.
کور بنه رښتیا یو څوك وي،
که رانه شي، رڼا نه کړي مشعلونه،
نو د زړه کور بیا تور تم خړه تیاره وي.
بیا د زړه خاوند بهر ځي، لټوي د زړه خاونده،
ورك به ورکې کوربنې پسې له ځانه،
په دښتو په بیابانو کې، ګرځي پرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د زړه مترو که کور ورو ورو
رنگیږي، کنډواله شي.
هغه ښار چې شو خاموشه، ویرانه شوه
هغه هم یو وخت د زړه کوم،
ښکلی کور و، ښکلې مېنه.
خو د زړه خاوند غافل و، بې وقوفه.
دی پخپله پکې کښیناسته یوازې.
اوس راځئ، چې شو ستانه خپلې کیسې ته.
✺✺✺

## رب النوعه الهه د عشق او مينې

وايي وايي:
د هغې ښکلې مانۍ ا کار چې شروع شو،
عواطفو، هيجا نونو، معماري کړه.
معماران هسې ماهر وو،
بې مثاله بې همتاوو،
په ډېر شوق په ډېره مينه يې خواري کړه.
تا به وې چې جوړوي ښکلی معبد دوی.
چې هغه ښکلې مانۍ شو له اباده،
نو زينې وې د مرمرو د رخامو،
پايې ستنې د لاجوردو،
د بلورو فانوسونه، مشعلونه پکې ځوړند
قيمتي پردې وريښمينې،
بخملي وريښمين قالينې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نقشونه نګارونه،
په هر لوري تابلو ګانې رنګارنګ،
په دېوالونو.
دغه ټوله تیاري وه، دیو چا پذیرایي وه
د یو چا د راتګ لار خلکو څارله
انتظار هره شېبه په زیاتېدو و
انتظار وو کاڼي بوټي په صحرا کې،
ټول ګلان په چمنو کې،
بلبلان توتیان باغو کې.
غرڅنۍ چې به د سیند غاړې ته راغلې،
داوبو د ښنو دپاره،
نوسرونه به یې کړه پورته،
دافق یو دورې ځای نه به یې کتلې،
چې به کله رارسېږي،
ستړواکمنه، رب النوعه، الهه دعشق او مینې:
راروانه په ښپو دسمندر ورو،
لکه الوځي وږمه د پسرلي تل،
شین کمیس د شنیلي به یې په تن وي،
راروانه، خرامانه، خپل معبد کې به میشته شي.
قدمونه به د هر چا په لیمو ږدي.
په پښو به ورنثار کړو،
بیا هارونه، امېلونه، د صحرا وحشي ګلونو.
❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اژدها ته هر کلی:**

خو شیبې د انتظار اوږدې کېدلې.
انتها یې ورکېدله.
په ورو ورو درندې مودې شوې،
غرونه غرونه.
په آخر کې
یوه ورځ وه، چې شو لمر په پرېوتلو،
هم هغه ناشنا سړی بیا،
جامې تورې، په تور اس سپور،
په دښتونو کې له ورایه راښکاره شو.
را روان و، راروان و،
د ښار لویې دروازې ته رانژدې شو.
بیا په ښار شو ور دننه،
دهغې هسکې ماڼۍ په لوري لاړو.
مرمري زینو نه پورته شوماڼۍ ته،
سپور په اس خپل.
پاس د لوی تالار با لکون ته راښکاره شو،
دښار خلك یې مخاطب کړه.
داسې ووې:
"- زه خو "زه" یم!
زه "ایگو" یم.!
زه فاتح دلوی جنگونو دجهان یم.
قهرمان یم بې مثاله.
ستاسو ښار زما تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې ټول زما مريان ياست.
دې ماڼۍ کې به اوسېږم تل ترتله.
بې زما له اجازې بې له فرمانه،
هېڅوك دلته قدم نه شي اېښودلای."
پس له دې نه،
په ښاريانو شولې بندې، دروازې.
دهغه قصر.
ازادي لاړه له باغه له چمنه.
معماران د عشق او مينې،
شو راګير په قيد او بند کې،
په سختيو په خوارو کې.
په کارو کې بې هدفه، رنځوران شول.
مستبده فرمانونه، امر او نهی.
بې دليله فرماندار کړل.
خلك دومره شول بېزاره،
چې څوك لاړل فراري شول،
څوك دمرګ پنجو ته ورغلل تسليم شول.
باقي پاتې چېرته پټ شول په غارو کې.
❁❁❁

فرماندار دې ته پام نه کړو،
چې ښار ورو ورو د سکوت خواته روان و،
په ورو ورو غلی کېدلو، چوپېدلو،
ترڅو پاتې بل څوك نه شول، بې له هغه قهرمانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یوازې ژوندی سری،
په هغه خاموشه ښار کې.
نه یې ځمکې نه اسمان ته التفات کړو،
قهرمان یوازې ځانته پام لرلو.
فقط ځانته یې کتل.
بس راضي له خپله ځانه،
دغرور د تکبر په مسند ناست و،
یك تنها هغې ماڼۍ کې.
هغه ښکلې تابلوګانې،
رنګا رنګه تصویرونه،
ښکارندوی د هغې سیمې د ښکلا وو،
منظرې د غرو رغو وې،
هم دخلکو د ساده ژوندون صحنې وې،
نورې نه لیدل کېدې په دیوالونو،
دهغوی په ځای هر خواته ځوړند شوي،
لوی بې شانه تصویرونه، دفاتح ستر،
او دهر تمثال د لاندې په جلي قلم لیکلي:
"ستر ایګو – جهان پهلوان.
"رب دې ورکړي، ده ته عمر جاویدان"
په لرګو، تیږو، مرمرو،
په پردو، لوښو، ظرفونو، په فرشونو،
ثبت و نوم د قهرمان ستر،
هم څېره د اژدها نقش.
هرې خوا په دېوالونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تالار کې، سالونو کې، دهلېزو کې،
لګېدلي لويې لويې آئينې وې.
هر سهار هره غرمه هم،
هر ماښام هر مازيګر بيا،
آئينې ته به ولاړ و، شامدام دی،
هی کتل به يې خپل ځانته،
خپلو سترګو خپل قامت ته.
دخپل ځان په تماشه به تل اخته و.
د آئينې له خوانه دورې تللای نه شو.
ځکه ځکه،
چې به يې نه ليدو خپل ځان خپل،
نو ګومان به ورپيدا شو،
چې خپل ځان ترې نه ورك شوی،
ځان يې نيست او نابود شوی،
ستر فاتح به وار خطا شو،
مضطرب به ګرځېدلو، لړزېدلو پريشان،.
په دې شانې، دا زموږه قهرمان ستر،
لوی فاتح د ټول جهان هم،
بې خبره د آئينې د لوی خطره،
بې خبره د آئينې د رمز اسراره،
د آئينې په لور روان شو.
خبر نه و چې آئينه خو دروازه وه، دروازه د دوزخونو ،
تېرېدل د آئينې له درشل هاخوا،
کوزېدل وو داوها موجهنم ته.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوهامو جهنم ۲

شپې او ورځې تېرېدلې،
دا زموږه قهرمان ستر، ورو ورو ګير شو،
د لحظاتو په پټ دام کې،
د زمان په رنځ رنځور شو،
درك احساس دزمانې يې،
د ابهام په ډنډ کې ډوب شو،
خبر نه و، څه مهال د کومې شپې دی،
کومه ورځ ده، کومه مياشت ده، کوم موسم دی،
کوم کلونه دي راغلي، کوم فصلونه دې تېر شوي؟
خو دا سوال ورته بې ځايه ښکارېدلو.

* * *

فکر يې کړلو:
چې راتلونکې ورځې شپې مياشتې کلونه،
بايد شمېر شي.
خو دا هسې شمير نيول هم ورته ګران وو.
کوم مفهوم کومه مانا يې نه لرله.
دومره پوه و،
چې يو اوږد ګران سفر په مخکې پروت دی.
اندازه د لارې نه وه ورمعلومه.
نه کوم مېچ، نه کوم معيار يې درلودلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لحظه به سمندر شو،
ناپایابه.
دا شېبه به یو دریاب شو،
نامحدوده،
ساحلو نه ناپیدا غاړې يې ورکې.
بې اغازه، بې انجامه، هر لحظه هره شېبه وه.
مات نسکور و، ورته جام د زمانې پروت.
هم قالب د شپو او ورځو تش خالي و.
نه ماضي، نه مستقبل و، نه يې شمار نه يې حساب و .
هر لحظه ابدیت و، ځوړند ځوړند په خلا کې.
هر لحظه هره شېبه هسی اغاز و.
بې انجامه، بې پایانه.

❁ ❁ ❁

په دې هسې ابدي اوږدو شېبو کې.
قهرمان به سوچ وهلو:
"په نړۍ کې یو وخت داسې خلك هم وو."
چې ارزو يې اخرینه، ژوند کول وو ترابده،
هم ارمان د ارمانونو و له دوی سره،
چې څښتن د یوه روح وي جاویدانه."
که دوی پوه وای،
چې د یوې شیبې هستي څومره سختي ده
څه خواري ده،
چې دا یوه لحظه دریاب دی ناپایابه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوبېدل دي، ډوبېدل بې انتها دي،
نو هېڅکله به يې ارمان بيا کړی نه وای،
چې نصيب يې شي ژوندون جاويداني؛
يا دننه ورته ناسته وي په تن کې،
ابدي روح.
قهرمان و په اخر کې پوهېدلی،
چې غورځنگ په يوه شېبه کې،
گران سفر دی بې انجامه،
په ناشنا پردي وطن کې،
په تورتمو ترږمو کې نامعلومه.

❁❁❁

قهرمان ورو ورو روان و،
کوزېده قدم قدم دی،
د تجريد او تنهايۍ ژورې کندې،
ژور تل ته.

❁❁❁

سره له دې هم، يو ملگری ورسره و،
لابا لکل يوازې نه و.
يو احساس يې ملگرتيا کړه.
يو ناشنا ويجاړ احساس د پريشانۍ و،
دا احساس هسې احساس و،
چې به کله نری باد شو،
چليده به، دده ذهن او ددماغ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډوالو کې.
هیجانونه عواطف به شوې کنګلې.
بیا به کله توپاني شو،
سختې دوړې، ګرد او خاورې به شوې پورته،
د زړه ذهن منظرې به شولې پټې.
بله ورځ چې دا توپان سخت چلېدلو.
ژوند، هستي یې لړزوله،
ناڅاپي ورته ښکاره شو، ددې هسې پریشانۍ
علت سبب لوی.
ده ګومان کړلو یو وختې،
چې په ژوند او په هستۍ کې،
یو لوی درد خو، تېریدل د زمانې دي.
اوس یې پام شو چې عظیم درد،
د زمان تېرېدل نه دي.
هیبتناکه وحشتناکه درد خو بل دی:
درېدل د زمانې دي.
کوم تشویش چې ده لرلو هغه داو:
چې به رانه شي سهار بیا،
نه هغه باد سبا نور،
چې به پاځېده له هسکو سپین کنډونو.
خپرېدلو به دغرونو په لمنو، په درو کې.
دا استازی د سبا و،
د سبا د راتګ زېری ورسره و،
چې مرغۍ به یې ویښولې په باغو کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غفلت له درانه خوبه.
نه به بیا د یوې اوږدې شپې په اخر کې ،
د شفق لمنه سپینه شي رڼا شي،
د یوې نوې ورځ پیغام به ژوند ته راوړي.
نه به بیا راشي تودې ورځې داوړي،
چې غرمې به تېرېدلې.
د چنار د سیوري لاندې، خوړ په غاړه.
چې نرۍ نرۍ اوبه په کاږ ختلې،
باد وامه شرهار یې نرۍ خوب وړلو راوړلو.
نور به نه وي هغه لمر ،چې پرېوتلو،
د شفق لمن به یې سره کړه.
نه هغه خواږه دردونه، دماښام په نیم تورتم نیمه رڼا کې.
❁❁❁

هغه څرخ د زمانې چې گرځېدلو،
د انسان د ټول دردونو درمانگرو:
کوچنیتوب و په ژوندون کې،
دورانونه د ځوانۍ بیا د زړښت وو،
ټول وو پای ته رسېدلي.
دغه څرخ د زمانې و درېدلی،
درمانگر د ټول دردونو پوخ طبیب د زمانې و،
چېرته تللی.
مهربانه پرستاره د سبا هم،
سپینه خوله سپین مړندونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوره نه راتله دده د پالنګ سرته،
نوريې نه کړله دده پرستاري.

❁❁❁

دا ناشنا شانتې سفر و، ده کولو.
يو بيابان به ور په ياد شو،
چې د خړو بوټو منځ کې،
نرۍ لار کږه وږه وه تللې تللې، د افق په لوري ورکه.
نو به يې ځانته داسې وويل:
"ولې نه شوم په هغې باريکه لار باندې روان زه؟
په يقين چې رسېدله دغه لاره،
کوم ساحل ته، پټ په لړو په غبار کې.
د درياب په غاړه بوټو کې ولاړه،
منتظره يوه کښتۍ ده،
ما به پورې باسي هاخوا،
د ژوندون سمندر غاړه کې به کوز شم."

❁❁❁

خو ددې ناشنا سفر په هر قدم کې،
ده احساس کړو، چې لا نور په ځمکه نښلي.
چې کتل يې خپل وجود ته،
نو ليدل يې،
چې تنه يې نيمه لاندې اوښتله،
جوړېدله ترې د ونې کلکه سټه.
پښې ځېلې شوې ريښې شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځېدې هر خوا په ځمکه.
پاسنۍ نيمه تنه کې لا ژوندون و،
سر او لاس لکه ښاخونه ځانګې ځانګې،
ښوريدل به، کړېدل به، سمېدل به،
د تشويش او اضطراب باد او توپان کې.
❋❋❋

بيا نو دې هستۍ جامدې،
تماشه د يو عالم کړه چې ولاړ ساکن ثابت و،
معلق په زمانې کې تر ابده.
قهرمان په تمه ناست و.
دا صحنه ورته تياره ښکارېدله.
ده وې را به شي صحنې ته، اکټوران ممثلان اوس،
کړي تمثيل به، په لرغوني يوناني سبك،
کومه لويه فاجعه د انسانانو،
کومه لويه تراژيدي دمرګ او ژوند دوى.
❋❋❋

کله کله به يې پام شو شاوخوا ته،
دنياګۍ وه ،نه روښانه، نه تاريکه.
عجيبه تر ټولو دا وه،
سيورى نه و، هيڅ شي سيورى نه لرلو.
بله ورځ ، قهرمان هرې خوا کتلې،
ويې نه ليدو خپل سيورى.
ده باور کولاى نه شو چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیوری یې ورك کړی.
په دې پيښه دی بې شانه مضطرب شو.
نيم وجود يې و ورك شوی نابود شوی.
دغه سيوری خو دده وفادار دوست و.
د ژوندون په ټيټ او پاس کې يې ملگری.
دا ملگری وفادارو ترې نه تللی،
نو يې وويلې خپل ځانته:
"اوس په کار ده چې زه لاړ شم،
او هرو مرو پيدا کړمه خپل سيوری.
گوندې وي چې په دې لټه کې.
مونده کړم،
د خپل ورك سمندر غاړې."
خو معلومه ورته نه وه،
چې په کوم وخت ترې نه ورك شو،
دغه سيوری؟
يو له بله څومره تللی دورې دورې؟
بيا يې وکتل هر خوا نو يې باور شو،
چې دا لټه به بې ځای وي.
ځکه ده په ځان کې نه ليد، نه کوم شوق د لټولو،
نه دهڅې اراده هم.
په دې وخت کې ورپيدا شو،
يو تازه شك او ترديد بل.
ډاروونکی اضطراب شولو راپورته.
دا پوښتنه يې له ځان څخه کوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"- ګونديې نه چې،
زه پخپله يم يو سيورى،
هسې سيورى،چې اصلي وجود يې ورك دى؟
يا يو وهم د اوهامو،
جدا شوى د کوم خيال نه،
پرېوتلى چېرته دورې:
يا يو فکر يم بې ربطه مجرد کوم،
جلا شوى، پرېکړ شوى، د افکارو
له ژوندونه؟"
چې به يې وکتلې ځان ته،
چې نه ذوق نه علاقه د تجسس وه،
نه کوم سوز و، نه کوم درد دده په زړه کې،
نه ارزو پاتې نه هيله،
نو په ځان به يې باور شو،
چې دى بل کوم څه شى نه دى،
فقط وهم دى يو وهم،
فقط سيورى دى يو سيورى.

❋❋❋

ده ته دې وخت کې يو بل احساس پيدا شو.
دا احساس دده اشنا و له پخوا نه.
د اميد يوه ضعيفه رنګيني وه،
چې په دې بې رنګ جهان کې ځلېدله.
دا احساس و يو احساس د سختې تندې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تنده چې د ځمکې ټول رودونه،
ټول سیندونه،
ورته ښکاري کوچني څاڅکي.
دا خو تنده د هستۍ وه.
دا خو تنده د ژوندون وه.
نو یې ځانته داسې ووې:
"- معلومیږي وهم نه یم.
ځکه ځکه،
وهم هیڅکله احساس د تندې نه کړي.
سیوری نه یم.
ځکه سیوری نه ودریږي،
ریښې نه کړي په صحرا کې."

❁❁❁

دا زموږه قهرمان به،
زنګېده د فکر ټال کې،
او خپل ځانته به یې دا بیان کولو:
"په بې شانه اوږده لار یم
رسېدلی تر دې ځایه.
هم مې کړې دي اوږدې اوږدې مزلې په صحرا کې.
خو لا اوس هم نه ښکاریږي،
د مقصد پړاو له ورایه."
"دلته ناست اوس،
منتظر یم، تش لاسونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډې منډې په دې دښت کې،
تپوسونه، تجسس د ورکې لارې،
باید ختم شي په دې تورتم تیاره کې،"
"نه په سر کې اندیښنه د کوم خپګان شته.
نه په زړه کې جذبه د خوشالۍهم
نه کوم جوش ترې نه داوښکو راجګېږي.
نه خندا پکې خوټکېږي.
نه بېتابه په ګرمۍ دکومې هیلې،
نه سوړ باد د ناامیدۍ مې لړزوي هم.
یوه مرموزه شانتې تنده مې ملګرې،
په صحرا د بې دردۍ کې،
مکدر منتظر ناست یم."
معلومېږي،
هر قدم چې یمه تللی،
دمقصد په لورې دورې،
په پړاو پړاو یم لیرې غورځېدلی.
ګوندې نه چې اصلي لار مې خطا کړې؟
په بې لارو یم راغلی؟
دا اوږدې اوږدې مزلې ټول بې ځایه؟"
ملغلرې له دریابه راټولېږي.
بیا په مزي پېیل کېږي، وصل کېږي،
بیا امیل ترې نه جوړېږي.
هم کړۍ وړۍ داوسپنې حلقې خو،
راغونډېږي، زنځیرونه ترې جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شيبې د زمانې هم،
د ژوندون په تار وصلېږي، يو له بله.
نو اميل شي، ښه سوغات د عشق او مينې،
د بهار د الهې دغاړې هار شي.
يا زنځير شي، تر پښو تاو شي.
هره ورځ نوې کړۍ شي، پرې ورزياته.
دا کړۍ نوې د ورځو،
زنځير لږ څه اوږدوينه.
يو قدم نيم، لږ څه وړاندې، بيا ممکن شي.
نو انسان ته ورپيدا دا تصور شي،
چې انسان ازاد مختاردی،
ځغلېدی شي په هر لوري، نا محدوده.

❁ ❁ ❁

قهرمان له ځان سره دا سوچ ووهلو:
جوړولو مې اميل د عشق او مينې.
خو تار اوم و وشکېدلو.
ملغلرې رانه توی شوې دانې دانې په ډاګ کې.
وروستنۍ دانې په لاس کې راته پاتې."
اوس په خاورو په اغزو کې.
ددې دښتې
بيا موندل دملغلرو اسان نه دي.
الهه د نوبهار که اوس غږ وکړي،
نه تحفه شته، نه هديه شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش لاسونه به ورځمه."
"دا زنځیر د زمانې هم شو کېدلی
کړۍ هرې خوا پرتې دي.
هره لحظه یوه کړۍ ده مستقله.
زه پرې بند یم، پرې تړلی.
خو زنځیر هسې زنځیر دی.
چې نه ما وصل کوي له کوم جهان سره،
او نه ماتړي په بند د کوم دلبرې."

❁ ❁ ❁

قهرمان د ازادي معنا هم داوه:
ازادي د زمانې له قید او بسته.
ازادي د شپو او ورځو له زنځیره.
ازادي د انسانانو له تړونه.
مګر نه پوهېد زموږ لوی قهرمان ستر،
چې په هغه بیابان کې،
دی د چا له خوا محکوم په ازادۍ و؟

-----------------------------------

۱- رښتینی انساني ذهن او روح چې یواځې مینه او محبت یې اصلي او ټینګ تهداب وي.
۲- په خپل ځان مین شعور لوموړی خپل شاوخوا بهر دنیا ړنګوي او بیا پخپله په خپل ځان کې ځانته دوزخ جوړوي او ورو ورو پکې ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن زما بېړۍ لاهو شوه په درياب کې
لا بــه کله دا لاهـو بېړۍ په شط شي
خوشحال خان ختټك

# څلورم پړاو
# د دوزخ له درشل هاخوا

د دې ستر قهرمان ژوند کې،
له هر وخته نا کلاره نا ارامه وخت د خوب و.
څکه څکه.
په تورتم کې به ده ځان ليدلی نه شو.
ورکېده ترې نه په خوب کې،
لوی احساس د ځانځانۍ خپل.
نو دا څکه، هر ګړۍ چې به ورتللو،
نيمه شپه د خوب بستر ته،
نو ګومان به يې کاوه چې،
د عدم په لور روان دی،
د نيستۍ ډنډ ته وردانګي.
له دې وجهې،
ډارېدو له بيدېدو نه،
چراغونه به يې نه وژل هېڅکله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلیدل به شپې او ورځې.
کله کله هم، چې خوب به غلبه کړه،
نو لیدل به یې خوبونه پرېشانه.
درانده سیوري د اشبا حو، بلاګانو،
به راتلل له هرې خوانه.
کښېناستل به په ده باندې.
یو کارغه به راپیدا شو،
تور ځانګونه به خپاره دده په مخ شول.
یو ناشنا دښمن به راغی.
دی به یې خملاوه په ځمکه سمدستي،
پولادي نیزه به یې خپله، بیا د ده په زړه منډله
نو راویښ به قهرمان شو
بوګنېده به لړزېده به،
د خولو په ډنډ کې ډوب و.

❁ ❁ ❁

چې په دې شانتې یوه شپه د شپو سبا شوه،
په دې هسې بې خوبۍ پریشانۍ کې،
قهرمان له ځانه ډېر زیات ناراضي و.
د لومړي کرت د پاره یې ونه کتل آیینو ته.
پام یې وکړو شاوخوا ته، د ښایسته مانۍ چاپېر ته،
چې لیدل یې،
شړ کورونه و پراته په هر یو لوري،
ویرانې وې، خرابې وې.
او د ده ښایسته مانۍ هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بې رنگه، بې زینته ابادي وه،
دریدلې په بېدیا کې وچه شړه،
دیوالونو یې چاودونه خطیر کړي،
تیرې هرخوا رغړېدلې، په اغزو غنو پټ شوې

❁❁❁

نو زموږه قهرمان ستر، اخر پوه شو،
چې دمرگ په خوب بیده دی دغه ښار اوس.
رښتینی فرمانروا هلته سکوت دی.
دی یواځې ژوندی سری هلته پاتې
پس له دې نه،
قهرمان ته تفاوت دشپې او ورځې کمېدلو ورکېدلو.
هغه تورې بلاگانې، درانده سیوري،
چې یواځې به د شپې په خوب لیدل ده،
هغه ټول راپاریدلي په بل شان وو.
شپه او ورځې ښوریدل اوس،
هر یو لوري، هرې خواته،
په هغې هسکې ماڼۍ کې ور دننه.
دلته هلته، په هر کونج کې،
درانده سیوري پرېوتل اوس.
قهرمان به هم له لرې هم نژدې نه،
اورېدل ناشنا غږونه.
نو باور به یې کولو،
چې څوك هلته یو له بل سره پوسېږي،
گونگوسي کړي، ده ته بد وايي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسيسې کړي، توطيې دده پر ضد کړي،
کله کله به يې اواز د قدمونو بيا تر غوږ شو.
په اوږدو اوږدو تورتمو دهليزو کې.
دا اواز به، زياتېدلو، په ورو ورو نږدې کېدلو.
بيا به يو دم ودرېدلو.
هره خوا به چوپيايي شوه.
دروازې به چغېدې، بېرته کېدې پورې کېدلې.
چراغونو به ناشنا رڼا کوله،
روښنايي به کمېدله،کمېدله بې سببه.
بيا به پاس دچت دلاندې، يو اواز شولو ناڅاپه،
ده گومان کړو، گوندې هلته،
نامريي يوه مرغۍ ده ښوروي وزر ځانگونه.

❁❁❁

## دوزخيان ياغي ياغي ا

کله کله به ناڅاپه،
د مانۍ په ژور تل کې،
کوز په ځمکه کې دننه،
هيبتناکه هنگامه شوه.
هم په دغه شور ماشور کې،
قهرمان به اورېدلو، شرنگهار د زنځيرونو.
اورېدو به قهرمان بيا،
له کوم ځايه دورې دورې،
غرهار د توپانونو، هيبتناکه،
کوم جکړ و را روان په بيړه بيړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډك له قهره له غضبه.
ښكاريده چې
كوم يو نوى پسرلى چېرته روان و.
دې استازي يې د راتلو خبر راوړو.
قهرمان احساس كولو،
چې نه ده ته دا پيغام را استوي څوك،
او نه دغه نوبهار چې را روان دى،
نا اشنا دى، شور ماشور كړي،
دا د ده پسرلى نه دى.
ځكه ځكه،
د جكړ په غرهار او شور او ځوږ كې،
يو ناشنا شانتې اواز ورته كېده هم
دا اواز و ډك له قهره له غضبه،
قهرمان ته گواښېدلو.
لومړى ځل و،
چې دا هسې غږ په ده باندې كېدلو.
ځكه ده په خپل ژوندون كې،
غير له خپل غضبناك غږه،
اورېدلى كله نه و،
د تهديد او گواښ اواز هېڅ
دې اواز خو په ظاهر كې نرمي كړله،
په باطن كې ډك له قهره له غضبه.

❋ ❋ ❋

په هغه جكړ توپان كې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ناشنا اواز را جگ شو،
قهرمان ته يې ويلې:
"د ژوندون له سرچينې نه دې کړم دورې،
بيا دې بوتلم په بې لارو شړو لارو، سرگردانه!"
"ستا يادېږي؟ هغه وخت چې د روغ زړه مېنې ته راغلې؟
هر کلی مو درته ووې؟
په پراخ تندي موږ ټولو.
کيلۍ گانې د کوټو د دروازو، درته تسليم شوې.
تا ته موږ در وسپارلو، د هستۍ وجود اختيار ټول."
"تا کړو ځان ته يو نوم غوره:
تا وې "زه" يم، نوم مې "زه" دی.
موږ او تاسو يوه پرده ده.
دا پرده مو کړله ورکه.
موږه ټولو ستا په (( زه )) کې کړو،
ځان محوه.
تا ويلې:
زه مرکز د ټول جهان يم!
موږ باور کړ.
تا به ويلې:
زه واکداره هم د ځمکې د اسمان يم!
موږ منله.
تا به ويلې:
زه خو وړيمه دهر شانتې ستاينې.
هم نمانځنې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږه ستا په پرستش شوو او سجدې مو د رته وکړې."
"د استوګنې په شروع کې،
تا زيات پام کړو د کاله زيب او زينت ته.
تا ځان هېڅ با خبر نه کړو،
له ژورو تهدابونو، ځمکې لاندې دهلېزونو.
د مانۍ پورتنی پوړ دې کړلو غوره،
د استوګنې ژوند دپاره.
التفات دې نه کولو،
هغو پټو دهلېزو تورتم کونجو ته.
مودې ډېرې شولې تيرې،
تر څوموږ وپوهېدلو،
چې تا ډار لاره بې شانه، له تورتم له ترږمو نه."
"دېوالونه سر تر پايه،
تا کړه پټ په آئينو ټول.
بيا د ځان په تماشه شوې، شامدام ته
د استوګنې له اوله.
ته خو د سره وې خود رايه.
چې هر څو کلونه مياشتې تېرېدلې،
ستا ذاتي استبداد ظلم،
بيا لا نور هم زياتېدلو.
ستا په کار کې، هېچا خو نه شو ويلای.
هم ناڅيزه انتقاد نه شو کېدلای.
تا کړې هيلې، ارزو ګانې، وخت بې وخته.
نه دې صبر حوصله وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مرام ته رسېدل تا، بیا غوښتل تل.
په هر آن په هغه آن هم.
غریزې او عاطفې او هیجانونه،
وو د دې هیواد لرغوني اوسیدونکي.
بې پروا به ګرځېدل ازاد سرمسته،
په ځوانۍ او په ښکلا کې.
تل بهار وو.
تا کړه دغه اوسیدونکي، له ځان دورې،
یا پابند تا په قیدو په دسپلین کړل.
تاغوښتل چې،
دوی به ستا خدمتګاران شي،
ستا فرمان ته به سرکښېږدي،
نه به شور کړي نه مستي کړي.
تاونه کړای شول چې دوی خپل بندګان کړې.
تا دوی واستول زندان ته.
ځمکې لاندې.
زنداني دتل دپاره ابدي شول.
تا مونده کړه، فقط دوه شیان
غلامان بس:
یو و عقل، بل و فکر.
دواړه ستا مشاورین شول.
بیا دوی واخیسته په غاړه، ستا په امر،
د زندان پهره داري هم.
رښتیا هم چې عقل او فکر، ستا رښتیني مریان وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زندان پهره داران وو، جابران وو.
خو چې کله به يې ستا مشاوري کړه،
ريا کار، متملقه ،چاپلوس وو،
مداحي به يې کوله.
نو ستايل به دوی وهمونه،
ستا د زور د عظمت د اوچتوالي.
جوړول به عقل او فکر،
ستا وهمو ته، دليلونه، منطقي ظاهر علمي ډېر.
"زما دوست زما ملګريه! ای زما "زه" !
تا له ژوند څخه اخر جوړ سرنوشت کړو.
د هغه وخت له شروع نه،
چې فرمان دې کړو جاري خپل.
د ژوندون په قلمرو کې،
تا يوه لار کړله تثبيته له پخوانه،
هغه لار وه دجنګونو، فتوحات افتخاراتو
موږ دا اوس چې،
په دې لاره يو راغلي،
دې پړاو ته رسېدلي،
دا خو ځکه چې دا لار بله خوا نه تله.
چاره نه وه مجبوريت و.
دې منزل ته رسېدل زموږ حتمي و.
په صحرا کې، په بيابان کې،
منډې تړې، ځغلېدل سر ګرداني ټول،
نه دسهوې نتيجه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوم بله غلطي نه اشتباه وه،
نه ناوړه تصادف و،
دا د هغه پلان حاصل دی،
چې تا ژوند کې عملي کړو.
دروازې دې کړلې پورې په ځان باندې،
بیا دې ووې:
که څوك نه کړي پیروي زما له شخصه،
هغه څوك زما غلیم زما دښمن دی،
که څوك نه غواړي چې وکړي،
نوکري او غلامي په اخلاص ماته،
نو هغه څوك له ماسره نه دی،
زما نه دی،
موږ گومان کړو،
چې دا هسې بې پروا غټې خبرې،
دا ستا هسې سپك نظر انسانیت ته،
دلالت ستا په نبوغ ستا په عظمت کړي.
چې راستون به شوې د ژوند هرې جگړې ته،
نو به تا داسې ویلې:
- ټول پلونه مې خراب کړل.
هم مې وسیځلې ټولې بېړۍ گانې،
هم مې لارې ټولې پرېکړې.
د دښمن دیرغل لاره مې کړه بنده."
موږ به ویلې:
ته رښتیا لوی مدبر یې، بې جوړې سپه سالار یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږه نه وو پوهېدلي:
تا چې کړله دښمني د کوم غليم سره،
په واقع کې، تا خپل ځان سره دښمني کړه.
که دې ماتې چاته ورکړه،
په جگړوکې د ژوندون تا،
په واقع کې، دا شکست ستا دخپل ځان و.
که تا وتړلې لارې، په يرغل ديرغلگرو،
په دې کار لومړی تا خپل ځان،
کلابند کړو، زنداني کړو.
په ژوندون کې،
تا يوه بله گناه وکړه، ډېره لويه:
زنداني دې جذ بې د ازادۍ کړې .
قدرتونه، د مستۍ د انقلاب دې،
کړه بندي د ځمکې لاندې،
خو افسوس چې،
قدرتونه د تعمير د ابادۍ اوس،
قدرتونه د تخريب د خرابۍ دي.
ځکه ډېر کلونه کېږي،
دوی پراته دي، په تورتم بنديخانو کې،
پر زنځير باندې تړلي.
پيدا کړي دوی بل شان نوې خيرې دي.
ارواگانې د دوزخ ترې جوړې شوې.
کوم قدرت چې نوم يې "مينه محبت" و،
اوس يې نوم د "تنفر" دی غوره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرونی قدرت د "عشق د جذیاتو"،
نن هغه ځانته "روحي اضطراب" وايي.
د ژوندون یوه غریزه وه،
پرښته وه، شین کمیسې،
اوس هغه یوه "پرښته دمرګ د ډار" ده.
تور کمیس یې اغوستلی.
عقل او فکر، غلامي ستا ډېره کړې،
ستا ر کاب کې ځغلیدلي دي بې شانه،
توان قدرت ورپا تې نه دی،
نور پهره کولای نه شي د بندیانو ..."

✵✵✵

په دې شانې،
دا اواز چې غږیدلو په جکړ کې،
ورو ورو چوپ شو.
خو د ځمکې نه دلاندې د ماښی په ژور تل کې،
یوه عظیمه هنګامه وه.
شور ماشور پورته کېدلو.
قهرمان په حساب پوه شو،
چې دا هر څه ترتیبات وو،
دیو چا راتلو دپاره،
تیاري وه د یو چا پذیرايي وه.
دوزخیانو هلته جشن و جوړ کړی،
منتظر وو، چې به کله رارسیږي،
پرښته د تروږمو اوس.

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږه پهلوان ستر ښه اګاه شو،
وپوهېد چې:
هغه واړه ارواګانې، دوزخيانې،
قدرتونه د عشق، مينې، ازادي ټول،
زنداني په جېلخانو کې،
ياغي شوي انقلاب کړي.
منتظر دي تروږمې ته:
چې بيا لاړ شي،
کړي خراب د اورلمبو کې کلاګانې،
حصارونه،
سيلابونه هم روان کړي، په دښتونو،
غرو رغونو
هم په خاورو کې اوار کړي،
معبدونه مانۍ ګانې،
د فنا په باد برباد کړي، لوړ برجونه،
ديوالونه.

## پرښته د تروږمو:

بله ورځ، دا زموږه قهرمان ستر،
شو راپورته له درانه خوبه ناوخته.
د همېش په شان يې وکتل خپل ځانته آئينې کې.
خو هر څومره چې به ځير شو آئينې ته،
يوه څېره ناشنا ناشنا ورته ښکاره شوه.
ده ونه پېژاند ځان هېڅ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ځکه،
دده عکس په آئينه کې ډېر مغشوش و.
او عجبه خو لا دا وه:
په آئينې کې دا څېره ورو ورو روانه ورکېدله.

❋❋❋

هم په دې ورځ، چې ماښام شو توره خړه،
را پيدا شوه له کوم ځايه،
راروانه، پټه پټه، غلې غلې،
يوه ناشنا زړه بوډۍ وه.
د ښار لويې دروازې ته ودرېدله.
څېره بده، هم مرموزه.
هيولاوه بد منظرې،
تور کميس، تور يې پرتوگ، تور يې زړوکی د لوگي وو.
د ښار لويه دروازه شوله برسېره،
په خپل سر له خپل ځانه.
بوډۍ ننوته ښار ته.
دهغې هسکې مانۍ په لوري لاړه.
خو ناشنا شانتې بوډۍ وه،
بې له دې نه چې قدم په ځمکه کښېږدي.
د ښايسته زينو نه وختله پورته.
بې له دې نه چې کوم مکث يا توقف کړي،
د مرمرو جگو ستنو نه شوه تېره.
ښايسته ځلانده قصر دروازې ته ودرېدله.
دې بوډۍ بيا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زنځير د دروازې وشرنګولو،
نه يې وروټکولو،
ور برسېره په خپل سر شوه.
بوډۍ لاړه، شوه په قصر کې دننه.
دا ناشنا زړه بوډۍ خو،
څېره بده هم مرموزه.
ستر واکمنه پرښته د تروږمو وه.
دا راغلې وه د ستر واکمن ديدار ته.
خو لا اوس هم،
تيار نه و ملاقات ته، قهرمان ستر .۲
پرښته وه ور روانه، ورنژدې شوه.
قهرمان ستر يې له لاسه ونيولو.
بيا موسکۍ موسکۍ کېدله.
څېره بده هم مرموزه.
بيايې وکړو اشارت ناشنا افق ته،
هلته دورې نامعلومه.
بيا يې ووې قهرمان ته:
- څه چې څو اوس!
قهرمان زموږ وډار شو،
له دې هسې نا اشنا مسافرت نه.
نو يې دا شانتې ځواب کړو:
زه خو دلته ميشته خوښ يم.
ددې ښار په دېوالو کې،
د ښاريانو د څراغ په پلوشو کې۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر واکمنې پرښتې ورته په نرمه ژبه ووې:
- خبر نه يې؟ چې اوس دلته خو څوك نشته،
نه کوم ښار شته، نه ښاريان نه څراغونه!
قهرمان په زارۍ ووې:
اخر زه خو، لاتراوسه،
په خپل ژوند پوه شوی نه يم!
نه لذت ما کوم ميندلی! نه ليدلې خوشالي ما!
لا ترننه، لا تراوسه،
حتی نه دی پيدا کړی، ما خپل ځان هم.
لږ فرصت راکړه چې لاړ شم،
يو ځل شاته،
تيرو شوو پړاوو ته بېرته ستون شم.
خپله ورکه، نامعلومه، خو پيدا کړم!
بيا به ځم درسره هر ځای ته چې تلې.
دا زړه بوډۍ موسکۍ شوه، په خندا شوه.
بيا يې ووې:
- خبر نه يې؟
اوس خو وخت ناوخته شوی دی بې شانه.
په شا تگ هم بې فايدې دی، ستا دپاره.
ځکه ته به بيا تکرار کړې،
کړي کړي گناهونه.
بيا به درومې، ځغلې ځغلې،
ځانځاني پسې د ځان خپل.
هم په دې سراب پسې به بيا روان شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخر کې، يو ځل بيا به،
ته راورسيږې دلته، دې صحرا ته.
قهرمان په زارۍ ووې:
- ته غوږ کښېږده! ....
زه خو اورم يو اواز له لرې ځايه.
زه يقين لرم چې هلته په بېديا کې،
ما څوك غواړي، ماته غږ کړي.
څوك زما په انتظار دي.
اجازت راکړه چې ورشم.
تپوس وکړم، چې څه وايي؟
زه باور کړم ،کوم مهم پيغام لري زما د پاره.
بوډۍ بيا وموسکېدله، په خندا شوه.
نو يې ووې:
- دا خو زه يم چې راوړی مې پيغام دی، ستا د پاره.
يو پيغام د پيغامونو!
ته پخپله ښه پوهېږې،
چې په سراسر نړۍ کې،
اوس څوك نشته غير له ما نه.
چې اواز در باندې وکړي.
انتظا ر وي ستا راتګ ته،
يا پيغام کوم در ته راوړي.
کوم اواز
چې اوس ته اورې،
بل څه نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خزان بې رحمه باد دی،
زما دوست زما ملګری،
چې را الوزي په غنو په اغزو کې.
قهرمان یو ځلې بیا پیل په زارۍ کړو:
-اخر دومره خو فرصت لږ شانتې راکړه،
چې یو ځلې، د دریاب غاړې ته لاړ شم.
یو وار بیا تماشه وکړم،
د اسمان د آبي رنګه کنارو زه.
د سیند پورې غاړه تېر شم دورې دورې.
دا خپل ځان لږ شانتې هېر کړم.
څو شېبې لنډې خو وکړمه ژوندون زه!
لکه څوك چې هڅه کاندي،
کوم بدخویه، ناکلاره کوچنی په خوب باندې بېده کړي.
په دې شانتې، دا بوډۍ هم،
مهربانه وه بې شانه.
په پسته ژبه لګیا وه، نرمه نرمه،
په ورو ورو یې ورته ووې:
"ای زما د زړه واکمنه!
هر څه تېر دي.
اوس خو ډېر ناوخته شوی دی ناوخته.
د زړه سره! ستا یادېږي؟
په هر لار چې تا ګوزر کړو،
پل معبر دې ورانولو.
په هر سیند چې تېرېدلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بيړۍ به دې سېځلې، خپلې شاته.
تا ګومان کړو،
چې په دې شان دغليم لاره شوه بنده،
هېڅ دښمن به، په تاونه کاندي بريد نور.
په واقع کې، ته خو هغه قهرمان يې،
چې دې خپلو فتوحاتو يې مات کړی، مغلوب کړی.
اوس نه پل شته، نه معبر شته، چې پرې تېر شې.
نه کښتۍ شته، نه زورقه، چې په سيند دې پورې باسي،
لارې نشته،
ټولې بندې دي تړلې.
يګانه لار، د خپل ځان د هېرولو،
هغه لار ده چې يې زه درته درښايم.
يګانه پړاو چې هلته،
د خپل ځان له جهنمه، خپل ځان خلاص کړې،
هغه ځای دی،
چې زه اوس تا، له خپل ځان سره هلته بيا يم.

❁ ❁ ❁

د لومړي کرت د پاره،
په خپل ژوند کې،
قهرمان په حساب پوه شو.
بينايي ورته پيدا شوه:
چې هېڅکله، په عالم کې،
تبنتېدلی هيڅوك نه شي له قسمته،
كه هر څومره نن سبا كړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرنوشت ته،
بیا سبا دی، بیا انجام دی، خاتمه ده.
قهرمان په ژور تل کې دهستۍ خپل،
احساس وکړو:
چې مطلق یوازې پاتې دی یوازې،
او فقط یوه لاره پاتې، بله نشته.
هغه لار چې تللې تللې، د ناشنا منزل په لوري،
په تورتمو تروږمو کې،
نامعلومه، بې انجامه....
نو راپاڅېده ولاړ شو.
د تورتم په پرښتې پسې روان شو.
بیا را ووتل دوی دواړه،
د ماڼۍ له کنډوالو نه،
د لوی ښار له خرابو نه، بیا روان شول،
لاړل لاړل کومې خواته نامعلومه...

--------------------------------

*۱- د ژوند قدرتونه طبیعي عزیزي عواطف او هیجانونه.*

*۲- په خپل ځان مبین شعور یواځې د مرگ په مقابل کې خپل تریخ حقیقت ته متوجه کېږي خو ناوخته دی او حتی دا توجه هم صحیح نه وي.*

*۳- په خپل ځان مبین شعور تهولنې او په تهولنه کې فرمانبردار ته اړ وي. دا برخه د تیر شوي پړاو په بله پرده او ساز کې انعکاس دی هلته د میني د الهي دا خبرې کوي او اوس یې د مرگ فرشته کوي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم چيرې فـرزانه وم فـرزانه يم لا تراوسه
تل بې خوده ديـوانه وم ديـوانه يم لا تراوسه
جدايي نشته وصال دی ځينې بعـد وهم ،خيال دی
له هغه چې همخـانه وم همخـانه يم لا تراوسه
چې راغلی په جهان يم خبر شوی په خپل ځان يم
د رازونو خـزانه وم خـزانه يـم لا تراوسـه
په عـالم زمـا خبرې خلق کـا په نړدې لرې
په وګـړو افسـانه وم افسـانه يم لا تراوسه
خوشحال خان ختک

# ځانځاني ښامار

## دويم څرخ

# يو ځل بيا راستون ښامار شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو دې توان رسي په لوی درياب کې ګرځه
په وياله کې دې زوال وينم نهنګه

❁❁❁

چا له ډنډه در ګوهر نه دي وکښلي
قيمتي لولو لالا غواړه په يم کې
خوشحال خان ختټك

## پنځم پړاو

# د ژوندون د چينې غاړه په تورتم کې

افلاطوني سمځه:
وايي وايي:
په قديم قديم يونان کې،
يو لوی ښار د سمندر په غاړه پروت و ا
ښکلی ښار و ،
ملغلره وه نايابه، له دريابه راوتلې.
بيا په دې سيمه راشنه شوه:
يوه ناشنا د ګلو ونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څو موده ښايسته سمسوره،
هم يې سيورى ، هم يې ګل کړ، هم ميوې کړې،
تر څو وچه شوه خزان شوه.
دغه ونه، د حکمت د ازادۍ د معرفت وه.
خو لا اوس هم، دهغې ونې له تخمه،
کله کله راشنه کېږي، نور ملکو کې،
ښايسته ښکلي ګلونه، په باغو ځينې باغو کې.
لنډه دا چې:
په دې ښار کې يو سړى واوسېدلو،
لوى حکيم و، افلاطون د زمانې و.
ستړواکمنه د دې سيمې،
"منيروا" وه۲
الهه دعقل او فکر د ذ کا وه.
زوړ حکيم بيا،
د دې ستړې الهې د باغ ماليار و،
د افکارو ښه ګلونه به يې کرل تل
د حکمت سمسوره ونه ،
به يې تل سمسور ساتله.
عمر يې تېر کړ په فکرونو په سوچونو،
د عالم پټ پټ رمزونه لټول ده،
يوه ورځ دا حکيم ستړ،
خپلو خاصو شاګردانو سره ناست و،
يوه ناشنا کيسه يې وکړه.
ده ويلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شاګردانو!
در معلوم دی په جهان کې،
یو موجود په نوم انسان شته.
ښه خبر شئ،
دا موجود زنداني پروت دی په یوه سمڅ کې،
لاس پښې کلکې تړلې،
مخ د سمڅې دېواله ته،
دغار خولې ته دده شاده.
خپلې شاته کتی نه شي.
او بهر له تورې سمڅې په بېدیا کې،
یو لوی اور بل دی لمبې کړي.
د لمبو رڼا ترمخه،
راز راز ژوي هم جلا جلا شکلونه،
تل تېرېږي راتېرېږي.
د دوی سیوري بیا ورځې ننوځي مغارې ته،
په دېوال باندې پرېوځي.
زندانیان د مغارې چې هلته ناست دي،
کلك تړلي،
فقطویني هغه سیوري، تور شکلونه،
چې تېرېږي راتېرېږي،
د هغه دېوال دپاسه.
زندانیان په دغه سیورو،
بیا ګومان د حقیقت کړي.
شاګردانو! دا انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جهان د ظواهرو د ده سمڅه ده زندان دی.
حقايق يې ټول اوهام سيوري اشباح دي.
شاګردانو!
که انسان رښتيا طلب د حقيقت کړي،
نو په کار دي، چې راپاڅي،
زنځيرونه خپل خپل مات کړي،
له زندانه خپل راوځي،
بيا بهر له سمڅې هلته،
تماشه د جهان وکړي،
په رڼا د حقيقت کې ..."۳
دا کيسه ناشنا کيسه د زوړ حکيم وه.

❋ ❋ ❋

ګومان نه کړمه چې دا به حقيقت وي.
ما ملکونه هېوادونه ډېر ليدلي.
په صحرا کې مامزلې اوږدې کړې.
ځينې ځينې حقايق مې دي موندلي.
څو رښتيا رښتيا خبرې مې راوړې.
يوه دا چې:
زندانيان يو وخت آزاد شول،
بهر ووتل له سمڅې،
چې کتل يې:
يوه سوزانه د اغزو ډکه صحرا وه،
د افق ترکنارو خپره لمنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې هلته، د عالم له پيدايښته،
د يو رود کوږو وږ بستر و په ډبرو کې وچ شوی.
نور څه نه وو...
بله دا چې:
زندانيانوهرې خواته پام نظر کړو،
خو هېڅ شی يې مونده نه کړ.
بس يوازې،
د خزان مازيگری ډك له خپگانه،
تور ماښام خړه تياره وه.
نور څه نه وو...
نه اسمان کې رڼايي کومه ځلانده،
نه په ځمکه کوم چا اور چېرته بل کړی.
نو دوی پوه شول،
چې رڼا هره رڼا که چېر ته وي هم،
هغه هم پټه پرته ده،
د تور غار د ژور تل په تروږمو کې۴
نور باقي داستان عجيبه په دې شان دی...
❁❁❁

مسافر له دورې ملکه.
لاروی د نيمو شپو هم هاغه شانې،
د هغه وچ رود په غاړه،
د تورتمې سمڅې خولې ته،
په عمرو منتظر کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼاګانې به له غرو راکوزېدلې، په دښتو به خپرېدلې.
ورپسې به بيا روان وو تورتم سيورى.
رڼاګانې به يې دورې ځغلولې، خړولې،
د رڼا لښکر به مات شو، ترورږمۍ به عالم ونيو.
بيا تر شا به يو ناڅاپه د رڼا لښکر راووت.
بيا به سيوري ځغلېدل پناه کېدل تل.
د تورتم او د رڼا دې تلو راتلو،
ځغلېدو راځغلېدلو،
لاروى لږ خبرولو،
چې شپې ورځې دي روانې درومي درومي،
خو خبر له دې نه نه و،
چې له کوم ځايه راځي دوى،
په دې هسې بيړه بيړه،
چېرته ځي د څه دپاره؟
بيا به کله،
يو احساس ۵ شيبه اميد، نژدې اميد ته ورپيدا شو.
نو خپل ځان ته به يې ووې:
زه ګومان کړم چې اخر به،
په دې سيمه څوك راپيښ شي.
په دې خوا به ګوزر وکړي.
له ملکونو دورې دورې دلته راشي مسافر کوم.
د هغه دورې پراته هېواد کيسې به راته وکړي.
ښايي ښايي چې دورك سمندر غاړو نه خبر وي.
زه به وکړم ترې پوښتنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافره سترې مشې!
په خیر راغلې له اوږدو اوږدو مزلو.
راته وایه!
تا خو کړی په ناشنا سیمو گوذر دی.
په دې خپل اوږده سفر کې کومه ورځ،
مازیگر ماښام ماښام خو به تیر شوی چېرته نه یې،
کوم یو کلي نه نژدې ته؟
او بیا هلته، تا به نه وي څوك لیدلي،
لویې لارې په سرناسته،
چې اغوستی شین کمیس و؟
او بیا هغې شین کمیسې،
تا ته هیڅ پیغام درنه کړ؟
د خپل دورې مسافر تپوس یې وکړو که ونه کړو؟
د کوم ورك سمندر غاړې یادې نه کړې؟
زه بېرېږم چې څو زه هلته رسېږم،
ماښام تېر شپه به نږدې وي،
او هغه به له ډېر زیاته انتظاره،
سترې شوی وي ستومانه،
پاڅېدلې چېرته تللې.
بیا په توره تیاره شپه کې به یې څنگ پیدا کومه.
مسافر به جواب راکړي:
- هو – رایاد شو.
ما یوه ورځ له سهاره تر ماښامه مزل وکړو.
مازیگر لمر پرېواته بیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخته تنده ستومانتيا وه شونډې وچې،
سر تر پښو په دوړو پټ وم.
په يو کلي مې گوزر شو.
نژدې هلته، د هغې لارې په خوا کې،
يوه د خاورو ډېره گۍ وه،
پاس پرې ناسته يوه ناشنا عجيبه ښکلې.
شين کميس يې و په تن کې،
يو منگی ډك د اوبو يې خوا کې پروت و.
ما ته ځير شوه په کتو شوه،
خو هېڅ څه يې نه ويلې.
زما سترگو ته يې کتلې په ژور ژور نظر خو،
دې زما له نظر ها خوا بل کوم دورې ځای ليدلو.
بيا يې خپل منگی راواخيست د اوبو ډك.
زما تنده وه بې شانه.
دواړه لاسه دواړه لپې مې ور وړاندې په دعا کړې.
دواړه لپې راته ډکې داوبو شوې.
دمنگي يخې اوبه رڼې اوبه مې ډېرې وڅښې ډېرې وڅښې،
بيا مې نورې په سرباد کړې په مخ باد کړې.
خو ناشنا عجيبه ښکلې،
په خوله هېڅ ونه ويلې.
زه هم چوپه خوله په خپله لار روان شوم.
تلمه تلمه، خو له دورې مې يو وارې،
د اخر کرت دپاره خپلې شاته وکتلې.
هغه ښکلې په هغې خړه تياره کې د ماښام تور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ناسته وه، لاناسته،
د چا لاره يې څارله.

❁ ❁ ❁

لاروي بيا،
خپلې شاوخوا ته ښکته پورته پام کړو.
ځانته يې ووې:
"ښه پوهېږم ښه خبر يم،
چې په دې لار به تېر نه شي،
کوم سياح کوم جهانګرد هېڅ
ځکه دلته کومه لاره، نرۍ لار نه ده راغلې.
نه له دې ځايه کوم بلې خواته تللې.
سره له دې هم،
که سياح کوم خپله لاره کاندي ورکه،
او په دې سيمه راپېښ شي.
که هم ستړی وي ستومانه،
په يقين چې دی به ترې وي بې شانه،
دغه تنده به مجال ورته ورنه کړي،
چې ددې وچ رود په غاړه دمه وکړي.

❁ ❁ ❁

## نابلد ملګری

لاروی د نيمو شپو و،
د غار تورې خولې ته ناست و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وينايې ځانته وکړه:
- دا اوږدې اوږدې مزلې چې ما وکړې.
له بې شماره هېوادونو نه راتېر شوم،
دا مزلې وې بې ځايه.
په بې لارو خطا لارو يم راغلی.
نه پوهېږمه چې کله په کوم ځای کې،
اصلي لار شوه رانه ورکه،
او راسم په دې دښتو شړو ميرو شوم؟
چاره نه وه، ما خو هېڅ کولای نه شو.
زوړ اشنا مې و ملګری همسفر و،
لارښودنه يې کوله.
وې: بلد يمه په ټولو سمولارو.
خو افسوس چې بلد نه و، نابلد و.
دې ملګري زوړ اشنا خو،
په نړۍ کې بل هېڅ شي ته نه کتلې.
پام يې کړلو ايك يوازې،
خپل خپل ځان ته ځانځانۍ ته.
چې په لار کې به يې کله، له کوم چانه تپوس وکړو،
د خپل ځان د ځانځانۍ تپوس به يې کړلو.
يو هدف و بس له ده سره هغه ځان و،
يو مقصد له ټولو پورته: ځانځاني وه.
ځانځاني به چې په هر لوري جولان کړو،
دې ملګري به په هغه خوا ميلان کړو.
ځانځاني به چې په هر طرف اقدام کړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ملګرې به هم زر په هغه لورې پورته ګام کړو.
ځانځاني چې به په هر څه کې تکل کړو،
دې ملګرې به هم دا شانتې تکل د لارې مل کړو.
دا ملګرى اوس چوپ شوى غلى غلى.
ګومان کړم چې آخر پوه شو.
دا چې موږ دلته دې ځاى ته رسېدلي،
په بې لارو شړو لارو يو راغلي.
مګر اوس هم خبر نه دى،
چې نه موږه کوم يو چا يو غولولي،
نه کوم سهوې اشتباه يو دې صحرا ته راښکودلي.
دا قسمت و سرنوشت و،
چې پخپل لاس مو د ځان دپاره جوړ کړو.
ځکه ځکه:
هغه وخت چې دا ملګرى هسې هسې مې دخپلې لارې مل کړو،
بيا نو بله چاره نه وه،
غير له دې نه، چې په دغه لار روان شو،
دغه لار چې لاره نه وه،
غير له دې نه چې راورسېږو هسې دمه ځاى ته،
دمه ځاى چې په کې ځاى د دمې نشته.
د دې زوږ اشنا ښودنو لارښودنو،
زما سترګې نابينا کړې.
که نه کوم وخت چې مو ځان سمبالولو،
په سفر مو پيل کولو،
هم له هغه وخته دا ټکى معلوم و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دتگ لاره روښانه رڼا نه ده.
ښې اوږدې سختې مزلې په تورتم کې،
زموږ مخې ته پرتې دي.

❁❁❁

لاروی د نیمو شپو هم هلته ناست و.
د تورتمې سمڅې خولې ته،
دخوړ وچ بستر په غاړه.
فکر یې کړلو دایې سوچ و:
- رڼاگانې څغلي څغلي، له افقه پناه کیږي.
مازیگر لاړو،ماښام رانژدې کیږي.
اوس خو وخت ناوخته کیږي.
بله چاره پاتې نه ده، بله لاره کومه نشته.
ای د ژوند د لار ملگریه!
ای زما پخوانی یاره!
اوس راپاڅه مخه ښه راسره وکړه.
یو له بله جلا کیږو، نور بېلتون دی.
ما تر خپله وسه وسه، ادا کړی،
د دوستی، د رفاقت ،د ملگرتوب حق.
خپله خپله قرباني، فداکاري، وفاداري مې درښودلې.
ته چې هر چېرته روان وې زه روان وم.
تا چې هر امر کولو ما په سترگو په لېمو خپلو منلو.
تا چې هره لار ښودله، ما هماغه لار نیوله.
تاویلې: زه مرکز د ټول جهان یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما باور کړو.
تا ویلې: زه واکداره هم د ځمکې داسمان یم.
مامنله.
تاویلې: د ستاینې د نمانځنې وړ خو زه یم.
ما سجدې درته کولې.
د ژوندون له سرچینې نه دې زه بوتلم دورې دورې،
په دښتو شړو ډاگونو،
په ځوزانو په اغزو کې سرگردان شوم.
اوس نو وایه چې څه وکړم؟
ماته نور څه پاتې نه دي.
د دې دښت غنو اغزو مې پښې ډېرې دردولې.
د دې غرونو تېرو تیږو یمه ژوبل ژوبل کړی.
اوس په دې پښو لینگو کې چې زما دي،
نور مجال نور طاقت نشته،
چې یو گام بل ،یو قدم بل، نور په تا پسې در واخلې.
چاره نشته.
مخه ښه درسره کړمه جدا کېږو یو له بله.
زما دوست زما ملگریه!
د وداع په دې فرصت کې،
که گیلې بیانېدی شي یا کېدی شي،
نو بیا زه گیلې کوی شم، ته یې نه شې.
که شکوې شکایتونه اوس کېدلی،
شکایت شکوې به زه کړم، ته به یې نه کړې،
خو افسوس چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مجال نه د شکوو شته،
نه فرصت د ګیلو پاتې.
ځکه وینم هلته دورې.
د شفق رنګین شفق په کنارو کې.
یوه پېښه حادثه لویه روانه.
د ناشنا مرغه ځانګونه، تور ځانګونه پرې خپرېږي،
تورتم کېږي.
هم غرهار هم شور ماشور له دورې اورم.
کوم جکړ توپان په بیړه را روان دی هیبتناکه،
رارسېږي
د دې تورې مغارې په ژور تل کې،
هغه واړه شورشیان ټول،
مینان د ازادۍ چې:
د دې غار په ژور تل کې بند پراته زنځیر تړلي،
هغوی ټول اوس یاغي شوي،
زنځیرونه یې شکولي،
منتظر دي ترووږمۍ ته.
چې بیا تا له ځان سره بوزي،
د تورتم دنیا په لوري نامعلومه.
زه به دلته منتظر په تمه ناست یم،
تر څو بیا پسرلی راشي.
بیا یو ځلې سپین سبا شي،
یو ځل بیا دنیا رڼا شي.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بېلتون شپه تورتم نه وه

لاروی اخر جلا شو،
د خپل ځان له ځانځانی نه،
له خپل ((زه)) نه.
د ژوندون د لار ملګري زوړ اشنا سره یې وداع کړه
یو ملګری ګران ملګری که هر څومره جفا کار وي،
خو چې کله بېلتون راشي، جدایي شي،
اوښکې نشي ټېنګېدلی.
یو اشنا پخوانی دوست که ډېر بې رحمه په زړه سخت وي،
خو بیا هم کله چې سپارو، په خپل لاس دی،
د تورتم دنیاګۍ غېږ ته،
زړه طاقت کولای نه شي،
غواړي چیغې کړي غوغا کړي.
لاروي دنیمو شپو ځانته ویلې:
- ښه ده، ښه ده،
شپه اوږده مخکې پرته ده.
تر سبا پورې فرصت دی،
چې د ژوند دغه ملګری را په یاد کړم،
په زار زار ژړا فریاد کړم،
اوښکې تویې کړم بارانونه.
ښه ده، ښه ده،
چې په دې شړه صحرا کې هیڅوك نشته.
نه د چا بېګانه سترګې مې د اوښکو تماشه کړي،
نه غوږونه اجنبي شته، چې مې واوري فریادونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ده ښه ده،
هېڅوك نشته.
په دې زخم به څوك نه دوړوي مالګه د زړه سوي بيا،
نه به څوك وي،
چې زما په پرهار توی کړي،
ترخه زهر د زړه خوږی، شنه سنكيا دهمدردۍ هم.

❁ ❁ ❁

لاروی بيا په ژړا په واويلا شو.
دا ژړا په دغه شپه کې توره شپه کې،
ژړا نه وه غلغله وه شور ماشور و.
دا هيجان د ناميدۍ نه وسيلاب و،
انقلاب و ډك له قهره له غضبه.
ده احساس کړو،
چې د ژوند او دهستۍ په ژور تل کې،
قدرتونه زنداني ټول ياغي شوي،
زنځيرونه زولنې هی ماتوينه،
هم برجونه کلاګانې ړنګوينه.
د هستۍ په صحرا باندې دا قهرونه غضبونه،
د ژوندون او سرنوشت نه،
دا نفرت او انزجار سخت،
دغه ټول خبر راوړلو،
چې روان کوم انقلاب دی، کوم سيلاب دی،
د وجود په تاخانو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانته يې ووې:
د قسمت او سرنوشت او خدايانو،
فقط يو څواب پکار دی،
دا څواب يوه خندا ده،
يوه خندا هسکه خندا چې:
ځمکه ځمکه په لړزه کړي،
دړې وړې هسك اسمان کړي،
اوښکې لاړې په کلار شوې.
ورو ورو لړې شوې غبار شوې،
ورکې ورکې تار په تار شوې،
دا پرده وشوله پورته،
داسرارو له جهانه.
دا هيجان داسې توپان و،
تا به وې چې يو لوی بند، داوبو بند و،
له تهدابه راچاودلی نړېدلی راويران شو.
په مودو ډنډې اوبه هلته ولاړې،
لاړې لاړې په څپوڅپو سيلاب شو،
لوی ډاگونه ستر دښتونه يې کړه لاندې.

❋ ❋ ❋

د ژوندون چينه اخر شوله راويښه، توپاني شوه.
د هستۍ له ژور تل نه شوه راپورته،
فواره شوه، بيا د اوښکو فواره شوه،
دارې دارې، څاڅکي څاڅکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي ته شوه معلومه دا خبره،
چې سرمسته مينان د ازادۍ ټول،
هغه واړه شورشيان ياغي ياغي هم،
را روان دي.
هم خدايان د هيجانونو عواطفو،
بيا راځي يو واري بېرته راستنېږي،
د ده خپل شور او فرياد خو،
د هغوی د راتګ زېږی شور ماشور و.
د اسرارو کيلي پټه وه، د زړه په سوز او درد کې.
لکه څنګه چې رڼا د سپين سبا څيرې کوي تل د تورتم زړه،
ده هم دا شانتې کړه څيرې د اوهامو پرده توره
لکه څنګه چې سکروټې پرتې پټې په ايرو کې،
کله کله رالمبه شي،
دی هم داشان را ولاړ شو له ايرو نه،
د هستۍ خپلې هستۍ خاورو ايرونه.
لکه مار چې زوړ پوټکی خپل ايله په مېړتون کړي،
ده هم دا شانتې دهغې سمڅې خولې ته،
د خپل ځان د خپل وجود يو زوړ قالب ورووست،
کړو غوځار دورې له ځانه.

❁ ❁ ❁

لاروی د نيمو شپو چې ګرځېدلو سرګردانه،
د هستۍ وچه صحرا کې،
د ده کلك داسې ګومان و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ژوند له سرچينې نه، په بې شماره پړاوونو دورې پروت دی.
خو ناڅاپه يې کتل چې، د چينې په غاړه ناست دی.
په هغو ناشنا شېبو کې چې سکوت و،چوپيايي وه،
ټول وجود يوه صحرا وه،
يوه صحرا دبېدردۍ وه، چوپ خاموشه،
ناڅاپي يوه رڼا و برېښېدله.
بيا غرهار شو،
يوه چاودنه لويه لويه چېرته وشوه،
هلته ليرې د وجود په لوی تونل کې ور دننه.
لاروي خپل ځانته ووې:
"چې داوښکو څاڅکي څاڅکي راروان شول اوس له سترګو،
نو يقين دی:
چې د خوږ په وچ بستر کې به روان شي ډك رودونه، اوبه مستې.
چې په زړه کې د سوزونو د دردونو اور لمبه شو،
چې فرياد چيغه شوه پورته له سينې نه،
نو باور کړم:
چې باغونه به سمسور شي او مرغۍ په شورماشور شي،
چمنونه به زرغون شي،
غرڅنۍ به شي روانې مستې مستې."
لاروي احساس کولو چې سهار را نژدې شوی.
د ژړا نه تر خندا پورې پرته ده لنډه لاره،
لنډ مزل دی.
لاروي خپل ځانته ووې:
"- څه موده به تيره نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راجګ به له کوم خوا باد سبا شي.
دا استازی د رڼا به الوته کا، په دښتونو غرو رغونو.
بیا به سرې شي بیا به سپینې، دافق کنارې دورې.
دمشرق له سره پالنګه به رڼا کړي سر راپورته.
الهه د پسرلي به بیا روانه خرامانه په دښتو،شنو چمنو شي.
او هم زه به د خپل تورې شپې سفر دلته تمام کړم.
بیا به کړم اوږدې مزلې له سبا سره.
لویې لارې به اشنا وي،
پړاوونه به رڼا وي.

❋❋❋

لاروی د نیمو شپو لا هلته ناست و منتظره،
د تورتمې سمڅې خولې ته.
د سبالار یې څارله.
ده ګومان کړو، چې شفق به یو ځل سور شي بیا به سپین شي
دی به پاڅي راولاړ شي،
په رڼا کې به مزل کړي د رڼا جهان په لوري.
خو افسوس چې:
سپین سبا لرې وتلو، نه راتللو.
توره شپه اوږده کېدله، درنېدله.
نه پوهیږم څه مودې شوې تېرې، تېرې،
څو اخر لاروی پوه شو، ورو ورو پوه شو،
چې به نه کوم مسافر له دورې راشي،
مسافر کوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دورك سمندر غاړو نه خبروي.
هم د ليرې هېوادو نه پيغامونه ورسره وي.
نه به سر كاندي راپورته،
د افق له كنارو نه سپين سبا هم.
واړه لارې چې ورتلې د ښار په لوري،
هغه واړه پټې شوې، وركې شوې په ځوزانو په اغزو كې.
بله لاره پاتې نه ده.
غير له هغې لنډې لارې چې د غار خولې ته ورتلله.
بل سفر په مخكې نه و،غير له دې ناشنا سفر اوږده سفر نه.
چاره نه وه، غير له دې نه چې روان شي،
لاړ شي كوز شي ژور تل ته په تورتم، تورتم دنيا كې.
ځكه ځكه ښكارېدله:
كه رڼا كه پلوشې وې،
كه منبع درڼا ګانو چيرته وي هم،
هغه هم پټه پرته ده د تور غار په تروږمو كې.

## زېږنځای د ښامارانو:

لاروی د نيمو شپو نور خبر نه شو،
چې په څه شانتې روان شو، د تورتمې مغارې د خولې په لوري.
د ماښام ښاپيركو ځلانده سترګې بې حسابه ورته ځير وې.
د تورتم پهره داران وو، هلته ناست ده ته يې كتلې.
غټوغڼو هرې خواته وو جالونه اوار كړي.
تنابونه راښكودلي كلك تړلي.
لاروی په ځان پوه نه شو چې له دوی نه څنګه تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړو، لاړو....
فقط دومره په ځان پوه و.
چې احساس د بيرې ډار هيڅ ورسره نشته
بيا ليدل ده،
چې روان قدم قدم و، کوزېدلو له زينو نه،
په نرمۍ په آرامۍ ډېر.
دا زينې وې هم اوارې هم پراخې.
د زينو رنګ معلوم نه و.
هم احساس کړو لاروي چې،
د قدم لاندې څه نشته.
نه ډېره کومه ځمکه کلکه سخته.
تا به وې چې هرې خوا ته هر څه موم دي.
يوه ماده پسته سياله هم بېرنګه.
ده ګومان کړو وزن يې نشته،
د بڼکې په شان سپك دی.
په لړزه لړزه روان دی.
په ورو ورو ښکته سقوط کړي.
دغه ځای يو هسې ځای و،
چې نه تود و او نه سوړ و،
نه رڼا و نه تورتم و.
دېوالونه ښکاره نه وو.
شاوخواته هر څه ورك پناه پناه وو،
په مغشوش خړ پړ منظر کې.
خو يوازې هلته دورې په يو ځای کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورتم په ژور پای کې،
یوه کوچنۍ شانتې رڼا وه ځلېدله.

❁❁❁

په قدم قدم روان و کوزېدلو،
د ښکې په شان سپك سپك
هغه ټولې غلغلې ټول شور ماشور چې،
پاس د سمڅې په مدخل کې اورېدلو،
د هغو کوم اثر نه و.
نه غړمبا وه د دېوانو، نه شرنګار د زنځیرونو.
نه دربا د ځغلېدو وه د وحشي مست مست اسونو.
نه خو هلته سمندر و، نه دریاب نه یې بستر و،
چې به کله په کلار غلی خاموش و،
بیا به کله توپاني شو له غضبه غرېدلو.
هلته چوپه چوپیایي وه،
بل څه نه وو.
ارامي وه، نا اشنا سکوت، سکون و
هر قدم چې لاروی ښکته کېدلو،
سپین غبار ترې تاوېدلو، خړې لړې زیاتیدلې.
په دې لړو په غبار کې،
ناشنا شبحې جوړېدلې، خوځېدلې هرې خواته.
بیا به تار په تار کېدې محوه کېدلې.
بیا به دورې هلته نورې نوې ښې، داشباحو راوتلې،
خوځېدلې، هم به تللې هم راتللې، جوړېدلې ورکېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سمڅه ژوندی روح وه لاشعوره،
په سکوت په آرامۍ کې یې ژوندۍ د خیال دنیا وه.
دغه سمڅه ژوندی روح په خوب بیده وه،
هی لګیا وه څه خوبونه ورسره وو رویاګانې یې لیدلې،
د خیالونو تصویرو په جوړولو کلکه بوخته.

❋ ❋ ❋

مودې ډېرې تېرېدلې،
په دې هسې ښکته تللو.
لاروی ښکته روان و، سپك بې وزنه،
ژور تل ناشنا محل ته کوزېدلو.
سپین غبار و، خړې لړې،
ډوبېدلو، ډوبېدلو.

❋ ❋ ❋

پس له ډېر اوږده سفره،
لاروی اخر راورسېد یو ځای ته،
هلته پروت و یو لوی ډنډ عجیب بې شانه.
اوبه ډنډ پکې ولاړې، تاریك تارې.
هم ګنده وې هم راکدې، هم مردارې.
رنګ یې تور و، لکه زړه د تورې شپې تور.
کنارې د ډنډ یې دورې ورکې ورکې ناپیدا وې.
لاروی ښه ورنژدې شو دغه ډنډ ته.
چې کتل یې ، ډنډه ډکه د چیمجو و،
ملیونونه ملیاردونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې حسابه غټ چیمجي کوچني چیمجي وو په اوبو کې،
ښکته پورته ښوریدل ټول خوځیدل ټول.
لاروی ورته ښه ځیر شو،
نو لیدل یې چې چیمجیان واړه چیمجیان ټول،
یو دبل په ځان اخته وو، یو د بل په خوړو بوخت وو.
هی لګیا وو یو به یو خوړ بل به بل خوړ.
څیرول و،ماتول و، خړول و.
تماشه وه وحشتناکه لړزوونکې.
بیا به ورو ورو په چیمجیانو کې یو غټ شو.
نور چیمجیان به یې خوړل ډېر.
بیا به نور هم غټېده قوي کیدلو.
دا چیمجی به لوی ماهي شو، مار ماهي شو.
جسامت به یې غرونه غرونه د نهنګ شو.
هی چیمجیان به یې خوړل ټول،
د تور ډنډ اوبه به یې څښلې.
ولږه تنده به یې نوره زیاتېدله.
بیا پیدا به یې پښې کړې،
هم تېرې تېرې منګولې، هم وزرې، هم ښانګونه.
هم اور بوز، هم اوږدې داړې، تېز غاښونه.
دواړه سترګې به یې د وینو کټوري شول.
له سپېرمو نه به یې د اور لمبې ختلې.
د چیمجي نه به غر جوړ شو.
نور په ډنډ کې نه ځایدلو.
نو په ورو ورو به روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تور ډنډ نه به راووت.
بیا به تللو پورته پورته.
د تورتمې سمڅې خولې ته.

❁❁❁

له دې هسې تماشې نه،
لاروی لاړلو ډوب شو،
په بې وصفه لوی حیرت لوی تعجب کې.
ډېر خپګان ډېر تاثر ورته پیدا شو.
نو له ځانه یې پوښتنه هسې وکړه:
"دغه واړه ولې ولې په دې هسې شان پېښېږي؟
ولې ولې څه د پاره داسې کېږي؟
ولې ولې څه د پاره؟
معنی څه ده؟"
دا پوښتنه وه، پوښتنه آخرینه.
ځکه، ځکه دا سوال خو،
د زاړه، زاړه شعور د وروسته پاتې ګرد او خاورې نه راغلی پورته شوی،
بیرته کښېناسته فنا شو په ایرو کې.
پس له دې نه، بیا هېڅکله لاروي ته پیدا نه شو دا سوال نور.
غبارونه شو راپورته.
لړې لړې راپیدا شولې غلیظې.
هر څه پټ شول، هر څه ورك شول.
لاروي هیڅ لیدای نه شو، نه تر مخه نه تر شا خپل.
نظاره شوه ډوبه ډوبه، په ابهام کې په یو خړ تورتم ماښام کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له دورې هلته دورې،
لا هغه شان ځلېدله، رڼاګۍ کوچنۍ ناتوانه.
لاروی د نيمو شپو بيا،
چې هر څو نژدې ورتللو،
رڼاګۍ به دورې تلله، دورې دورې ځلېدله.....

❁❁❁

## سر الاسرار

لاروی د نيمو شپو نور،
له خپل ځان خبر نه شو چې څه وشو؟
واړه ځمکې اسمانونه سره يو ځای شول،
يو په بل کې شوه دننه.
هم مکان زمان پيوند شول يو له بل سره.
بيا ماضي او مستقبل هم.
دعلم بې انتها دورې قطبونه رانژدې شول.
يو له بله سره غاړه په غړۍ شول.
د هغه حال په شيبه کې،
ټيټ او پاس له منځه لاړل،
هم مفهوم د نږدې والی لرې والی ورك نابود شو.
لاروي د نيمو شپو ناڅاپه وليد،
چې دفتر دزمانې ورته برسېره مخکې پروت دی،
د آغازه تر انجامه.
کاينات بې انتها هم،
له ذرې تر کهکشانه يوه صفحه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د ده له نظر تېره په یو دم شوه،
دا عالم یوه لحظه ابدیت شو،
هر څه هست وو، هر څه نیست وو، په یوه لحظه شېبه کې.
یو کیهان بې انتها و،
بې حساب کهکشانونه، غبارونه.
جوړېدل پکې لمر، ستوري نظامونه،
څرخېدل بیا، ځلېدل بیا، ورکېدل پناه کېدل بیا.
د ذرې زړه کې رڼا بې انتها وه،
پکې بل لوی لوی اورونه.
چراغو هلته نڅا کړه،
مشعلو هلته ګډا کړه.
دا سپرغۍ وې هرې خواته د نګېدلې،
بیا د شپې په تروږمۍ کې ورکېدلې.
بیا به نور اورونه بل شول،
نور جشنو نه به شروع شول.
ټول سیندونه دریابونه یې لیدل چې،
څنګه درومي، له کوم ځایه را روان کوم خوا روان دي،
هم لیده یې سمندر چپې چپې ستر،
چې موجونه غرونه غرونه،
زغلېدل په کومې لورې؟
کومو غاړو ساحلو باندې لښکرې؟
انسانان یې له نظره تیرېدل ټول،
له آغازه تر انجامه،
چې له کومه پیدا کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عراده د سرنوشت کومه را کاږي،
چېرته درومي بیا څه شانته فنا کیږي؟
په دې هر څه کې معلوم یو حقیقت ورته ښکاره شو.
که زمان و که مکان و،
هغه واړه بې معنی وو.
که معنی وه فقط یوه وه دا معنی بې معنایي وه.
ځکه ځکه
که هر څومره دماضي په لوري لاړو دورې لاړو،
که یې سیر وکړو په حال په مستقبل کې،
د زمان له دریاب پورې پورې غاړه هر څه هېڅ وو.
بې شماره کیهانونه، بې حساب کهکشانونه بل څه نه وو.
جزیرې کوچنۍ کوچنۍ وې، ټاپوګان وو..
په دریاب کې نامحدوده ، نامفهومه.
د مکان له درشل ها خوا هر څه تش هر څه خالي وو:
له دې همه واړه تېر شو بیا راتېر شو.
د ذرې په زړه کې ننوت دننه.
هلته هم هغه دریاب و نامحدوده نامفهومه.
بې حسابه کیهانونه، بې شمار کهکشانونه.
جزیرې وې، ټاپوګان وو،
له دې ټولو یو ځل تېر یو ځل را تېر شوو
خو په هر لوري چې تللو،
بس یوازې یوه مانع وه ،یو حایل و،
لاروی ورسره هر ځای مخامخ شو.
دا حایل فقط نشتوالی د معنی و، د مفهوم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حایل نه و، دېوال و،
گیر چاپیره، پاس او لاندې،
له عالمه چاپېر شوی.
دا دېوال د لا یعني و.

❋❋❋

په آخر کې،
لاروی شولو آگاه له هسې رمز نه،
چې هیڅکله باید ده موندلای نه وای.
خو ده ومونده یو سر د ټول اسرارو،
د وجود ا و د هستۍ د رمز و راز
ورمعلومه ورښکاره شوه،
چې عالم او هستي واړه،
بې معنی دي ، بې مفهومه،
لټول د کوم معنی او کوم مفهوم هم.

---

*۱- د اتن ښار د هنر، شعر، ډرامې، فلسفې او دیموکراسۍ زانگو.*

*۲- Minerva په رومي اساطیرو کې د عقل او ذکا الهه ده چې د هنر ملاتړ هم کوي.*

*۳- د افلاطون د جمهوریت پنځم کتاب.*

*۴- یعنې هغه رڼا چې افلاطون په مافوق انساني جهان کې لټوله، هغه هم دننه د انسان په تور تم طبیعت کې پرته ده.*

*۵- د ریښتیني انساني عشق او مینې احساس.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به ځان جهان ښنـد مه
په آشنـا پسـې بـه ځمه
پرې له پاسـه قـدم ږدمه
که دښتـونه بیـابان شي

❁❁❁

چې په لاردي هغه ډېـردي
یو څو ما غوندې گمراه ښه
خوشحال ختټك

## شپږم پړاو

# هغه ښار چې تور ښامار ور باندې ناست و

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاه لیلی په تمه ناسته ګریوان څیرې

لاروی د نیمو شپو په ځان پوه نه شو،
خبر نه شو،
چې په هغې توره سمڅ کې څه ورپېښ شول؟
سمڅه څه شوه، لړې څه شوې؟ غبارونه چیرته لاړل.
فقط دومره ورپه یاد شو،
چې هم هلته، په هغې تورتم دنیا کې،
یو تونل و تللی تللی کومې خواته،
پناه شوی پټ په توره توره شپه کې.
او هم هاغه رڼاګۍ کوچنۍ ناتوانه،
دورې دورې په اخر کې ځلېدله.
لاروی په دې رڼا پسې روان شو،
په تونل کې.
خو هر څومره چې نژدې نژدې ورتللو،
رڼاګۍ به دورې تلله.

❁❁❁

بیا یې ناڅاپه کتل چې، هی روان دی، کړي مزلې.
خبر نه شو له تونل نه څنګ راووت؟
رڼاګۍ کوچنۍ ناتوانه څه شوه څه شوه؟
خبر نه و چې له کومو بیابانونو صحراګانونه راتېر شو؟
څه بې شماره پړاوونه تر شاپاتې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي يوازې يو احساس کوو چې:
بيړه بيړه عجله جلتي پکار ده،
منډې منډې ضروري دي.
ځانته يې دا وينا کوله:
"- زه بېريږم ډېر بېريږم،
چې به خپل منزل ته ورسم که نه؟
که هم ورسم مقصد ته،
نو ډاريږم چې فرصت به وي تير شوی،
هم به وخت ناوخته شوی وي بې شانه،
بيا به څرنگ خبروم زه د ښار خلك،
چې ښامار بيا را روان دی،
راستنېږي رارسېږي،
ما خو تل ويلي ځانته:
دا اوږدې اوږدې استوگنې په ښارو کې،
ښه کارنه دی.
يو خطر لوی پکې پروت دی، يو ناڅاپه را ولاړ شي.
زه حيران يم.
ښاريان ولې نه بوگنېږي نه ويښېږي؟
ولې نه اوري د ويښ زړه په غوږونو،
پيغامونه پټ پراته په افسانو کې؟
دا خبرې لاروي ځانته کولې،
انديښنو کې ډوب روان په منډو منډو.
نه پروا ورسره د غنو د اغزو وه.
نه سودا ورسره د لارو د بې لارو.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ چې مازیگر نژدې کېدلو،
نو له ورایه راښکاره شوه په صحرا کې،
ابادي د انسانانو.
ما نې ګانې منارې لوړې ګنبدې،
د ټاپو په شان دریاب کې ځلېدلې.
څنګ چې لمر په پرېوتو شو،
لاروی دنیمو شپو ستړی ستومانه،
تږی وږی شونډې وچې، پټ په دوړو،
اخر ورسېد خپل ښار ته.
لاروی په لویه لار باندې روان و،
ورو ورو ښار ته ورنژدې شو.
چې کتل یې،
په بېدیا کې، دهغې لارې په غاړه،
هلته ناسته وه په خاورو،
یوه پېغله نازنینه،
زوړ کمیس یې اغوستلی شین بخن و.
اوږدې زلفې پریشانې،
نرمې نرمې دصحرا باد ښورولې،
دغروب په سره رڼا کې یې د سرو زرو شغلې شغلې کولې.
یو منګی ډك داوبو یې خوا ته پروت و.
بیا دا پېغله نازنینه،
لاروي ته په ځیر ځیر شوه،
په شېبو شېبو یې ده ته وکتلې.
تر څو ناڅاپه موسکۍ شوه په خندا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا به وې چې.
له کوم وخته چې عالم راپیدا شوی،
دغه پېغله نازنینه هلته ناسته،
د خپل ورك مسافر لاره یې څارله،
د خپل ژوند او دهستۍ له ژور تل نه،
تمه تمه منتظره وه دیدار ته،
د دې هسې سرګردانه مسافر خپل،
چې دا اوس و، دغه ځای ته خپل منزل ته رسیدلی.
لاروي نا څاپه ولید،
چې دورك سمندر غاړې،
دهغو ابي چشمانو په دریاب کې،
نژدې هلته ښکارېدلې.
د ژوندون صبح صادق یې،
دهغو رنګینو شونډو په افق کې،
ځلېدلو خندېدلو.
ناشنا پیغلې نازنینې،
شین کمیس څیرې ګرېوانې،
اوږدې زلفې پریشانې،
کړو راپورته خپل منګی په دواړو لاسو،
لاروي هم دواړه لاسه کړه ورپورته،
په دعا شو،
دواړه لپې ورنژدې کړې.
پیغلې تویې ورته اوبه کړې له منګي نه،
یخې یخې رڼې سپینې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي کړه تنده ماته خپله خپله،
بیا اوبه یې لیپ لیپ،
په خپل مخ او په خپل سر هم وشیندلې.
خاورې دوړې د دښتونو بیابانو،
لاړې لاړې صفایي شوه.
د صحرا غبار ګردونه، ټول دردونه زحمتونه،
ورك پناه شول او نابوده.
لاروي په زړه کې داسې زمزمې کړې:
"جینۍ د زړه په کور کې ناسته.
ما په دښتو شړو میرو کې لټوله.
یخې اوبه دلته منګې کې.
زه وچې شونډې په صحرا کې ګرځیدمه" *
چې بیا وروسته،
لاروي د دې ناشنا پیغلې تپوس د حال احوال کړو،
د ښار خلکو ورته ووې:
"هغه پېغله زوړ کمیس خیرې ګریوانه،
چې دلارې په سرناسته وي ملنګه،
د هغې نوم خو لیلی دی،"

❁ ❁ ❁

## ښار د زړه په سترګو ړوند و

لاروی د نیمو شپو چې بیا نژدې ورغی ښار ته،
نو کتل یې،
ګرد چاپېر له هغه ښاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خندك، ژور خندك و كيندل شوی.

هم تاو شوی ترې دېوال و،

يو بې شانه لوړ دېوال و،

يو بې شانه لوړ دېوال پلن،

ځای په ځای پکې برجونه تير کښنونه.

لاروی متعجب شو پرېشانه.

❁ ❁ ❁

بيا د لويې دروازې نه لاړو تير شو، ور دننه شو په ښار کې.

ها خوا دې خوا يې کتلې:

هېڅوك نه وو،

کوڅې تشې لارې تشې،

د کورونو دروازې کلکې تړلې،

هر خوا چوپه چوپيايي وه.

په دې وخت کې را پيدا له کومې خوا شو،

يو سړی و، شا يې کړوپه ، ملا يې کړو په،

هم په دواړو سترګو ړوند و.

يوه امسا يې لګوله، رانږدې شو.

لاروي ترې تپوس وکړو:

"- د دې ښار ماشومان څه شول؟ چېرته تللي؟

نه اواز دخندا ګانو، نه د لوبو شور ماشور شته،"

په شا کوپ ړوند په خندا شو.

يوه خندابده خندا ترخه خندا وه.

نو يې ووې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"له تېوسه دې ښکارېږي،
چې راغلی له کوم ځایه نا اشنایې،
اجنبي یې، مسافر یې، نا بلده،
بې خبره د دې سیمې له رسومه له رواجه.
په دې ښار کې،
ماشومان بې ځایه نه ګرځي کوڅو کې،
زموږ ستر واکمن په امر،
ماشومان له کوچنیتوبه روزل کېږي،
چې تور زن شي، مېړني شي، جنګیالي شي،
دهېواد جنګ ته تیاروي،
خپل محبوبه فرماندار ته وفادار وي،"
لاروي چې دا خبرې واوریدلې،
نو دچورت په ډنډ کې ډوب شو،
اندېښمن شولو بې شانه .

❁❁❁

څو قدمه پرمخ لاړو.
لاروي لیدلې ښځې، له کورونه راوتلې.
غلې غلې په احتیاط ډېر، په خلوت کوڅو کې ګرځېدلې.
جامې تورې، سرتر پښو په پردو پټې، سترې سترې.

❁❁❁

د کږو وږو کوڅو نه لاړو تېر شو،
لاروی ورسېده د ښار مرکز ته.
نویې پام شو یوې عجیبې تماشې ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه مانۍ هلته ولاړه هسکه دنګه،
زينې، ستنې رواقونه د رخامو د مرمرو.
هم د هغې مانۍ خواته،
يومعبد و باشکوهه.
هم يوستر بوډا راهب هلته ولاړ و،
ژېړ کميس، اوږد کميس يې و په تن کې،
ډېر ځوانان هلته لګيا وو
د راهب تر فرمان لاندې.
د معبد په خدمت بوخت وو.
لاروي چې دا حال وليد،
بې اختياره په خندا شو.
ځکه ځکه دا داستان هسې داستان و،
چې ده چيرته اوريدلې په بل ځای کې مکرر و څو څو واره.
لاروی په حساب پوه شو،
چې ده ځان رارسولی دی منزل ته،
خو ناوخته ډېر ناوخته دی راغلی.
اژدها توره بلا له ده نه مخکې،
ډېره مخکې رسيدلې، په دې ښار ده کښېناستلې.
په دې سوچ کې ډوب ولاړ و،
تر څو ناڅاپه يې پام شو،
چې ټول خلك هك حيران هلته ولاړ دي،
ده ته ګوري تماشه کړي.
سترې ښځې ځغلي ځغلي ترې پټېږي،
مخ ترې اړوي له شرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی له ځانه خبر نه و:
چې په سمڅو مغارو کې،
د اوږدو اوږدو استوګنو په مودو کې،
ټول ویښتان یې اوږده شوي، سرببر، ږیره ببره،
ویښتان هر خوا ځوړند ځوړند.
په صحرا په بیابان کې،
د اوږدو اوږدو مزلو په دوران کې،
لاروي د تن جامې وې څیرې شوې،
بیا ټوټې ټوټې نښتلې پاتې شوې په ځو زانو په اغزو کې،
لاروی ښار ته راغلی لوڅ لغړ و.
هم په دې اوږده سفر کې،
لاروي نه هېرې شوې وې خبرې ډېرې ډېرې.
د ده هېرو دلوخ توب او بربنډ توب معنی مفهوم ټول.
دی حیران و چې څه پېټ کړي؟
او دا څه له چانه پټ کړي؟
هغه څه چې ده موندلي وو له ځان سره راوړي،
له هغو نه مقصد داو چې ښکاره شي بې پرده شي.
نو دا ځکه:
لاروی په هغه ښار کې هرې خوا لاړو مشهور په لېونتوب شو.
د ښار خلکو به ویلې: دی مجنون دی.

## په ړندو کې یو بینا نوم یې مجنون شو

لاروی د نیمو شپو چې یو ځل ښار ته خپل راستون شو،
د ښاریانو په خندا به ژړېدلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاريانو په ژړا به خندېدلو.
کله کله به د دې سيمې واکدار لوی فرماندار ستر،
د جنګونو فتوحاتو نه راستون شو،
توره ډال به يې تر ملا وو،
پولادي زغره په تن نېزه په لاس کې،
په تور اس به سپور روان و.
ښځې نر واړه زاړه به راوتل پذيرايۍ ته،
قطارونه به د لوی لارې په غاړه دريدل د مخلوقاتو.
هلهلې وې شور ماشور وخوشالي وه.
ټولو خلکو به دايوه چيغه وهله:
"ژوندی اوسې تل تر تله ای زموږ ګران قهرمانه!
جانشين د ستر ايګو ستر پهلوانه!
رب دې درکړي تاته عمر جاوېدانه!"
لاروي به تل ژړلې، په دې هسې خوشاليو.
چې به کله باغي شوي مينان د ازادۍ د سرمستی.
کلك تړلي زولنو کې، زنځيرو کې
په راښکو راښکو روان شول،
زندانو ته ځمکې تل کې،
نارينه به ډېر خپه وو ډېر غمګين وو،
ټولو ښځو ماشومانو به ژړلې.
لاروی به خندېدلو
نو به خلکو يو له بل سره ويلې:
"دا سړی خو لېونی رښتيا مجنون دی!"

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه ته به چې نورو ډېر ډېر پام کړو،
لاروي به ورته هېڅ اعتنا نه کړه.
بیا کوم شي ته چې به نورو نظر نه کړو،
لاروي ته به بې شانه با ارزښته ښکارېدلو.
د ښار خلکو سره شوق و،
د مرغو د ښکار کولو، قتلولو.
لاروي به د مرغانو شورماشور ته غوږ نیولو،
هر ماښام هر مازیګر تل.
له دې کاره به هیڅ نه ستړی کېدلو.
د ښار خلکو به له ونو نه مېوې راټولولې،
لوی خاښونه څانګې ستې ماتولې پرېکولې.
لاروي به په مودو مودو یوې پاڼې ته کتلې،
چې په څه شان د ورږمې په غېږ کې ناڅي
څه رنګونه،
څه بې شانه رڼاګانې په دې پاڼه کې ځلېږي؟
نور به یې هیڅ شی نه لیدلو.
له دې هسې تماشې نه لاروی نه مړېدلو.
د ښار خلك یو پر بل پورې نښتي،
یو د بل په ښو او بدو تل اخته وو.
لاروی به په یو کنج کې غلی کښېناست،
سر دننه په ګرېوان کې چوپ خاموشه،
ځان ترې هېر و، اسمان ځمکه به ترې هېر وو،
ځکه د ښار خلکو به ویلې:
دا سړی رښتیا مجنون دی.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو ځینو به هم دا بیان کولو:
"دا سړی خو لېونی دی.
ولې ولې ازاد ګرځي؟
څوك يې ولې نه تړي په زنځيرونو؟
ولې نه استول کېږي کوم زندان ته؟"
بیا به نورو ځواب ورکړو:
"په رښتیا چې دا غریب سروپ لېونی دی.
سره له دې هم زنځیري لېونی نه دی،
ضرر نه رسوي چاته، بې ازار دی.
د ښار نظم ارامۍ ته خطر نشي پېښولی.
بس یوازې،
د کوچنیانو ساده ګانو سات پرې تېر دی."

❁ ❁ ❁

لاروي به د ښار خلکو ته دخپل سفر کیسې کړې.
دا کیسې به کم عقلانو ساده ګانو اورېدلې.
خو مانا کومه مانا یې نه موندله په کیسو په افسانو کې.
نورو خلکو به خندلې .
دا خبرې ورته پوچې ښکارېدلې.
بس یوازې،
ماشومان به کله کله د کورونو د قیدونو نه راپټ شول،
لاروي تر خوا به ناست وو چوپ خاموشه.
اورېدل به یې داستانونه د خپل زړونو په غوږونو
ځکه ځکه پوهېدل دوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کیسو د داستانونو په اسرارو په رمزونو.
بیا به کله چې همدا ماشومان لوی شول غټ سړي شول،
نو به يې هېرې افسانې کړې،
هېرې هېرې معناګانې پټې پټې د ژوندون هم.
دوی به هم په لاروي باندې خندلې.
بیا به دوی هم دا ویلې:
دا سړی خو لېونی رښتیا مجنون دی!"

❁❁❁

لاروي د نیمو شپو به د ښار خلکو ته ویلې:
"ای ښاريانو راشئ واورئ!
ما ملکونه هېوادونه ډېر لیدلي.
په صحرا کې ما اوږدې مزلې کړې.
تورې شپې په ما راغلې.
په اوږدو اوږدو مودوهم،
د سبا دراتلو لارې ما څارلې.
د تورتمو مغارو په ژور تل کې،
تروږمی مالټولې.
رڼا ګانې مې لیدلې.
په دې هر څه کې معلوم يو حقیقت راته ښکاره شو:
د زمان د دریاب پورې پورې غاړه،
هر څه هیڅ دي.
د مکان له درشل ها خوا.
هر څه تش هر څه خالي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عالم او هستۍ واړه،
بې معنی دی بې مفهومه.
بې معنی او بې مفهومه،
لټول د کوم معنی دکوم مفهوم هم.
نو دا ځکه:
فقط زه یوازې زه یم، سرچینه د هر څه زه یم،
په عالم کې دعالم د ارزښتونو خالق زه یم.
په جهان کې معناګانې مفهومونه فقط زه ایجادومه
په هستۍ او په وجود کې،
د معنی او د ارزښت که رنګ او بوی شته،
دا زما خلق او ایجاد دي.
که هستي رنګین رنګینه،
دا زما په ارزښت رنګ ده.
که ترې بوی راځي د مشکو د لونګو،
دا زما په معنا ګانو ده خوشبویه، معطره.
او زه وایم:
دهستۍ معنا لیلی ده.
که باور نه کړئ نو ورشئ ورته ځیر شئ!
نو به پوه شئ:
چې زما په معنا څرنګ د لیلی لبان رنګین دي.
بیا زما د ارزښتونو رڼاګانې،
په څه شانې،
دهغو ابي چشمانو په افق کې تل ځلیږي.
او زما د خلقت عطر خوشبوی څنګه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو زلفو ولولو نه چپې چپې راخېږي،
لاروي به دا خبرې هسې کړلې.
د ښار خلکو به خندلې،
په خپل منځ کې به یې ویلې:
"دا سړی خولېونی رښتیا مجنون دی."

❁❁❁

کله کله به راغونډ شول،
د دې ښار ټول ساده ګان او ابلهان ټول.
لاروي پسې به لاړل
ځورول ازارول د دوی مقصد و.
لاروي نه به راتاو شول.
بیا پوښتنې به یې کولې ځای بې ځایه.
لاروی خو دې خبرو تپوسونو ځای بې ځایه،
هر ګز نه شو ځورولی.
د ځورونو ازارونو هېڅ پروا ورسره نه وه.
ځوابونه به یې ویل په نرمه ژبه مهربانه.
ساده ګانو به تپوس کړو:
خبر نه یې لیلی څه شوه؟
ولې نه ورځې دیدار ته؟
خبر نه یې؟
سره ډولۍ سمباله شوې.
شاه لیلی دی سینګار کړی پکې ناسته.
ځي روانه ده وړل کېږي چېرته دورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سیل کړې زر شه په منډه منډه لاړ شه،
که نه وخت به شي ناوخته،
لیلی تللې ځای خالي ته به ارمان کړې."
ای زما ګرانو دوستانو!
اوس به هېڅ وخت پس له دې ناوخته نه شي.
ما خو ځان رارسولی خپل منزل اصلي پړاو ته.
تاسو وایاست لیلی څه شوه؟
نو زه وایم.
دا زما زړه سره ډولۍ ده،
لیلی دلته ده دننه،
زما ځان زما وجود کې سینګار ناسته.
هر ساعت زما په زړه باندې قدم ږدي.
دا زما زړه د لیلی د قدم ځای دی.
زه ترې یوه لحظه تلای نشم چېرته دورې.
او زما د دې هستۍ د دې وجود له قلمروه،
لیلی یو قدم بهر ایښوداې نه شي.
له کوم وخته چې عالم را پیدا شوی،
لیلی ما سره یو ځای ده.
فقط زه ترې خبر نه وم.
ساده ګانو به ترې بیا پوښتنه وکړه:
"- داته ولې د مرغانو اوازونو ته تل غوږ ږدې،
او هېڅ نه ستومانه کیږې؟
په مودو مودو د پاڼو تماشه کړې،
چې د باد په غېږ کې څنګه د رڼا په مخکې ناڅي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې هسې تماشې نه ولې هېڅ نه ستړی کېږې؟
په شپو شپو په ورځو ورځو،
سر دننه په ګريوان کړې،
غلې ناست يې دخپل ځان سره.
ولې ولې له خپل ځانه اخر نه بېزاره کېږې؟"
لاروي به ځواب ورکړو:
"اې زما خوږو دوستانو!
دا مرغۍ چې شور ماشور په باغ او بڼ کړي،
ثناګانې د ليلی وايي.
د ليلی پرستش کاندي.
دغه پاڼه چې ښورېږي، د سبا باد ته رپېږي،
که اواز ته يې غوږ کښېږدئ؟
دا لمنه شين بخنه د ليلی ده شرهار کا.
تاسو واياست:
ولې ولې هميشه سر په ګرېوان يم؟
رانږدې شئ ښه غوږ کښېږدئ!
نو به پوه شئ په اسرارو.
واورئ واورئ دلته دلته،
په سينه کې مې دننه دا بهار دی.
ساده ګانو؟ تاسو واياست:
دا خو زړه دی چې درېږي.
دا زړه نه دی .
دا دربار د بل څه نه دی،
دا اواز دی د ليلی دقدمونو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده ګانو دا خبرې هسې هسې اورېدلې،
بې مفهومه بې معنی ورښکارېدلې،
نو به دوی همېش خندلې او ویلې:
"دا سړی رښتیا مجنون دی!"
ساده ګانو که هر څو خندل خندلې،
لاروی نه ځورېدلو.
ځکه ځکه دی اګاه و،
چې په ژوند کې که معنا کومه معنی شته،
دا معنی فقط خندا هسکه خندا ده.

❁ ❁ ❁

د هستۍ په خرابات کې شورماشور و.
یوه شپه د شپو روان و لاروی د ښار په منځ کې،
یوه کوڅه وه تنګه تنګه هم تور تمه،
لاروی ترې تېرېدلو.
ناڅاپي یې شول تر غوږه،
غلي غلي اوازونه د خندا د ټنګ ټکور هم.
دی حیران شو.
بې له فکره تامله په اواز پسې روان شو.
کنډواله وه نژدې هلته.
بیا زینې وې ورانې ړنګې ړنګې،
دی ترې کوز شو.
د تور تمو تنګو دهلیزونو څخه تېر شو.
په اواز پسې روان د خنداګانو ټنګ ټکور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهلېز په انتها کې دروازه وه کلکه پورې،
ده زنځير د دروازې وشرنګولو.
اوازونه د خندا د ټنګ ټکور ناڅاپه چوپ شول.
دروازه، ورته برسېره په مشکل شوه.
لاروی دننه لاړو.
لويه خونه وه پراخه.
هم په منځ کې د لرګيو لوړې ستنې پېړۍ پېړۍ وې ولاړې.
چت ورك شوی،
هم کونجونه، ديوالونه واړه ورك وو په تورتم کې.
هر خوا شمعې لګېدلې،
خړې خړې رڼاګانې يې کولې.
د دې شمعو په کم نوره پلوشو کې،
لاروي چې ښه کتلې، هرې خواته يې ليدل چې:
ځوانان پېغلې يو له بل سره غېږ په غېږ وو.
ځينې پټ ځينې لغړ نيمه بربنډ هلته پراته وو.
او د ټولو په لاسونو کې جامونه،
هم په ځمکه هرې خوا ماتې پيالې ماتې کاسې وې.
هلته شاته په تورتم کې،
غټ خمونه ډك خمونه چوپ ولاړ وو،
تماشايې د مجلس کړه.
د مستانو له محفله يو ناڅاپه،
شور ماشور شولو راپورته.
ټولو غږ کړو:
ګورئ څوك دلته راغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ د ښار مجنون دی،
اوس زموږ نن شپه مېلمه دی.
په خير راغلې ای مجنونه!
دا محفل زموږ محفل ستا خپل محفل دی.
موږ خو واړه ستا په شانه لېوني يو،
ستا په شانه بې خبره له خپل ځانه.
لاروي داسې غږ وکړ په مستانو:
ای ګونګيانو! ټپوسانو! ګيدړانو!
دا مستي ستاسو مستي څنګه مستي ده؟
چې د شپې په تور څادر کې،
د ښاريانو له نظره پټوئ ځان.
دا محفل څنګه محفل د خوشالۍ دی د ښادۍ دی؟
چې په شړو کنډوالو کې، خرابو کې،
غلی غلی جوړوئ ځان.
زه حيران يم چې دا ولې،
هغه څه چې په رښتيا بايد ښکاره وي،
په دې ښار کې تل پټېږي؟
هغه څه چې بايد پټ پناه پناه شي،
په رڼا بې پرده ګرځي؟
ولې ولې د ښار ټول ريا کاران فريبکاران ټول،
ځي معبد ته په رڼا ورځ؟
ولې ولې راستکاران ازاد سرمسته،
په تورتمو کنډوالو کې تل پټېږي؟
په کوم ځای کې چې انسان شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته سر هلته دماغ شته،
او دماغ کې ازاد فکر مست خیالونه.
نو داستاسو ځرنګ سر ځرنګ دماغ دی،
چې هېڅ نه در پکارېږي؟
نو یو کار خو ترې نه واخلئ!
ترې نه کار د پښو، واخلئ!
په ځلورو خو روان یاست،
په سرونو هم روان شئ!
چې مستانو داخبرې واورېدلې،
شور ماشور یې کړلو پورته.
ټولو ووې:
ای مجنونه! ته رښتیا وایې!
په ځلورو خو روان یو،
په سرونو تګ په کار دی.
دا سرونه چې زموږ دي.
غیر له درده بل څه نه کړي،
دا سرونه دماغونه بس یوازې دردوي موږ ځوروي موږ.
په دې وخت کې لاروي ته چا تقدیم کړه،
پیاله ډکه د شرابو.
لاروي ترې یو ګوټ وکړو.
چې کتل یې،
دا شراب ډېر بې مزې تروه تازه وو.
ټنګ ټکور ته یې غوږ کېښود.
ساز بې وزنه او د ساز سرود الات ټول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه مات وو واړه ګوډ وو،
هم بدرېخته بد جوړ شوي.
لاروي پوښتنه وکړه چې دا ولې؟
له مستانو نه يو مست داسې جواب کړو:
"ای مجنونه!
دلته وو زاړه خمونه د زړو زړو شرابو.
خو زموږه فرماندار ستر امر وکړ:
د خمونو زړونه مات شول، خيټې څيرې.
سرې سرې وينې آتشينې د خمونو،
شولې توی په تورو خاورو.
دا زموږ ساز او سرود ټنګ ټکورونه،
د ښار لوی راهب خوښ نه کړل.
را په قار شو په غضب شو.
ښکلي ښکلي ربابونه ستارونه يې ټول مات ټوټې ټوټې کړل
بيا ټوټې يې کړلې ښخې د خندق په ژور تل کې.
ښکلي ښکلي سندر غاړي،
ساقيان، ازاد مستان ډېر،
له مودو راهيسي بند دي کلك تړلي زنځيرو کې،
د دې ښار ترځمکې لاندې زندانو کې اوس پراته دي،
او موږ دلته، دهغوی په ياد خاطر تل،
کړو جشنونه پټ بزمونه.
بيا يو مست په سينه باندې ښويېدلو،
په خاپوړو ورنژدې شو.
په نښتلې ماته ژبه يې تپوس کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى مجنونه! راته وايه!
د جهان فرمانداران ټول،
ولې ولې د مستانو نه ډارېږي؟
لاروي ورته جواب کړو:
له مستانو نه ډار ځکه:
چې مستۍ کې تل خطر پروت د راستۍ وي.
له شرابو بېزار ځکه:
که څوك وڅښي قطره دوينو څاڅکی.
نور هر ګز اخيستی نشي له شرابو نه لذت کوم.
د ترخو ميو د تريخ حقيقت خوند زغملای نشي،
پرې ګومان کوي د زهرو.
بيا يو بل مست را نژدې شو په خاپوړو،
په نښتې ماته ژبه يې تپوس کړو:
"اى مجنونه! راته وايه!
ولې ولې رهبانان د لوى معبد کوي تل کرکه د مستۍ نه؟
ولې ولې د سرود ساز و سرود څخه نفرت کړي؟
لاروي ورته جواب کړو:
هغه څوك چې هڅه کاندي،
چې ژوندي د مرګ له خوند سره اشنا کړي،
نو دا هسې څوك هېڅ وخت زغملای نه شي،
چې يې ننوځي زړه ته،
شور لذت د ژوندانه کوم.
هغه څوك چې ړدي غوړونه د امواتو غږ اواز ته،
نو دا هسې څوك هېڅ وخت اوريدی نه شي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هستۍ او د ژوندون سازو سرود بيا. "
بيا يو بل مست په سينه سينه راوښويږد.
داسې ووې:
"ای مجنونه راته وايه!
ته زمونږ. پټو جشنو کې ګډون نه کړې،
خو همېش ښاد او خندان يې.
نه کوم جام څښې د شرابو،
بيا نو څنګه همېشه مست لېونی يې؟"
لاروي ورته په دې شان جواب ورکړو:
"ای زما خوږو دوستانو!
خبر نه ياست تاسو څه ياست؟
تاسو واړه قربانيان ياست،
بې ګناهه قربانيان د اژدها ياست.
دا خو هغه اژدهاتوره بلا ده،
چې دزړه په کنډوالو کې ستاسو ناسته ده ، ميشته ده.
خبر نه ياست تاسو څه ياست؟
تاسو واړه زندانيان ياست،
زنځيرونه زولنې درنه چاپېر دي.
دا خو هغه تور زندان دی،
چې په خپل لاس مو خپل ځانته دی جوړ کړی اباد کړی.
د دې ښار مستان چې جشن کړي ښادي کړي،
ته به وې کوم ماتم دمرګ ماتم دی.
په دې ښار کې هوښياران چې بيا ماتم کړي،
ته به وايې اموات مړي دي اختر کړي خوشحالي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتيا چې د ريا او دوه رنگۍ دغه انجام دی.
هغه څوك چې غولول کړي،
په اخر کې د خپل ځان په غولېدو شي.
هغه څوك چې ريا کار وي فرېب کار وي،
په خپل لاس خپل ځانته دام ږدي،
په اخر کې ددې خپل تزوير په دام کې ځان راگير کړي.
ای دوستانو!
راته واياست!
له نېشو نه له مستۍ نه مو مراد او مقصد څه دی؟
فقط يو څه:
هېرول دواقعيت دي نه موندل د حقيقت کوم.
شرابونه پيمانې ډکې تشېږي،
هدف څه دی؟
فقط يو څه:
چې دردونه د خودی د ځانځانۍ لږ څه ارام شي لږ قلار شي.
او نه دا چې د خودۍ د ځانځانۍ څخه ازاد شي،
له خپل ځانه بهر لاړ شئ.
ای زما خوږو دوستانو!
دا ژوندون زما ژوندون خو بل څه نه دی،
يوه تنده سراسر بې انتها ده.
دا هستي زما هستي خو بل څه نه ده،
دا يو شوق يو اشتياق دی نامحدوده،
که شراب خورم نو په کار دي،
چې دا هسك هسك اسمانونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي پيالې پيالې جامونه،
په کې مې وي سمندري دريابونه،
سره شراب وي آتشينه په سرو وينو د شفق رنګ،
هم زاړه وي د دې زوړ جهان همځولي.
که نشه کړم، که مستي کړم،
نو زما هدف دانه وي چې ځان هېر کړم جهان هېر کړم،
يا ښادي يو څو شيبې لنډې شيبې کړم.
ډېر وخت کېږي له دې هسې لنډو لنډو،
تېرېدونکو ښادۍ ګانو څخه زه يم راتېر شوی.
دا زما شراب خو هسې شان شراب دي،
چې ړانده ړانده چشمان پرې رڼا کېږي بينا کېږي.
دا زما مستي خو هسې شان مستي ده.
چې کاڼه کاڼه غوږونه پرې خلاصېږي.
نشه ستاسو خو زحمت لويه خواري ده،
چې پرته ورته په مخکې هوښياري ده،
بد فرجامه، خاتمه يې سردردي ده.
او زماپه بې هوشۍ کې بېخودۍ کې،
د خودۍ دځانځانۍ رنځونه تللي تر شا پاتې،
په پړاو پړاو ترې دورې يم راغلی.
ای زما ګرانو دوستانو!
تاسو واياست چې زه څنګ بې ميو مست يم؟
خبر نه ياست،
دا چې زه مستي مستي تل دايمي کړم،
د ليلی سترګې خمارې زه پرې مست يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشئ ورشئ د ليلى سترګو ته ځير شئ!
هلته هلته ليدل کېږي دهستې خمارستان لوى.
خو ډارېږم چې به تاسو هلته هېڅ شى مونده نه کړئ.
ځکه ځکه د ليلى ديدار د پاره خو په کار ده،
د دې لمر ځلانده سترګې په شان سترګه،
نوراني لويه روښانه.
د ليلى عشق درياب دى.
ستاسو زړونه تش رګونه،
خالي تش تش حبابونه،
خبر نه دي له محيط نه، نه خبر له ژور تله.
د ليلى د عشق دپاره،
زړه په کار دى ناپايابه نامحدوده،
هسې زړه چې که ورتوى ستر اوقيانوس لوى سمندر شي،
په کې ځاى شي، پکې ورك شي څاڅکي څاڅکي ... "
د مستانو مجلس چوپ و.
هرې خواته يو مطلق سکون سکوت و.
همه واړه سر ترپايه غوږ نيولي.
لاروي بيا، د دوستانو په محفل کې.
دا ناشنا خبرې وکړې:
"اى دوستانو!
لږ راپاڅئ راولاړ شئ!
د دې دشت وچ وچ ځنګلونه وچې ونې بې ثمره،
واړه واړه ماتې غوځې کړئ له بېخه له ريښې نه.
بيا په اور باندې لمبه کړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغزي غنې د صحرا د بيابان خپل.
هم مستان زنځير تړلي په تور تمو تاخانو کې،
را ازاد کړئ! زولنې کړئ ماتې ماتې.
هم د زړونو کنډوالې کړئ ړنګې ړنګې.
کوم ښامار چې پکې ناست دی،
دا ښامار ترې رابهر کړئ.
بيا حلال دغه ښامار کړئ!
د ښامار وينې بيا توی کړئ،
په دې سيمه په دې خاورو.
ځکه ځکه:
طبيعت ستاسو نه غواړي قرباني اوس،
لويه سخته قرباني هم،
قرباني د تور ښامار مار.
دا دښتونه، وچ ډاګونه، جل وهلي ځنګلونه،
خزان شوي چمنونه،
واړه تندې دي ځپلي، سختې تندې.
بس يوه تنده:
د ښامار دوينو تنده.
نو به هله ددې دښت ځمکه لمده شي،
ناشنابوټي به له دې نمناکو خاورو کړي سرپورته.
شين کميس به يې په تن وي.
شورماشور به شي راپورته په جهان کې.
هنګامې دنوي ژوند به راپيدا شي.
نو به هله د زړګي په نوي کور کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي نوي چراغونه رڼا وکړي.
نو به هله د هستۍ خمارستان لوی،
په هغو ابي چشمانو کې مونده کړئ.
نو به هله درمعلوم شي پټ رمزونه پټ رازونه،
د مستۍ دایم مستۍ، د ازادۍ دليونتوب ټول..."

❁ ❁ ❁

دغه شپه عجيبه شپه وه.
د لومړي کرت د پاره،
دا ناشنا خبرې ټولو اورېدلې دخپل زړونو په غوږونو.
د لومړي کرت د پاره، چا خندا تمسخر نه کړو.
خلکو نه وي: "دا سړی خو لېونی دی".
لاروي د نيمو شپو خبرې کړلې.
د هغه محفل مستانو اوريدلې.
دې خبرو کې مستانو پيدا کړي بيا موندلي،
کوم رنگونه کوم بويونه د معنا وو.
دغه شپه عجيبه شپه وه.
د لومړي کرت د پاره د دلبرو مهرويانو شهلا سترگې،
ځلېدې لکه چينې رڼې رڼې د غرو رغونو.
هم د نجونو خپرو زلفو پرېشانو،
خپرولو تازه عطر د صحرا وحشي گلانو.
هم د سروشونډو بوسه کې مزه گۍ وه،
د گورگورو د ممانړو.
د وحشي وحشي ميوو، د لوړو غرونو ځنگلونو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شپه عجيبه شپه وه.
هر هر گوټ د سرو شرابو سور انگار و.
د ژوندون عجيبه اور يې په سينو کې بلولو.
هر هر څاڅکی د سروميو يو مشعل و.
کنډوالې د زړونو يو دم چراغان شوې.
او مستانو د لومړي کرت دپاره،
په مستۍ خپله نشه کې،
يوه ناشنا مزه موندله.
دا لذت مرموزه خوند دازادۍ و.

❁ ❁ ❁

## د مرگي سيوری روان و ژوندي سري ور پسې تلل

يوه ورځ د ورځ چې لمر تلو پرېوتلو،
د مغرب په لوري ښکته،
او هم سيوري اوږدېدل تول،
د مشرق په لور دښتو کې زغلېدل پناه کېدل تول،
لاروي له ورايه وليد چې د خلکو لويه ډله وه روانه .
يو تابوت د يو څو کسو په اوږو پروت، د دوی سيوري تلل ترمخه،
دوی تر شا پسې روان وو
د بيديا دښتو په لوري تلل له ښاره په وتو وو.
دهغې ډلې ترمخه،
د ښار ستر راهب په اوږد زېړ کميس کې،
په وقار په تمکين ورو ورو به قدم په قدم تللو.
چې دخلکو ډله کله د تابوت سره رانږدې شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروی ورته د لار په منځ کې ودرېد.
داسې ووې:
"ای ښاریانو! راته وایاست!
دغه بار څرنګ دروند بار دی،
چې یې تاسې په اوږو وړئ؟
او دا ولې په خپل سیورو اوږدو سیورو پسې زغلئ؟
خبر نه یاست چې د سیورو سرعت زیات دی چټك زغلي؟
پسې نشئ رسېدلای.
دغه دروند بار چې راکاږئ،
دا درانده دراندده ګامونه چې را اخلئ،
ګومان نه کړم چې به ورسوي تاسې کوم منزل ته."
ستر راهب ورته په قهر وکتلې.
په ترخه ژبه یې داسې ځواب ورکړو:
ستا هستي ده یوه ونه،
بې ثمر ه وچ اغز نه،
نه احساس د خوشالۍ کړې نه دغم کړې.
زړه دې تور لکه لوګی دی هسې کلك لکه ډبره.
نه د ژوند درسره سوداشته.
نه د مرګ درسره پروا شته.
خبر نه یئ چې انسان په مړي ژاړي؟
بیا په غم او په ماتم په احترام ډېر،
دا خپل مړ دوست او خپلوان خاورو ته سپارئ.
هم کلونه وروسته ورروسته ارمانونه کړئ افسوس کړئ،
دغه مړی یادوئ تل."

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي چې دا ځواب په غوږو واورېد،
نه حیران شو، نه یې وکړو تعجب کوم.
خلك لاړو له تابوت سره.
لاروی هم په هغوی پسې روان شو، بهر ووتل له ښاره،
د ښار لوی دېوال نه شا ته هدیره وه.
په یو کنج کې کیندل شوې وه یوه کنده ښه ژوره.
هم په خوا کې یې د خاورو یوه ډېرۍ وه.
تورې خاورې تورې تورې بوی د نم ترې خپرېدلو.
څو سړي هلته ولاړ وو منتظره،
کلنگونه هم بېلونه ورسره وو
د راهب په لارښودنه،
ډېر اوږده او جنجالي مراسم طی شول.
تابوت کښیښود شو په قبر کې دننه
تورې خاورې پرې انبار شوې.
د هغه مړي پښو ته راهب ودریده ولاړ شو،
مخامخ دمغرب لور ته،
با شکوه با عظمته لوی راهب و.
مخ ځېره ساکن ارامه،
هیڅ کوم چاته یې نظر نه کړو
زېړکمیس اوږده لمن یې د ماښام باد ښوروله
خلك ټول ترې نه چاپېر وو.
راهب پیل کړو په خبرو،
جگ اواز یې یو نواخته ناموزونه.
د بیان په لومړي سر کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راهب داسې څه بيان کړل،
چې هېڅوك يې په معنی نه پوهېدل هېڅ.
خلکو ووې: دا دعا ده مناجات دی.
بيا له "اما بعد...." نه وروسته،
ستر راهب د هغه مړي نيك اعمال په نيکۍ ياد کړل.
له بيان نه ښکارېدله،
چې دا مړی په ژوندون کې داخلاقو نمونه وه،
د نيکۍ عالي مثال و
بيا راهب ستر،
د يو پټ مرموز جهان کيسې شروع کړې.
وې: "د مرگ له درشل ها خوا بل ژوندون شته،
هم بهتره هم بر تره".
وې: د دې دنيا خواري څه خواري نه ده،
همه واړه گذري دي.
رښتينی درد او عذاب دی بل جهان کې چې ثابت دی ابدي دی."
وې: "ددې دنيا عزت مال او دولت ته نظر مه کړئ،
ځکه دا شان خاورې کيږئ فنا کيږي."
بيا يې ووې:
"- بس يوازې،
ښه عمل دلارې مل دی بل جهان کې.
ښه عمل بس قناعت دی اطاعت دی.
دا خالي کالبد فاني دی خاورې کيږي.
مگر روح هېڅکله نه مري، کوي عمر جاوېدانه.
دغه روح يوه سپرغۍ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوتلې د بقا د اور له زړه نه.
بېرته ځي له هغه اور سره یو ځای کېږي.
روح یو څاڅکی د باران دی،
ځي تويېږي په درياب کې،
په درياب د سعادت او نیکمرغۍ کې تل ترتله...،"
چې راهب ستر کړلې ختم دا خبرې سترې سترې،
لاروی دنیمو شپو پاڅېد ولاړ شو.
خلك يې داسې مخاطب کړل:
"ای ښاريانو!
سیوری مخکې تاسو ټول پسې روان وئ.
دغه سیوری د مرگ سیوری تاسو ټول ورپسې زغلئ.
ما خو تاسو ته ویلې: له دې منډو نه به هېڅ په لاس درنه شي.
خبر نه یاست، ښکار د سیورو اسان نه دی،
سیوری چا نیولی نه دی".
لاروي دهغه قبر له سينې نه،
د نمناکو تورو خاورو تازه خاورو.
یو ښه موټی ډك راواخیست.
دغه موټی يې دخاورو،
د ماښام نري باد کې په هوا کې،
د مشرق په لور غوځار کړو.
بیا يې داخبرې وکړې:
"موټی خاورې تاسو وليدې چې باد یوړ ې دورې دورې.
د دې خاورو هر ذره به بیا ژوندون کړي،
مگر نه دا موټی خاورې چې باد یوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه دغه موټی خاورې به کوم ژوند دوباره وکړي،
چې دا تاسو اوس اوس کښېښود په دې گور کې.
خلکو پوه شئ!
نه قطره شته چې دریاب کې چېرته توی شي.
ځکه ځکه:
نشته نشته کوم دریاب نه سمندر کوم.
نه سپرغۍ شته چې یو ځای شي د کوم اور د سرې لمبې سره.
ځکه ځکه:
لا تر اوسه اوربل شوی چېرته نه دی.
راته وایاست: هغه موټی خاورې څه شوې؟
ستاسو پام گرځول شوی دی نیستۍ ته،
دا خو ځکه چې هستي شي درنه هېره.
ستاسو زړونه هدیرې دي،
پکې ښخې د امواتو خاطرې دي.
دا خو ځکه:
چې په زړه کې مو پیدا هېڅکله نه شي،
د حیات سره تړون کوم،
شوق، ارزو د کوم ژوندون کوم.
ای ښاریانو!
ولې دا پوښتنه نه کوئ له ځانه:
که دا مړی نیکوکار و، ولې مړشو!
نو پخپله به دا هسې ځواب وایاست:
چې له مرگ سره دنیکۍ او د بدۍ څه پروا نشته،
ماورا دی هم له خیره هم له شره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ نیستي ده د ښو بدو.
مرګ عدم د خیر او شر دی.
د مرګي فکرونه څه دي؟
بس مرګونه د فکرونو.
د مرګي هیله ارزو خو مرګ د هیلې د ارزو دی.
که نیکي شته که بدي شته،
بس په دې ژوند او جهان کې موندل کیږي.
او په کار دی،
چې په دې ژوند او جهان کې مکافات شي مجازات شي.
ځکه ځکه بل به نه وي کوم فرصت دا هسې هسې.
هغه څوك چې قناعت کړي اطاعت کړي،
غلامۍ ته غاړه ژر ږدي،
دغه واړه مجازات کړئ.
هغه څوك چې شور ماشور کړي بغاوت کړي،
د انسان وړ د ستاینې مکافات دی.
ای ښاریانو!
ستاسو جسم که فاني دی،
ستاسو روح هم باقي نه ده.
له دې جسمه هم لا نوره زیاته ګذري فاني ده.
تاسو کله چې خپل جسم خپل کالبد خاورو ته سپارئ،
له دې کاره لا پخوا تاسو پخپل لاس،
خپله روح پخپله وژنئ.
بیا د ګور تر غاړې پورې،
دغه مړه بې ژونده روحه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنده شخه یخه یخه،
په اوږو خپلو راکاږئ.
راته وایاست:
ایا تاسو پر ملا خپله پر شا خپله،
د دې درونډ باراحساس نه کړئ؟
دا درونډ والی ددې پیټي خو زه وینم،
سراسر ستاسو وجود کې،
دا ملاګاني ټيټې ټيټې،
دا سرونه ښکته ښکته،
دا مخونه زیړ بې رنګه،
دا لینګي کاږه واږه هم،
دغه واړه حکایت کړي،
له دې هسې درانده باره شکایت کړي.
ای ښاریانو!
خبر نه یاست تاسې مړه یاست.
روح مو مړه ده فنا شوي.
تاسو ټول خو بس یوازې،
اشباحګانې بې ژوندونه خیال او خوب یاست.
تاسو څه یاست؟
بس یواځې یوه هیله بې مفهومه،
یوه تمه نامعلومه د یو بل موهوم ژوندون یاست.
تاسو ټول پخپله سیوري یاست د مړو د امواتو.
ای ښاریانو!
که لا اوس هم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه در پاتې د ژوندون شوق او ارزو وي،
نو دا مړی لږ څه هېر کړئ،
په ژوندون پسې روان شئ،
که لا اوس هم،
کوم هوس د ازادۍ ستاسو په زړونو کې باقي وي،
نو خپل ځانته هسې وایاست:
چې تر ټولو زحمتونو عذابونو،
په واقع کې،
لوی زحمت عذاب همدا دی،
چې دا اوس پکې اخته یاست.
او تر ټولو درندو پیټو نه دروند پېټی بل یو نشته،
واقعي تر ټولو دروند بار خو همدا دی،
چې دا اوس مو په شا پروت دی...

❁❁❁

لاروي دا بیان کړلو.
شاوخوا راغونډ ښاریانو هی سرونه ښورول خپل.
په افسوس په تمسخر یې یې یو له بل سره ویلې:
"دا سړی چور لیونی رښتیا مجنون دی."
بیا په خړ تورتم ماښام کې،
یو په بل پسې روان شول، ستنېدل د ښار په لوري.
لاروی هلته هم هغسې ولاړ و،
هی خبرې یې کولې،
خبر نه وچې نژدې په هغه ځای کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅوك نه وو پاتې شوي چې د ده خبرې واوري.
بس يوازې هلته دورې،
يو ډنگر كوڅه ډب سپى و پروت په خاورو،
لاروي ته يې كتلې چوپ خاموشه.
لاروي خبرې كړلې.
دا خبرې دماښام نرۍ وږمې بيا،
وړلې وړلې د مشرق په لوري دورې،
له كوم ځايه چې رڼا د سپين سبا را پورته كېږي.

❁ ❁ ❁

د ړوندو ښار د خطر سره مخامخ و.
په اخر كې د ښار خلكو،
كه واړه وو، كه زاړه، كه ښځې نر وو،
لاروى د نيمو شپو يې پېژندلو.
اوازه يې د شهرت هر خوا خپره وه.
ځينو خلكو به ويلې:
دا سړى اصلاً له عقله بېگانه و،
گرځېده به په بې لارو شړو لارو.
تر څو بالكل لېونى شو
اوس لگيا دى په دې ښار كې لېونتوب كړي.
او دا هسې شان بې قيده گرځېده يې ښه كار نه دى،
څه تجويز ورته په كار دى."
ځينې نور بيا معتقد وو،
چې دا شخص عادي شخص نه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحاني دی قلندر دی،
لوی خاوند د کراماتو مقاماتو،
په کلام کې یې پټ پروت غیبي پیغام دی.
❁❁❁

ښکاره نه شوه،
چې له دې دواړو خبرو څخه کومه یوه رښتیا وه حقیقت و.
یا دا دواړه ډلې تللې په خطا وې؟
لنډه دا چې،
بله ورځ، ورځ د بازار وه.
ګڼ شمېر خلك وو غونډ شوي،
د ښار منځ کې ازدحام و.
لاروي خلکو ته دا بیان شروع کړو:
"ای ښاریانو!
په یو وخت کې دلته ښکلی ښایسته ښار و،
چمنو نه شنه ځنګلونه ترې چاپېر وو.
مست سیندونه ډك رودونه،
په دې سیمه کې په هره خوا روان وو،
لویې لارې هر خوا تللې رسېدلې.
ماشومان به لوبېدل د سیند په غاړه،
ښه ځوانان وو ګرځېدل به،
ښکلې پیغلې سینګار کړې نځېدلې.
هم د میني راز او نیاز و،
ښکلول وو،زغلول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت و صفايي وه.
ای ښاريانو! راته واياست!
ګڼ ځنګلونه شنه باغونه،
واړه چا په اور لمبه خاورې ايرې کړل؟
د دښتونو غرځنۍ هم له کوم چانه ترېدلې رمېدلې؟
دلته ښار و اوسيدل پکې ښاريان ازاد سرمسته،
نه بې بې وه نه بادار نه فرماندار وو،
نه نوکرو،نه مريان نه وينځې مينځې.
دغه ښار يو هسې ښار و،
نه خندق ترې نه چاپير نه کوم دېوارونه حصار و.
ای ښاريانو! راته واياست!
هغه څه شو؟ چا ويران کړو چا تباه کړو؟
څه بلا توره بلا شوه پرې نازله؟"
دښار خلکو دا خبرې اوريدلې،
په قاه قاه به يې خندلې او ويلې – دا سړی رښتيا مجنون دی.
ځکه ځکه:
چې پخپله دوی ته ياد و، د دې سيمې حال احوال زوړ.
هم پلرونو له نيکونو له اجدادو روايت کړو،
چې همېش له ښاره تل پروت دا خندق دا شان دېوال و.
بهر هلته تل تر تله دا ډاګونه وچ دښتونه سپېره غرونه.
او دننه د ښار منځ کې،
همېشه دا شان مانۍ ولاړه هسکه،
پکې ناست تل زمامدار لوی قهرمان و.
هم پلرونه هم نيکونه يې تېر شوي واکداران زما مداران د خپل زمان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي خلکو ته بيا دا شان بيان کړو:
"ای ښاريانو! راته واياست!
د دې سمې لويې لارې چا ويجاړې کړې نابودې؟
د دې لارو سمو لارو لوی لوی پلونه،
چا ويران کړل چا خراب کړل؟
تاسو نه گورئ چې تاسو،
ځان پخپله په خپل لاس قلا بند کړی؟
په خپل لاس مو تور زندان ځانته جوړ کړی؟
که پوهيږئ،
دغه کار ستاسو بې ځايه بيهوده دی.
ځکه هيڅ کوم غليم نشته،
چې حمله په تاسو وکړي له کوم بل غليم هېواده.
او نه بل کوم لوی خطر شته.
کوم خطر چې ورسره واړه مخ ياست،
هغه دلته په دې ښار کې دی دننه.
کوم غليم چې په رښتيا د ښار دښمن دی،
هغه هسې سړي خور دی،
چې خوراك يې ستاسو زړه دی ستاسو وينې دماغونه.
دا غليم بل ځای کې نه دی،
د دې ښار په منځ کې ناست دی.
اوس نو واياست!
دا پاخه لوړ دېوالونه حصارونه،
دا خندق ژور خندق د څه دپاره؟
ای ښاريانو! دا زما خبره واورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوه ورځې د یو ښکلي ښایسته ښار نه بهر لاړم.
چې اوس راغلم بیا راستون شوم،
هغه ښار مې مونده نه کړو.
د هغه په ځای څه وینم؟
کنډوالې ویران ویجاړې،
او په دغو کنډوالو کې یو ښامار پروت."
دا خبرې چې ښاریانو واوریدلې،
دا کرت چا نه خندلې.
خو بیا هم دوی یو له بله سره ویلې:
"دا سړی رښتیا مجنون دی لیونی دی".

❁ ❁ ❁

لاروي دنیمو شپو یوه ورځ راپاڅېد،
د ښار خلك یې مخاطب کړه،
دا بیان یې ورته وکړو:
"ای ښاریانو!
خبر نه یاست؟
چې یو وخت خو ددې سیمې زما مداره،
الهه د نوبهار وه؟
ټول عالم یې پرستش کړو،
نیکمرغي وه، خوشالي وه.
او اوس وینم چې هغه د مینې خدایه،
تاسو ټولو هېره کړې ترکه کړې،
په دردونو په رنځونو مو ځانونه اخته کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په او هامو کې ډوب شوي،
په غمو مصيبتونو گرفتار ياست.
ای ښاريانو!
ايا تاسو احساس نه کړئ؟
خبر نه ياست له هغه زهر قاتله.
چې دا ستاسو په رگو په شريانو کې جاري شوی؟
او په زړونو کې در تويږي څاڅکي څاڅکي؟
ايا تاسو په دې خپلو دواړو سترگو گناهکارو،
ليدلی نه شئ؟
چې رنځونه درې ساري ساري رنځونه،
درې افته تل په تاسو مسلط دي،
هسې هسې چې له يو چا نه په بل چا پورې کيږي،
قتلوي هلاکوي ستاسو واړه ستاسو زاړه ستاسو ځوانان ټول،
تاسو واړه دخپل سر په ستر گو وينئ،
چې د ښار ښايسته ښځې،
ښکلي ښکلي ماشومان او با تدبيره بوډايان خو،
په نري رنځ د خپگان او غم اخته دي،
رنځوران دي دعدم په لور روان دي،
او ځوانان قوي ځوانان مو،
دغضب او قهر سخته تبه نيسي،
يو بل وژني تويوي د يوبل وينې،
واهمه او ډار خو هغه بد مرض دی،
چې په ټولو باندې يو شان گډ جاري دی،
ړنگوي مو د زړه خونې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره شپه مو ځنکدن دی،
هره ورځ د مرګ په تمه.
بل څه نشته، بس يواځې خپل مرګي ته،
شپې او ورځې تيروي سبا کوي تل.
ای ښاريانو!
ډېرې سترګې نابينا دي،
ډېر غوږونه ټپ کاڼه دي،
په دې ښار کې.
نه رڼا رښتيا دلته څوك ويني،
نه اواز د حقيقت دلته څوك اوري.
روغ غوږونه بينا سترګې که پيدا کړئ،
نو به هله سرودونه دمستۍ دهستۍ واورئ،
نو به هله رڼاګانې رنګارنګ ژوندون خو،
په نظر کې درښکاره شي.
اوريدلي تاسو ټولو د ليلی نوم.
خو هېچا يې غږ ته غوږ نيولی نه دی.
هم ليدلې تاسو ټولو دا ليلی ده،
دا ماښام په تروږمۍ کې د منګي سره د لارې په سرناسته،
خو هېچا ورته رښتيا کتلي نه دي.
ورشئ لاړ شئ ترې تپوس کړئ چې ته څوك يې؟
نو هغه به ځواب درکړي:
چې ليلی څه ليلی څوك ده.
په اواز کې به يې داسې سرود واورئ،
چې هر ګز به يې هېر نه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به پوه شئ چې ليلى ناشنا انگۍ ده،
کوم سرود د ژوند هستۍ مرموز بې شانه،
بيا بيا وايي دا انگۍ تل.
ژوند هستي ده د ليلى په خوله گويانه.
ورشئ ورشئ!
د هغو شونډو خندا ته دهغو سترگو ځلا نه نظر وکړئ.
نو به هله درمعلومه درښکاره شي،
چې ازاد مست ميينان چېرته اوسېږي
د اسمان ابي ابي رنگ،
د بهار دباران وروسته په سبا کې،
څرنگ رنگ دى.
ورشئ ورشئ!
د ليلى دقدم خاورې په سر باد کړئ!
بيا په سترگو کې رانجه کړئ!
چې بينا شئ.
اى ښاريانو! ښه خبر شئ!
تاسو واړه مبتلا ياست په دردونو په رنځونو.
د دې هر څه علاج يو دى درمان يو دى:
د ليلى د پښو خاورو ته سر کښېږدئ!
سجده وکړئ!
د ليلى پرستش وکړئ!"
دا خبرې ټولو خلکو اوريدلې،
ټولو خلکو به خندلې او ويلې:
"دا سړى رښتيا مجنون دى."

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو دفتر د زمانې په ختميدو و.
يوه ورځ د ورځو راغله،
ډېر بې شماره ښاريان غونډ وو د ښار منځ کې.
لاروی د نيمو شپو پاڅېد ولاړ شو،
اخر دا ناشنا بيان يې ښار ته وکړو:
"ای ښاريانو! ښه خبر شئ!
ستاسو ستر واکدار بادار خو،
تور ښامار دی.
تاسو واړه بنده ګان ياست غلامان ياست،
د ښامار مار.
دا واکدار ستر زمامدار مو همېش تږی دی د وينو،
هسې تږی،
لکه وينو ته چې تږي وي دغرو رغو لېوان ټول.
زړه يې کلك لکه تور کاڼی د بيابان،
لکه سندان دی.
که هم وڅښي سمندر سمندر وينې.
تنده يې لا پسې لمبه د اور لمبه شي.
که هم وخوري غرونه غرونه ژوندي سري،
ولږه يې لا پسې زيادت کا لا شدت کا.
په ليوانو کې لېوه له وږو وږی.
په درياب کې پروت نهنګ له تږو تږی.
ای ښاريانو!
ورشئ ورشئ!
خپل بادار ته له نژدې نه لږ څه ځير شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سترګې چې د ده دي، دوه د وينو کټوري دي،
دغه سترګې د ښامار دي.
هغه سرې لمبې د قهر او د غضب چې،
د واکدار د مخ څېرې نه پورته کيږي،
هغه اور دی چې راوځي د ښامار پوزې سپږمو نه.
د بادار هغه منګولې چې قوي دي پولادينې،
ستاسو زړونو کې ټومبلې کلکې خښې،
دا منګولې د بلا دي، د ښامار تورې بلا دي.
ای ښاريانو!
ښه خبر شئ!
دا بلا توره بلا چې دلته ناسته په دې ښار ده،
له کوم بل پردي هېواده خو راغلې دلته نه ده.
دا بلا ده په دې کور کې روزل شوې.
له دې سيمې پاڅيدلې،
پخپل لاس مو له خپل ځانه راويستلې،
په خپل ځان مسلط کړې.
دا بلا ستاسو بلا خپله بلا ده.
ځکه ځکه تاسو هر يو،
ښاماران ساتئ روزئ پټ.
په سينو په خپلو زړو کې .
چې د لوی ښامار خوراك شي،
چې ښامار لوی نور هم لوی شي زور ور شي.
خلاصيدای له دې ښاماره تاسو نشئ،
دا ښامار وژلی نشئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو تاسو راپا نه څئ،
دا ښامار په خپلو زړونو کې مړ نه کړئ نابود نه کړئ.
که د نفس بده بلا کړي څوك نابوده.
نو به هله د بلا تورې بلا څوك خوراك نه شي.
که د خپل زړ گي ښامار مو قرباني کړو،
نو به هله تاسو نه شئ قرباني د لوی ښامار مار.
په دې وخت کې،
ستر راهب و راوتلی،
د ښامار د لوی معبده.
چوپ ولاړو نژدې هلته،
غوږ نیولی لاروي ته،
ستر راهب له ځان سره ووې:
دا سړی رښتیا مجنون دی لېونی دی.
ځکه ځکه،
دغه یسر د ټول اسرار و،
دغه رمز د ټول رمزونو،
دغه اسم محضه خو،
هسي هسي بې پردې بیانول اسان کار نه دی.
زه حیران یم،
چې دا رمز د ټول رمزونو ده په څه شان پیدا کړی؟
دا سړی گر چې مجنون دی،
خو ښکارېږي له دې هسې بیانونو،
چې د حال مقام خاوند دی."
ستر راهب دا سوچ وهلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاروي بيا دا بيان خلکو ته وکړو:
"ای ښاريانو!
لاندې هلته دهغې هسکې مانۍ په ژور تل کې،
لوی زندان دی،
زندانيان پکې پراته زنځير تړلي.
پاځئ پاځئ!
زندانيان واړه ازاد کړئ!
زنځيرونه زولنې کړئ ماتې ماتې.
د زړګي د مانۍ هغه معماران چې شړل شوي،
تللي پټ دي چېرته سمڅو مغارو کې،
دا ماهره معماران بيا راستانه کړئ!
د زړه خونه دوباره کړئ پرې اباده.
تر څو تاسود ښامار مار خوراك نشئ".

❁ ❁ ❁

راهب پوه شو:
چې دا هسې شان بيان دغه خبرې چې مجنون کړي،
دا خبرې د دې ښار د عالم نه دي،
دا د بل جهان اواز دی.
يوه دنيا په ړنګېدو ده.
يو دفتر دزمانې په ختمېدو دی.
دا خبرې همه واړه رسېدلې فرماندار ته.
دی ښه پوه و چې مراد دمجنون څه دی؟
نو ترخه خندا به يې کړله زهر ناکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به یې ووې:
"دا سړی خو لېونی دی.
هم بې زوره بې قدرته.
د ښار نظم ته خطر پیښوئ نشي."
مګر ورو ورو،
ځینې ځینې د ښار خلك چې به کله شو فارغه.
د شاقه سختو کارو نه،
نو د شپې به په تورتم کې غونډېدل دوی،
د مجنون ځینې خبرې، به یې پټې یادولې،
ګونګوسي به یې کول پټ.
زندانیانو په تور تمو زندانو کې،
دا خبرې اورېدلې،
په خپل زړه کې یې ساتلې،
منتظر اماده ناست وو کوم فرصت ته.

❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه لیلی وه یو مجنون و
## د ښامار دربار ته لاړل

هغه پېغله شین کمیسې گریوان خیرې،
چې له هیچا نه یې مخ نه پټولو،
تل د لارې په سر ناسته له منگي سره،
او ستومانه مسافر به چې را پېښ شو له کوم ملکه دورې دورې،
د منگي یخې اوبه رنې اوبه ورته تیارې اماده وې،
دغه پیغلې ته د چا پام نظر نه و.
د ښاریانو په نظر خو:
د هغې سیمې د نجونو په کتار کې،
نه دا ښکلې وه بې شانه،
نه یې بل کمال لرلو.
ښکلې نجونې خو هغه وې،
چې وې پټې په پردو کې سینگار ناستې،
یا خدمت ته وې ولاړې،
دهغې هسکې ماڼۍ په دهلېزو کې.
نو دا ځکه دغې پیغلې گرېوان خیرې ته پام نه و د هېچا.
هېره شوې د ښاریانو له نظره.
فرماندار حتي دپېغلې له وجوده خبر نه و.
بس یواځې کړو او وړو دلاروي، دده خبرو بیانونو،
دا ناشنا نجلۍ مشهوره په هر خوا کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیلی او د مجنون داستان ترې جوړ شو،
هنګامه شوه اخر ورسېده غوږو دفرماندار ته.
هغه ستر فرمانروا یوه ورځ مجنون او لیلی دواړه،
خپل حضور ته په دربار کې را حاضر کړل.
❁❁❁

فرماندار لومړی مخ واړاوه لاروي ته،
په زیږه ترخه اواز یې ورته ووې:
"ای پردېسه مسافره!
چې د بل پردي هېواده یې راغلی .
په دې ښار کې اوسېدلې،
موږ پناه تاته درکړې!
زه خو اورم چې ته خلك رابلې تل،
چې دخپل پلرونیکونو معبد پرېږدي،
پخواني دود رواجونه کړي همه تر پښو لاندې،
د زړو خپلو لرغونو عقایدونه لاس واخلي،
او د دې ګدایي ګرې ناشنا پېغلې پرستش ته غاړه کښېږدي.
دا رښتیا ده؟
لاروي ورته جواب کړو:
"ای د کل جهان باداره فرمانداره!
ستا معبد خو نوی نوی نو بنا دی.
نه یې کلك نه یې پاخه دي دېوالونه،
نه ژور مستحکمه تهدابونه.
د دې سیمې رښتینی اصلي واکداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب النوعه د بهار وه، الهه د عشق او مینې.
په دې ځای کې میشته خلکو،
د هغې ښکلې دلدارې پرستش کړو.
هر هر لورې هرې خوا ته هر هر ځای خو،
د هغې د قدم ځای و.
چمنونه شنه دښتونه یې معبد و.
د زړه مېنه دهغې دعبادت ځای.
زه چې تلمه له دې ځایه،
هغې ښکلې نیمه خدایه په بستر د شنیلو لا گرځېدله.
غرڅنو یې شنه لمنه بویوله، ښکلوله.
اوس چې بېرته یم راغلی،
له سفره راستون شوی،
هرې خواته ریگستان دی وچې وچې صحراگانې
بیابانونه داغزو ډك ترې راتېر شوم.
نه چمن و نه باغونه نه ځنگلونه.
چې راورسېدم دلته،
نو لیدل مې:
چې د زړه خونه ویرانه ړنگه ړنگه کنډواله ده
هم دننه پکې ناست یو تور ښامار دی.
خلك وینم چې روان دي په بې لارو شړو لارو،
پرستش د اژدها کړي.
اې د کل جهان واکداره!
زه اوس دا لوی حقیقت بیانومه هر هر چاته."

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واکدار وچولی تریو شو.
د غضب اور یې لمبه شو په څېره کې.
یوه شېبه نیمه په چرت شو.
بیا یې وکړه یوه خندا د زهرو ډکه.
ځان سره یې ووې:
"پروا مه کړه!
دا سړی خو لېونی دی بې قدرته ناتوانه."
بیا یې مخ کړو لاروي ته د دوهم کرت دپاره.
په پسته ظاهري ژبه یې تپوس کړو:
"ای پردېسه مسافره!
راته وایه!
د دې ښار په ښکلو نجونو کې تا څنگه غوره کړې،
دا خپرنه دا سوالگره، بې کماله بې جماله؟
او زما وفادار خلك زحمت کښه رعایابیا،
رابلې ته چې سرونه په سجده ورته نسکور کړي؟"
لاروي ورته جواب کړو:
"اې دکل جهان باداره فرمانداره!
خبر نه یې؟
د ښامار زور او قدرت خو فقط پروت دی،
په هغه بېره او ډار او واهمه کې،
چې دا خلك پرې اخته دي.
که دا بیره شي زایله،
دغه ډار او واهمه له منځه لاړ شي،
نو ښامار یو دم سقوط کړي نابود کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه پوهیږې:
د ښامار د قدرت رمز او د ښامار د مرگ طلسم فقط دادی.
او همدا شان،
د بهار د رب النوعې زور قدرت خو،
فقط پروت دی، د ژوندو زړونو په شور کې.
سرمستي که شي محدوده،
ازادي که شي تبعیده،
ښاپیرۍ دعشق او مینې ځي سقوط کړي،
ځانگ وزرې یې ماتیږي.
دا لیلی دا شین کمیسې ناشنا پیغله،
چې هیڅوك ترې خبر نه دي، د هیچا پرې نظر نشته،
په یو وخت کې الهه د نوبهار وه.
دا خو هغه زمانه وه،
چې مستان ازاد گان ټول،
د دې سیمې واکداران وو.
بیا چې کله واهمې او بیرې ډار زړونه تسخیر کړل،
بینایي له ستر گو لاړه،
خلك واړه شو محرومه،
د دې هسې همېش ځوانې هم لرغونې رب النوعې له دیداره،
خلکو واړول مخونه له هغې نه.
د ښامار په پرستش یې کړ لاس پورې.
نوهغه بیا بهر ووته له ښاره،
هلته کښېناسته په خاورو ،
د هغې لارې په خوا کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ورك مسافر لاره يې څارله.
دا خو هغه مسافر و، زوړ اشنا دزمانو اوږدو قرنونو،
چې ترې ورك و، ځان ترې ورك و،
ورك د ورك سمندر غاړو پورې تللی،
اوس راغلی راستون شوی.
خو افسوس چې،
دلته سترګې ډېرې سترګې نابينا دي،
رڼاګانې د رښتيا د حقيقت ليدلی نشي،
ډېر غوږونه ټپ کاڼه دي،
ترانې د ژوندانه اوريدی نشي.
که نه يو نظر په کار دی د ليلی څيرې بشرې ته،
چې اسرار رموزڅرګند شي.
د هغو ابي چشمانو په درياب کې،
د ژوندون د سمندر غاړې ښکاريږي،
په هغو خندانو شونډو کې خو هلته،
د ژوندون د سپين سبا رڼا ځليږي.
خو افسوس چې بينايي په چا کې نشته،
خبر نه دی ليلی څوك ده.
بېره، ډاراو واهمې خو،
د دې خلکو په غوږونو زړونو سترګو ناشنا مهر لګولی.
ته دهغه شور ماشور له واهمې نه،
چې په شپو يې د ماڼی له تل نه اورې،
ټپ کوڼ شوی.
اوريدی نشې اواز د حقيقت نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ددې سيمې ټول خلك،
چې تل ويني ستا څېره کې،
سرې لمبې د غضب قهر ،
بېره ډار دې ړانده کړي،
ليدی نشې رڼاگانې د رښتيا د حقيقت هېڅ.
ای واکداره! زمامداره!
ستا سقوط ستا انحطاط خو زه ښه وينم،
ستا په بېره ستا په ډار کې،
ښه خبر شه!
هغه شور ما شور چې اورې ته په شپو شپو،
دا به نور لاپسې زيات شي.
سرمستان ازاد گان ټول شور شيان به،
زولنې کړي خپلې ماتې،
له بندونو زندانو نه به راووځي.
قلاگانې، حصارونه به په اور لمبه کړي.
رڼاگانې به پيدا شي،
ړندې سترگې به بينا شي.
ستر واکدار چې دا خبرې واورېدلې،
ډېر په قهر په غضب شو."
هم د زړه په ژور تل کې،
له مجنونه بېره ډار ورته پيدا شو.
مخ يې واړاوه په قهر او په غضب بيا،
ناشنا پېغلې ته يې غږ کړو، ورته يې ووې:
"اوس ته وايه چې ته څوك يې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه لیلی ځیرې ګریوانه،
کبرجنه بې پروا هلته ولاړه،
په مکیز مکیز موسکې شوه.
کوم یو دورې دورې ځای ته یې کتلې.
خوږ اواز یې،
د ماڼۍ په دهلېزونو تالارونو،
د ماڼۍ لاندې دننه تاخانو کې،
انګازې ناشنا کولې.
داسې ووې:
"زه خو زه یم!
زه لیلی یم!
زه د مینې رب النوعه، الهه د نوبهار یم.
زما ملك خو هغه ځای ،
چې سرمسته شور شیان یې واکداران دي.
دازادو مینانو زړه زما د قدم ځای دی.
زه بهر هلته له ښاره،
هر ماښام په تمه ناسته وم د خپل مسافر لاره مې څارله.
دا خو هغه مسافر و،
چې یې زه ښه پېژندلم، او هم زه یې لټولم.
خو خبر شه:
چې به وروسته پس له دې نه،
مسافر کوم په دې لار ګذر ونه کړي.
ځکه ځکه:
نه کوم لار دلته راغلې،نه له دې ځای چېرته تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لارې چې راتللې، يا له دې ځای چېرته تللې،
هغه ټولې پټې شوې ورکې شوې،
په ځوزانو په اغزو کې
لوی سيندونو رود خانو خپل مسيرونه بدل کړي.
کاروانونه اوس په دې ځای گذر نه کړي؟
ځکه دلته نه رباط شته، نه کوم ځای نه دمه ځای کوم.
څه موده به تېره نه وي،
چې داته به هم په خپل وار،
د خپل پلار او د نيکه په لار روان شې.
يوه ورځ به په دې خپل قصر او ماڼۍ کې،
ايك يواځې ژوندی سری باقي پاتې،
په يو چوپ د مړو ښار کې، په خاموشه هديره کې.
زه به ځم بيا به کښېنمه بهر هلته،
بيا به لاره زه څارمه،
چې بهار يو ځل بيا راشي،
راستانه شي سرمستان ټول،
ميںان د ازادۍ انقلابونو.

❋❋❋

فرماندار ستر چې دا هسې گفتار واورېد،
وارخطا شو، غونی زيږ زيږ، په لړزه شو.
ده گومان کړو دا خبرې عجيبه خو،
اوريدلې وې کوم ځای ده بل کوم چېرته.
مگر ږېرې واهمې ولگولی يو لوی مهر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واکدار په زړه په سترګو په غوږونو.
په غوږو کوڼ، نابينا د زړه په سترګو،
شين کميسې پيغله يې ونه پېژندله.
ورو شانته يې ووې:
دا خو دواړه ليوني دي.
زه بېرېږم،
چې د دوی له لېونتوبه کوم خطر را ولاړ نه شي،
کوم ساري لېونتوب نه وي او په نورو پورې نه شي،
د ښار خلك ټول اخته په جنون نه کړي،"
بيا يې فوري لاروی او ليلی دواړه.
وشړل له خپل درباره له حضوره.

❁ ❁ ❁

هغه پېغله شين کميس خيرې ګريوانه،
د ښاريانو په نظر دومره د پام نظر وړنه وه.
لاروي د نيمو شپو خو،
د هغې سيمې دخلکو په ذهنو کې،
لوی مقام و پيدا کړی،
دغيبي قدرت خاوند ورښکارېدلو.
فرماندار وبېرېده چې،
دغه شخص که زنداني کړي يا يې وشړي له ښاره،
کوم شورش کوم بغاوت را پيدا نه شي.
نو يې ځکه لاروی نه زنداني کړو نه يې وشاړه له ښاره.
چاره بله پاتې نه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو ځکه چې بې شماره زندانونه تاخانې وې ځمکې لاندې،
واړه واړه وو ډك شوي،
په باغیانو شورشیانو لېونیو.
د لیلی او د مجنون د پاره ځای پکې هېڅ نه و.

❁❁❁

نو دا ځکه،
هغه پیغله نازنینه بېرته ووته له ښاره،
بېرته بیا دلویې لارې په سر کښېناسته ملنګه،
د رنځو پخو اوبو منګی یې خواته.
لاروی هم لاړو لاړو غلی کښېناست،
د خپل ښار په کنډواله کې،
دعالم په تماشه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابدي څرخ

مجنون ناست و حال ويجاړی،
په خپل کونج کې،
د خپل ښار په ويرانه کې،
تماشه يې د جهان کړه.
فرمانداره دروازې کلکې تړلې د ماڼۍ وې.
هلته ناست و،
د بلورو په ائينو کې، د خپل ځان په تماشه و.

❁ ❁ ❁

لاروي به په رڼو سترګو ليدل چې،
ډېر بې شماره ماشومان به د ځوانۍ له عمره مخکې،
دعدم په لور روان شول.
ډېر ځوانان به شول رهي د جنګ ميدان ته،
يا به نه راستنېدل ټول،
يا خپل منځ کې به په جنګ په کش مکش وو،
يو د بل په وينو رنګ لاس او منګولې.
پېغلې نجونې د خپګان په نري رنځ تل رنځېدلې،
په ورو ورو خاورې کېدې ايرې کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معماران د زړه د مینې،
یا د ښار په خندکو کې ورکېدل ټول.
یا به دورې چېرته تلل پنا ه کېدل ټول.
بس یواځې لوی راهب ډېر عمر وکړو اوږد اوږد.
خو هغه هم په اخر کې په خپل وار خپل،
روح تسلیم کړه خپل څښتن ناشنا واکدار د بل جهان ته.
معبد ورو ورو شړېدلو ړنګېدلو.
ځکه هېڅ ښامار پرست بل پاتې نه و،
چې دعا او عبادت د پاره ورشي هلته لاړ شي.
په دې شانې د ښامار د لوی معبد بازار کساد شو.
شاګردان د ستر راهب هم،
چېرته لاړل کومې خواته نامعلومه.
د ښار مېنې ازادې خونې کورونه، همه واړه،
ړنګېدل خرابېدل متروکېدل ټول.
د هغې هسکې ماڼۍ په دیوالو کې،
لوی چاودونه راپیدا شول.
د مرمر ښایسته تیږې دې خوا هاخوا غورځېدلې.
اغزن بوټي شنه کېدل پرې.
په اخر کې ښایسته قصر ویرانه شوه.
باشکوهه ویرانه وه،
په یو شاړ اغزن بیابان کې دریدلې.
بې معنی هېڅ بې مفهومه.
لکه زړه دیو انسان یو ځلې ناڅاپه دربړي،
په دې نامحدود عالم کې ور دننه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې مرامه بې هدفه.
ښار د مرگ په خوب بیده شو،
چوپ خاموشه هدیره شوه، خرابه شوه.
❁❁❁

بس یواځې ژوندي پاتې هلته ناست وو:
لاروی په ویرانه کې فرماندار خپله ماڼۍ کې.
هیچا نه کاوه په دې سیمه گذر نور.
ځکه لارې دلته نه رارسیدلې.
ټولې لارې پخوانۍ زړې وې ورکې،
په ځوزانو په اغزو کې.
مست سیندونه ډك رودونه اوښتلي بله خواوو،
بدل کړي مسیرونه،
بهیدل نور نور ځایو کې.
هم اوږدو اوږدو بې شمارو کاروانونو،
نوې لارې وې موندلې،
چیرته دورې په بل ځای گشت او گذر کړو.
❁❁❁

فقط یوه ورځ، چې ماښام شو توره خړه.
راپیدا شوه له کوم ځایه،
را روانه پټه پټه غلې غلې،
یوه ناشنا زړه بوډۍ وه.
د ښار لویې دروازې ته ودریدله.
ځیره بده هم مرموزه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېو لاوه بد منظرې.
تور کمیس تور یې پرتوګ تور یې زړوکی د لوګي وو.
د ښار لویه دروازه شوله برسېره په خپل سر له خپله ځانه.
بوډۍ ننوته ښار ته.
د هغې لویې ماڼۍ په لوري لاړه.
خو ناشنا شانته بوډۍ وه.
بې له دې نه چې قدم په ځمکه کښېږدي،
د ښایسته زینو نه وختله پورته.
بې له دې نه چې کوم مکث یا توقف کړي،
د مرمرو جګو ستنو نه شوه تېره.
د ښایسته ځلانده قصر دروازې ته ودرېدله.
دې بوډۍ بیا،
نه زنځیر د دروازې وشرنګولو نه یې ور وټکولو،
ور برسیره په خپل سر شوه.
بوډۍ لاړه شوه په قصر کې دننه.
دا بوډۍ خو لاروي سره اشنا وه،
لاروي ښه پيژندله.
لاروی ښه پوهېدلو چې بوډۍ ولې راغلې.
او دا اوس په هغه قصر کې دننه،
د بوډۍ او د واکدار په منځ کې څه خبرې کېږي.
څه موده لا تېره نه وه،
چې راووتل دوی دواړه،
د ماڼۍ له کنډوالو نه، د لوی ښار له خرابو نه،
بوډۍ مخکې قهرمان تر شا روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړل لاړل کومې خواته نامعلومه...

❁❁❁

مجنون پاتې حال ویجاړی هلته ناست و،
د خپل ښار په کنډواله کې.
د عالم په تماشه و.
د زمان دفتر برسېره ورته پروت و،
له اغازه ترانجامه .
دعالم صفحه یې مخې ته خپره وه،
له ذرې تر کهکشانه.
هم ماضي او مستقبل غاړه غړۍ وو،
د هغه حال په شیبه کې.
شپې او ورځې تېرېدلې،
بیا راتلل میاشتې کلونه،
یو پربل پسې پیهمه.
هم فصلونه، موسمونه، را روان بېرته روان وو.

❁❁❁

تر څو یوه شپه یوه د شپو وه،
لاروی په کونج کې ناست و.
د افق تورې لمنې ته یې کتلې.
یو ناڅاپه ورښکاره شوې، هلته دورې،
رڼاګانې زیاتې، زیاتې، په تورتم کې ځلېدلې.
دی راپاڅېده له ځایه، په رڼا پسې روان شو.

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله شپه يې مزل وکړ.
چې سبا شو سپين سبا شو،
لاروی د يو سيند غاړې ته نږدې شو.
سيند اوار ډك بهېدلو.
د سيند غاړې وې ابادې.
چمنونه شنه پراته وو، سره ګلونه غوړيدلي.
ښکلې مېنې رنګارنګه په کې هر طرف ولاړې.
باغ او بڼ کې د مرغانو شور ماشور و.
پېغلې نجونه ښکلې ښکلې،
ښه ځلمي ښايسته ځوانان وو.
ځينې ځينې د خپل ښار په ابادۍ بوخت،
ځنې نور بيا،
د ښايسته پېغلو سره ناست په راز او نياز وو،
محبت و صفايي وه، ښکلول وو ځغلول وو.
مشران سپن ږيري ناست وو په دېره کې،
مرکې وې مشورې وې.
ماشومان د سيند په غاړه لوبېدل ټول،
شورماشور و غلغلې وې.
او بيا هغه ناشنا پېغله،
زوړ کميس خيرې ګرېوانه،
ګرځېدله مسته مسته خرامانه،
شين کميس نرى شفاف يې و په تن کې نوى نوى.
د وحشي ګلونو تاج يې پاس په سر پروت.
د بهار ورږمې په شا نې الوتله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دښتونو غرځنې ورته راتللې،
شنه لمن يې بويوله، ښکلوله.

❁ ❁ ❁

لاروي د نيمو شپو چې دا حال وليد،
بې اختياره په خندا شو.
ځکه پوه شو،
چې له سره بيا شروع شو، يو ځل بيا بيا،
زوړ داستان د قهرمان ستر پهلوان ستر،
او د ښکلې رب النوعې الهې دعشق او مينې.
يو ځل بيا له سره پيل شوه،
افسانه لويه اوږده د تور ښامار مار.

❁ ❁ ❁

---

*۱- دلبره ناسته د زړه په کور کې*
*ما لټوله په شورماشور کې*
*دا منگى و ډك د اوبو نه*
*ما ځان ستي کړو د تندې اور کې*
*د دې شعر ترجمه:*
*يار در خانه و ما گرديم جهان ميگرديم*
*آب در کـــــوزه و ما تشنه لبان ميگردم*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شلمې پېړۍ نوموتی افغان روښنفکر، شاعر، لیکوال او مبارز پوهاند سید بهاءالدین مجروح په ۱۹۸۸ د فبروري په ۱۱مه په پېښور کې ووژل شو. هغه ټیک نوي کاله وړاندې د کونړ د اسمار ولسوالۍ په یوه روحاني کورنۍ کې وزېږېد او په کونړ، کابل او فرانسې کې تر زده‌کړو وروسته یې د شرقي عرفان او حکمت او غربي فلسفې او معاصرو علومو په زده‌کړې کې د بې ساري نبوغ له کبله د خپل عصر یو ځانګړی، ممتاز او عالم شخصیت و.

د پروفیسور مجروح صراحت، روښنفکرانه ژمنتیا، او پراخه انرژي یې شخصیتي ځانګړنې وې، هغه د متعددو قشرونو سره په اړیکه کې یو اغېزناک انسان و.

«په دې اثر کې نفسیاتي ښامار له افسانوي ښامار او سیاسي ښامار سره تلمیحي ارتباط لري چې ضمني مطالب یې د اصیل مطلب ترخنګ د ارزښت وړ دي. که څوك غواړي په ځان او جهان کې د اژدها د مرګ په راز او رمز پوه شي او د "سیه" پوش قهرمان پر ضد د "سبز" پوش رب النوع عبادت ته مخه کړي، دا اثر دې په غور او دقت مطالعه کړي.»
ګل پاچا الفت شاعر او لیکوال

www.majrooh.org

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**